# اوښکي اوښکي

# سترګي

باچازاده حیرانؔ

دَ کتاب نوم : اوښکې اوښکې سترګې
دَ مصنف نوم : باچازاده حیرانؔ باجوړ ایجنسی
0344- 9813113
0300- 5334608
دَ چاپ شمېر : ۱۰۰۰
دَ چاپ ځائې : نورالله کتوزی پرېس پېښور
لیکونکے : عبدالنافع 0334-7101244
کره کتنه : مظهر علی ، میاں انور زاده ګلیارؔ ، اشنا باجوړےؔ
او نوشاد کېمورؔ
دَ چاپ کال : جنوری ۲۰۱٤
بیعه : ۲۵۰ کلداري
دَ ملاوېدو درك : یونیورستی بك ایجنسی پېښور
نافع المسلمین کتب خانه ظفر مارکیټ خار باجوړ
پاکستان بك سنټر جی ټی روډ باجوړ
مجاهد کتب خانه عنایت کلے باجوړ
سرحد کتب خانه عنایت کلے باجوړ
عزیز بك سنټر مُنده ګوز دیر
خوررونکی : باجوړ پښتو ادبی کاروان باجوړ ایجنسی

## دوه شعرونه

که هر څو ئې توده زمکه ده او رېږ دے
دَ وطن مِثال دخپلې مور دَ غېږ دے
اے رقیبه! دَ دې پورې چم دَ ښکلو
تا دېچکے غم پسر کړے او ما دېګ دے

## ټپیزه

په نوکو ځی دَ چا دَ قصده
تل دې دَ غېرو کړې مرستّه
زما په قام کښې سرپرستّه
دَ زنده باد په نعره مستّه
راشه چې چل دَ ژوندانهٔ در وښایمه

# ډالۍ

دَ خپل لښتي ځيګر نوشاد کيمورّ په نوم ، په دې هيله چې دا پُښتنه خاوره او دا پښتون اولس به دَ قلم په ژبه ژوندے ساتي.

## حیرانؔ نه حیرانیږم

شاعران ډیر حساس وی په دغه اساس ورته دَ قام سترګې وئیلے شی او بعض پوهان ورته دَ قام ژبه . غوږونه هم وائی ، نو په دې وجه چې دَ کوم قام شاعر او ادیب نهٔ وی دَ هغه قام نهٔ سترګې وی ، نهٔ غوږونه وی او نهٔ ژبه . دغه قام دَ وخت نه مخکښې مخکښې وروک شی او دَ داسې قام مثالونه زمونږ او ستاسو مخکښې دی . زهٔ په هغې بحث کول نهٔ غواړم ، دَ هر قام ژبه چې په نړۍ کښې ژوندۍ ده دَ هغې ژبې پالنه شاعر ، لیکوال ، او ادیب کوی . هر قام په نړۍ کښې پرمختګ په خپله مورنۍ ژبه کړے دے . څهٔ کاله آګاهو په دې نړۍ دَ عربۍ ژبې راج وه بیا دَ فارسۍ او اوس دَ انګریزۍ ژبې راج دے ، انګریز په نړۍ کښې په وسله پرمختګ نهٔ دے کړے بلکې رومبے ئې خپله ژبه په نورو قامونو وپیژندله او دَ هغو په درسی کتابونو کښې ئې شامله کړه نو بیا ئې په نړۍ راج راغے . شاعر په ټولنه کښې اهم کردار لوبوی . دَ شاعر هره خبره دَ کانړی کرښه وی ، شاعر دَ معاشرې هغه خوبۍ او خامۍ خپل اولس ته په ګوته کوی چې عام سړے دَ هغې نه کمزورے وی ځکه چې دَ شاعر ذهن او خیال کښې حساسیت زیات وی . ما خبره دَ خوږ ژبې شاعر سترګور نقاد باچا زاد

www.pukhto.net

حېران صېب کوله څو خبره رانه اوړده شوه . دَ حېرانؔ صېب دا دویمه شعری مجموعه ده چې زما په وړاندې دَ " اوښکې اوښکې سترګې " په نوم مخې ته پرته ده.

حېرانؔ صېب زمان دَ تنقید استاد هم دے او ډېره پوهه دَ شعر په هُنر کښې لری . ډېره لویه هستي ده . شاګرد به دَ استاذ په کتاب څهٔ تنقید او څهٔ لیکنه وکړی . خو حېرانؔ یو ډېر خوږ او خاکساره انسان دے ګنی زهٔ چرته او دَ هغهٔ په کتاب لیکنه چرته خو بیا هم دَ هغهٔ امر دے نو دَ قلم یو څو لفظونه او د کمزوری عقل یو څو خبرې دَ هغهٔ په کتاب خوش قسمتی ګڼم . دَ حېرانؔ رومبی مجموعه دَ " دار او دېدار " په نوم دومره دَ خلقو خوښه شوه چې اوس په کتب خانو کښې نایاب ده . دا دَ حېرانؔ صېب لپاره دَ ویاړ خبره ده چې پښتون اولس ئې شاعری خوښه کړه او کتاب ئې خلقو دَ سینې سره جُخت کړو . دَ حېرانؔ صېب شاعری به د تنقید نه ډکه وی خو دَ قرآن مجید نه غېر دَ ټولې نړۍ کتابونو کښې څهٔ نه څهٔ کمے موندے شی نو دَ حېرانؔ صېب په کتاب کښې به هم څهٔ نه څهٔ کمے ضرور وی.

دَ حېرانؔ صېب په کتاب " اوښکې اوښکې سترګې" کښې دَ قام ځوانانو ته نصیحت او دَ بېداری سبق ورکړے شوے دے. دَ خپل غریب اولس په بې کسۍ ئې ژړلی دی . خپل پښتون قام ته ئې دَ خودداری او دَ بېداری درس ورکړے دے.

www.pukhto.net

په خپله شاعرۍ کښې ئې د پښتو ژبې ، دود دستور ، رسم و رواج کلکه دفاع کړې ده ، او چا چې د پښتو د روایاتو لمن څیرلې ده د هغوئ د شعر په ژبه په سختو ټکو غندنه کړې ده ـ د حیرانؔ په شاعرۍ کښې د خپل اولس خپل وطن او خپلې خاورې سره بې کچه مینه برېښي.

نو اوس د حیرانؔ صیب شاعرۍ په تاسو پرېږدم چې تاسو حیرانؔ صیب له څومره مینه او داد ورکوئ.

خپلې خبرې د حیرانؔ صیب په دې دوه شعرونو راغونډوم چې:

ستا انتظار کوی د ژوند په لاره خور پروت دے
هله جانانه راشه وران مې د زړۀ کور پروت دے
په غزېدلو پښو غبر به پکښې خوب نۀ کوی
د دې وطن په خاموشۍ کښې دومره شور پروت دے

په ډېر درناوی
محمد اسماعیل سیار
صدر ، باجوړ پښتوادبی کاروان
باجوړ اېجنسی ۲ اکتوبر ۲۰۱۳ء

www.pukhto.net

کله چې باچازاده حېرانؔ ماته اوئیل چې زما په کتاب یو څو کرښې ولیکه نو زۀ حق حېران شوم چې زۀ او دَ حېرانؔ په شاعری لیکل ، خو دَ حېرانؔ صېب وېنا زما دَ پاره دَ حکم حېثیت لری ، ما انکار نۀ شو کولے .دَ ښاغلی حېرانؔ په شاعری بحث کول زما غوندې ناتجربه کار کس دَ وَس خبره نۀ ده ، ولې چې زما فن لا اوس په خړپوسو کښې دے ، دَ تګ چل ئې لا نۀ دے زده کړے ، او بیا په داسې چا لیکل چې زما استاذ دے ډېره دَ حېرانتیا خبره ده خو دَ خپلې ذمې برې کېدو دَ پاره به دَ ښاغلی حېرانؔ صېب په ژوند او ادب یو څو کرښې ولیکم .

ښاغلے په پښتو ادب کښې یو ځانګړے مقام لری ، هغه دَ ژوند په هر اړخ په بېل بېل انداز لیکل کړی او په ادب ژور نظر لری ، ښاغلے حېرانؔ دَ یو وسیع النظر شاعر سره سره یو سترګور نقاد هم دے ، زمونږ زیات ملګری چې کله هم کلام ولیکی نو دَ تولو نه اول ئې حېرانؔ صېب ته ښائی چې نظر پرې واچوی او ښاغلے حېرانؔ په ارته سینه په روڼ تندی دَ دغه ملګرو اصلاح کوی ، دلته کۀ زۀ یوه خبره وکړم تاسو به ئې بیخی راسره ونۀ منئ چې حېرانؔ صېب بې تعلیمه دے او هغه څوک خو به ئې راسره بیخی و نۀ منی چا چې حېرانؔ صېب لیدلے وی او یا ئې دَ ښاغلی شاعری آورېدلی یا کتلې وی ، ولې چې حېرانؔ صېب ناسته

www.pukhto.net

پاسته خبرې اترې ، شاعرې او په شاعرۍ کښې دَ لفظونو استعمال دَ یو ښۀ تعلیم یافته کس پشان وی ، خو سره د دې چې ښاغلی پرائمرۍ هم نۀ ده وئیلې په ادب ډېره پوهه لری۔ یوه ورځ راسره یو ملګری دَ حیرانؔ صیب په حواله خبره کوله ، هغۀ وئیل زۀ حیرانؔ نه ډېر متأثره یم او کله چې الله تعالیٰ دَ مازغو وېش کوو نو حیرانؔ صیب له ئې په فرق سره ښۀ مازغۀ ورکړی دی ، دَ دغه ملګری خبره تر ډېره حده پورې ټیک هم ده ، که تاسو دَ ښاغلی شاعرۍ وګورئ نو تاسو ته به پته ولګی چې ښاغلی سره څومره دَ لفظونو ذخیره ده او څومره په ښۀ ډول دَ دغه لفظونو استعمال او پیوندکاری کوی ۔ دَ پښتو ادب په خلاصه سینه خدمت کوی او دَ باجوړ دَ ادبی سرګرمو سرخېل دے ، کۀ داسې اوئیلے شی چې دَ باجوړ ادبی سرګرمی دَ حیرانؔ صیب نه بغېر نیمګړې دی نو بې ځایه به نۀ وی ، ښاغلے دَ باجوړ دَ ادب یو ځلانده ستورے دے

سائیلؔ ۔ صادقؔ او اباسینؔ ټیک ده پخپل ځائې دی خو
دَ باجوړ دَ ادب سترګې خو حیرانؔ ته ګوری

ښاغلی دَ شاعرۍ په ټولو صنفونو کښې خپله طبع ازمائی کړې ده لکه نظم ، هائیکو ، چاربیته ، ټپه او ټپیزه ۔ خو په مجموعی طور دَ غزل شاعر دے ، په غزل کښې ئې روایتی رنګ هم شته او په نوی رنګ کښې هم ډېرې ښې غزلې لیکی۔ هغۀ دَ

www.pukhto.net

ژوند په هر اړخ ليکل کړی او کوی ئې ، هغهٔ که د دې اولس بدحالی ده او که ناپوهی ، هغه که موجوده کرکیچن حالات دی او که دَ غاصبانو زور زياتے يا که دَ جانان ښائست ، خدوخال يا دَ وطن ښکلا . شاعری ئې په تول پوره ده خو کۀ څۀ کمے پکښې وی نو هغه چې انسان وی خامخا تړې کېدے شی ، خو دَ وياړ خبره دا ده چې يو ښې تعليمه سړے دَ خپلې ژبې او دَ ادب دَ پاره هڅه او کوشش کوی ، ښاغلے په خپل يو شعر کښې وائی :

حيرانؔ زۀ چې خپل غزل ګورمه
لکه چې ړوند سړے اخبار ګوری

دَ ښاغلی حيرانؔ صيب دَ کتاب نه يو څو شعرونه دَ نمونې په توګه تاسو ته وړاندې کوم :

دَ خپتې غم له په اوګو باندې کمرې راوړم
تا له اوس تور قميص په څۀ شی زورورې راوړم
په زمکه ناست يم تخيل مې په آسمان کښې ګرځی
دَ قام بچو له دَ الوت ښوې وزرې راوړم

ننِ دې سر وخوری په سر کښې دَ سبا اورونه مړۀ کړئ
اے دَ امن دعوېدارو دَ دنيا اورونه مړۀ کړئ
دا لمبې دَ سرو اورونو خو مړې نۀ شوې په سرو وينو
خپلې اوښکې بارانی کړئ په ژړا اورونه مړۀ کړئ

www.pukhto.net

سترے دَ زړهٔ سترې انتظاره څم
هر چرته چې څم په ورکه لاره څم
ستا شراب زما شوملو ته نۀ رسی
و ئې څکم نشه نشه په لاره څم

دَ دې اوس وخت دَ حکمران نه توراڼکه ښهٔ ده
چې دَ بچو پخوا ئې مار راځی چغار کوی
دَ نورو خلقو بچی لاړ کوم ځائې ته ورسېدهٔ
زما پښتون لاړے لا هغسې نسوار کوی

نۀ چا ته وَر نیسمه نۀ چا ته سنګر نیسمه
زهٔ خو پخپله دَ دښمن ګزار ته سر نیسمه
مۀ خفه کېږه دَ فطرت دَ ګلدرو ملوکې
تاله خو سورے ګورم خپل وجود په نمرنیسمه

هغه دې نۀ راځی هغه دې څه بانه ونیسی
زما الفت ته دې دَ خپل زړهٔ آئینه وُنیسی
زهٔ وېم څه شکر دے په دې خاوره پښتو ژوندی ده
دَ لوېتې پلَو چې مخ ته پُښتنه ونیسی

www.pukhto.net

ستا انتظار کوی دَ ژوند په لاره خور پروت دے
هله جانانه راشه وران مې دَ زړهٔ کور پروت دے
څمه ساقی دَ انتظار توان مې په زړهٔ کښې نشته
زما دَ برخې جام لا هغسې نسکور پروت دے

باقي دَ حیرانؔ صيب کتاب ستاسو په وړاندې دے نور ئې پخپله وګورئ.

په درناوی

میاں انور زاده ګلیارؔ

مشر سېکټر باجوړ پښتو ادبی کاروان

۱۲ دسمبر ۲۰۱۳ء

www.pukhto.net

بسم الله الرحمن الرحيم

## خپلي خبري

ګرانو مینه والوالسلام علیکم ! لاس په دُعا یم چي الله تعالیٰ مو په خپلو نیکو مقصدونو کښي کامیاب او کامران لره.

عزیزانو زما نوم باچا زاده حیرانؔ دے او دَ پلار نوم مي محترم یار مولا خان صیب دے ، زهٔ دَ باجوړ ایجنسي اوسېدونکے یم دَ اُتمان خېل قوم سره تعلق لرم . په اسلام ډېري کښي په ۱۹۲۹ء کښي په یوه غریبه کورني کښي زېږېدلے یم او په کال ۱۹۸۲ء کښي مي باقاعده دَ شاعري آغاز کړے دے . مینه والو! شاعري دَ خدائي ورکړه ده او په دغه برخه کښي الله تعالیٰ ما ته څهٔ لږه ډېره راپېرزو کړي ده . زما شاعري ډېره کمزوري او ساده ده.

زما په شعر و شاعري کښي به هوښیارانو ته ډېر کمی په نظر راځي ، د دي خاصه وجه دا ده چي بې تعلیمه یم ولي چه دَ لیك لوست نه ډېر لري پاتي شوے یم.

www.pukhto.net

عزیزانو! زما ړومبے کتاب " دار او دیدار " په نوم باندې چاپ دے ، ګرانو لوستونکو! زما دا دوېم کتاب " اوښکې اوښکې سترګې " چې ستاسو په لاسونو کښې دے زما دَ پښتنې سیمې پښتون او غېرت مند قام دَ یو شاعر وېنا دَ شاعر سره دَ خپل قام امانت وی ، زما شاعری هم دَ دې پښتون قام امانت دے۔

زۀ غوارم چې خپل پُښتون قام ته دَ اګاهی او پرمخ تګ دَ " دار او دیدار " کتاب نه پس " اوښکې اوښکې سترګې " یو تصویر وړاندې کړمه۔

په آخر کښې ستاسو نه دَ پښتو په دې ټپیزه اجازت اخلم

یاره چې تلے ترې ستا غم دے
خالی مې پروت دَ زړګی چَم دے
زړۀ مې په دې قلم قلم دے
دَ مینې یو تولګے عالم دے
دَ بېلتانۀ سره دَشام پورې فوځونه

په ډېر درناوی او په ډېره مینه
باچازاده حیرانؔ ،
صدر باجوړ پښتو ادبی کاروان
۱۲دسمبر ۲۰۱۳ء

www.pukhto.net

بسم الله الرحمن الرحیم

**نعت شریف**

بد بخته دی چې نۀ ځی څوک په لار دَ محمدؐ
قائل زمکه آسمان دی په کردار دَ محمدؐ
ښکاره ده چې دنیا او دین هغو خلقو ګټلے
نیولے چې چا غوږ دے په ګُفتار دَ محمدؐ
خزان به همیشه وی په ګلزار دَ هغه چا
خزان چې راولی څوک پۀ ګُلزار دَ محمدؐ
هر څوک چې د الله دَ رضا ژوند تېرول غواړی
کوی په طریقه دې هر یو کار دَ محمدؐ
خاونده په دیدن ئې هغه ټول مئین ماړۀ کړې
دیدن ته چې چا کړے انتظار دَ محمدؐ
په ورځې دَ قیامت بۀ سر دَ هغه چا بُلند وی
په دین چې کوی هر څوک افتخار دَ محمدؐ
حیرانۀ دَ دنیا کارونه پرېږدوه دنیا ته
چې دَم اخلې قدم اخله پۀ لار دَ محمدؐ

www.pukhto.net

## نعت شريف

رحمت خدائې دے، دُنيا ته رالېږلے محمدؐ
رحمت لکه باران راورېدلے محمدؐ

څوک څۀ ته معجزه وائي څوک څۀ ته کرامت
دَ فرشه نه تر عرشه رسېدلے محمدؐ

دَ خدائې دَ رحمت سوري ئې په سر نه پاتې کيږي
دَ کوم انسان دَ زړه نه چې وتلے محمدؐ

پۀ ختيه کښې اېښکلې بدبختي ځان له قيصه ده
انسانه کاڼو بوټو هُم منلے محمدؐ

چې تيتې ورته نۀ شي دَ حيا نه سترګې نۀ دي
حيرانهٔ کومو سترګو چې ليدلے محمدؐ

www.pukhto.net

7جنوری ۲۰۱۲ء

نهٔ چا ته وَر نيسمه نهٔ چا ته سنګر نيسمه
زهٔ خو په خپله دَ دښمن ګُزار ته سر نيسمه

اشنا چي لړه ترورِمې ووينې نهٔ راووځي
زهٔ وايم چي لاړ نهٔ شي لمن دَ مازيګر نيسمه

تر څو به لاړې بدلوي آخر په دې به راځي
دَ پيښې ور دے يار ته وَر دَ پېښور نيسمه

هر څوک چي پاتې کار کوي زهٔ ورته نهٔ ګورمه
ما له حياء راځي دا مخ ته چي ځادر نيسمه

مهٔ خفه کېږه دَ فطرت دَ ګلدرو ملوکې
تا له خو سورے ګورم خپل وجود په نمر نيسمه

په راتلو راغلهٔ خو چي څنګ به دَ کابله ووځي
هر مغربيى ته به دا غرونه دَ خېبر نيسمه

www.pukhto.net

يتيمانان شو دَ سر سورے ئې په سر نښته دے
پښتون په غېږ کښې کله لر او کله بر نيسمه

ما له ژوندون راکوی ما ته يو سرور رابخښی
ستا دَ ښيو څوکو ته څکه هر پرهر نيسمه

کۀ لر ګودر دَ رقيبانو په مېراث کښې راغے
په اجاره لېونی تا له بر ګودر نيسمه

يارانو زۀ ورته وېم نۀ به ترې ملا په ښکلو
دې لېونی زړۀ ته جولی په هر ډګر نيسمه

دا څوک چې ما په هره لار په هر قدم قتلوی
هاغه بې درده ته دَ هرې لارې سر نيسمه

داسې مې تېول عمر پردے پردے په خوا تېرېږی
حېرانه زۀ به دې ګرېوان يو مازيګر نيسمه

www.pukhto.net

۵ مئی ۲۰۰۹ء

چې مينه پرېږدی دَ انسان په مخ کښې نُور ورکيږی
کۀ په دار نۀ خيژمه نو غے دَ منصور ورکيږی
چې اهليت او قوميت هر چرته سر خوړلے
دَ وخت نه مخکښې مخکښې دا خلق ضرور ورکيږی
دَ ناستې پاستې سريتوب چې په سړی کښې نۀ وی
نور کلے څۀ چې په خپل کور کښې ترې مامور ورکيږی
قلم راواخلئ په سينه پورې ئې کلك ونيسئ
دَ دۀ په وجه دَ توپك غُندې ناسور ورکيږی
زۀ په تمام انسانيت لکه دَ خان خوريږم
خوښه مې نۀ ده کۀ رقيب کۀ مې ترېُور ورکيږی
داسې چې ټول عمر دَ غېږ په اشارو ګډيږی
عقل ورکيږی دَ پښتون نه به شعور ورکيږی
په خوله ئې لاس مۀ ږدئ چې وژاړی په چغو چغو
دَ لاس ګتلی چې دَ لاس نه دَ مزدور ورکيږی
لکه چې مينه دې دَ زړۀ په دُرشل پاتې نۀ شوه
حيرانۀ رو رو دَ غزل نه دې سُرور ورکيږی

www.pukhto.net

یکم اګست ۲۰۰۸

پښتون به څۀ رنګې ګرندے دَ ژوند په لاره ووځی
هَله په کار پسې پاڅیږی چې دَ کاره ووځی
دَ بل ژوندون چې قتلوی دَ خپل ژوندون دَ پاره
بنده پخپله دَ رحمت دَ کردګاره ووځی
دَ محبت خواږۀ دَ کور په دُرشل نۀ موندۀ شی
دَ خېر خبره ده چې څوك پسې دَ ښاره ووځی
نۀ په بلې ښکاره کوی سر نۀ کوڅې له راځی
ستا دروغژنې وعدې ډېرې شوې دَ شماره ووځی
دَ ښائستوۀ کاتۀ هر څوك هضمولے نۀ شی
نور راته مۀ ګوره دا زړۀ مې دَ اختیاره ووځی
چې آزغی وکرې ګلونه په بدل مۀ غواړه
نتیجه بده همېشه دَ بدکرداره ووځی
پخپله خاوره پښتنو جنګونه مۀ جوړوئ
پښتنې پېغلې په مودو به دَ سینګاره ووځی
زۀ لا ډېر ښۀ یم چې په دې حالت کښې ساه اخلمه
مرغۍ چې بنده په پنجره شی دَ چغاره ووځی

www.pukhto.net

کۀ بانګیان نۀ جنګوی سپی خو خامخا جنګوی
زما دَ قام زلمی به څنګه دَ روزګاره ووځی
نۀ ئې دَ سر سورے په سر شته نۀ ئې ځائې دَ دمې
څکه زړۀ سترې قافلې دَ قندهاره ووځی
دَ مېخانې په ګټ چې راورې ښکرې مۀ شوروه
مۀ کوه مۀ کوه رندان به دَ خماره ووځی
دَ خوشحالۍ نه به په خپل وجود کښې ځائې نۀ شمه
دَ محبت ټکے چې ستا دَ خولې نه یاره ووځی
دَ اعتماد ټکے چې لاندې کړی دَ نورو ټکو
حېرانه ټول عمر سرے دَ افتخاره ووځی

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

۲۹ اکتوبر ۲۰۰۸ء

ستا انتظار کوی دَ ژوند په لاره خور پروت دے
هله جانانه راشه وران مې دَ زړهٔ کور پروت دے

داسې چې بیا راته دَ زړهٔ دَ تله او نهٔ ګوری
لمبه لمبه دې کړم په سترګو کښې دې اور پروت دے

دَ نن مَغُله چې په دې خاوره قدم کښېنهٔ ږدې
دې کښې دننه دَ پُښتون دَ متو زور پروت دے

څمه ساقی دَ انتظار توان مې په زړهٔ کښې نشته
زما دَ برخې جام لا هغسې نسکور پروت دے

سر چې ښکاره نهٔ کړې دَ کور دَ دېوالګی دَ پاسه
دلته دَ هر یو دېوالګی په سر ښېغور پروت دے

په غزېدلو ښېو غبر به پکښې خوب نهٔ کوی
دَ دې وطن په خاموشۍ کښې دومره شور پروت دے

www.pukhto.net

خدایه دَ تشې خپلواکۍ په نامه څۀ واخلمه
انغرے سوړ دے تنُور سوړ دے کنګال شکور پروت دے

ژوند ته مې نۀ پرېږدی مرګی له په خندا ورځمه
په هر طرف راته دوه خولے سرېخور پروت دے

دَ پښتنو دَ دود دستور ننبې به نۀ وروکوؤ
کۀ دَ چا تُوره کۀ دَ چا په کور کښې لور پروت دے

حیرانؔ تېر شو پرې سارۀ سپېرۀ سپېرۀ بادونه
پښتون احساس مې په خپل ځائې لکه کهمور پروت دے

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

۱۵ اپرېل ۲۰۱۱

کۀ دَ مودو مودو نه ورك په زمانه شی سړے
چې دَ جنون غېږې له راشی افسانه شی سړے

دَ پاك نظر خاوندان کله آئينې ته ګوری
چې پاك نظر لرې پخپله آئينه شی سړے

زما دَ ورانې باندې ژوند به ورته نۀ یادیږی
چې ستا دَ ښار په رنګينو کښې دېوانه شی سړے

مالك مکان چې ئې دَ ځان په قيمت نۀ پوهيږی
څۀ کۀ په داسې شيش محل کښې ګُل دانه شی سړے

پټ محبت دَ زړۀ په کور کښې پټولے نۀ شی
چې دَ کم ظرفو هر نظر ته نشانه شی سړے

پُښتون لالیه پُښتون ځان په دنیا اوپېژنه
چې دَ پُښتون په نامه ياد شی نارينه شی سړے

www.pukhto.net

دَ یارانې مزے په خپله په خپل لاس غوځوی
دلته چې لږ غُندې خبر په یارانه شی سرے

دَ دنیا خلق ئې بیا چرته په نظر کښې راځی
دَ مستو سترګو په نظر چې مستانه شی سرے

ژبه ئې ګونګه شه ده نور چې پرې هېڅ ونۀ وائی
چې خاموش پاتې دَ وطن په ترانه شی سرے

دَ خپل کاله خوندونه بیا دَ شوندو سَر له راشی
چې په پردی کاله کښې کله همخانه شی سرے

حیرانؔ داسې په اباد کلی کښې پاتې شومه
لکه چې پاتې یک تنها په ویرانه شی سرے

www.pukhto.net

یکم جنوری ۲۰۰۵ء

ښکلې که په زر دی که په زور دی خو راغلی دی
ناست که مې ولاړ د زړهٔ په کور دی خو راغلی دی

ما خو وې چې سپین لکه دا ستا دَ مخ په رنګ به وی
ستا یادونه ستا دَ زړهٔ نه تور دی خو راغلی دی

چا چې زما قام او دا وطن اباد ول غوښتل
هاغه خلق نور وو او دا نور دی خو راغلی دی

پرانیځه رندانو ته ساقی دَ مېکدې لارې
ستا جامونه هسې هم نسکور دی خو راغلی دی

تور تور وربلونه دَ یو ګل په ارمان سپین نهٔ شو؟
دا پسرلی واړه دَ پېغور دی خو راغلی دی

چا چې دَ خوشحال او ابدالی پَل ته کتلی دی
تلی که په هر طرف سرتور دی خو راغلی دی

www.pukhto.net

دوی کله زمونږه په رده کښې لګېدلی دی
تول عمر کاږهٔ لکه دَ لور دی خو راغلی دی

ځار شمه دَ خپلو پتنګ څُویه مئینانو نه
سوې که په هر قدم په اُور دی خو راغلی دی

څوک چې په یوه نمرې ډوډۍ پسې ورک شوی وو
هاغه مسافر مړی دَ ګور دی خو راغلی دی

زهٔ حیرانؔ خپل ژوبل آرمانونو ته سلام کوم
وتی کهٔ دَ ژوند دَ تنګ تکور دی خو راغلی دی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

۱۰ اکتوبر ۲۰۱۱ء

دردمند زړۀ چې دَ بې دردو ثنا خوان شی
کۀ وی کلک لکه فولاد ورك پکښې توان شی
چې په هر کار کښې ناکام شی نو تاوان شی
چې په مینه کښې ناکام شی نو کامران شی
په اُلفت کښې دَ مزې خبره دا ده
چې دا شکلے هم رقیب شی هم جانان شی
زړۀ مې وران کړه خو په داسې حال ئې پرېږده
چې دا خور وور کائینات پکښې ودان شی
دَ منزل په لور به ورسو وخت شته دے
دَ غفلت دَ خوبه پورته چې شاروان شی
اے بېلتون زېلو مۀ مایوسه کېږئ
محبت چې څومره ګران شی نو اسان شی
دَ دې وخت دې رقابت دَ ژونده پرستو
چې دَ یار کوڅې ته ورسو هجران شی
دَ ارمان خلی ته مۀ ژاړه ارمانه
چې ارمان نیمګړے پاتې شی ارمان شی

www.pukhto.net

څوك ئې نه پرېږدی په یو دستور ګل چین ته
چې خروب دَ زړۀ په وینو ګلستان شی
ستا بنیو چې دَ مېخوښو عادت خپل کړو
خدائې دې وکړی چې زما سینه بتان شی
مناسب نۀ ده چې ګل دې په وربل بږدم
زۀ وېم لږ کۀ مې دا زړۀ په اطمینان شی
یا به زَر خورمه دَ مینې یابه سَر خورم
دا متل دے چې تل ګټه په تاوان شی
ستمګره اشنا داسې ستمګر شه
چې جهان ګوته په خوله درته حیرانؔ شی

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۱۰ اکتوبر ۲۰۱۱ء

زۀ داسې نۀ وېم چې دې روغ يا لېونے ورسی
دَ ښکلو چم ته چې په هر ډول سړے ورسی

جنګی سالاره نور ئې مۀ وژنه دَ مور په غېږ کښې
چې مې خرپوڅو ته يو خرپړ ګلالے ورسی

ستا تورو څپو له دَ کوم ځائې نه ګلونه راوړم
خزان ئې نۀ پرېږدی چې ګُل ته پسرلے ورسی

زۀ په دې خپل وطن کښې دومره حصه نۀ لرمه
چې په حصه کښې مې دَ ډکې خانګې ورسی

دا څۀ چې کېږی دا دې يو پښتون ته چل جوړ دے
په دې قيصه دې کابلے او پېښورے ورسی

چرته چې يو ښکلے په ناز او اداء اوينمه
دَ يار کوڅې ته مې دَ خيال اور اورګے ورسی

www.pukhto.net

دَ نن وکداره په دي خاوره تالان مهٔ کړوه
خدائي شته که ستا پکښي دَ خاوري نال بکے ورسی

هغه چي هر چرته رڼا ووینی سر پتیوی
څنګه به نمر ته دَ ماښام ښاپېرکے ورسی

په خونړو لارو مي ورغے زړهٔ سترے ارمان
یقین مي نه دے چي منزل ته به ژوندے ورسی

حیرانهٔ توري توري شپي تر منځه ودرېدلي
دَ ژوند سحر ته به مي څهٔ مازیګرے ورسی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

۲ اپرېل ۲۰۰۵ء

چې ستا له دره مې نظر پاشیږي
والله چې عقل مې دَ سر پاشیږي

اول خو نهٔ راځې چې راشې کله
مرور کښېنې مرور پاشیږي

اشنا چې ستا بې وفائی ګورمه
دَ هر يو ښکلي مې باور پاشیږي

چې سُور منګے په سر ګودر له راشي
تول کاڼي بوټي دَ ګُودر پاشیږي

غريبه هسې چغې څهٔ له وهې
خلق په غږ دَ زورور پاشیږي

دلته انسان له خدائې اختيار ورکړے
کهٔ څوک بدتر او کهٔ بهتر پاشیږي

www.pukhto.net

رقیبه خوله محفل کښې مۀ راچوه
هرې خبرې نه دې شر پاڅیږی

دا بیا دَ چا دَ زړګی کور ورانوی
چې دې بانهٔ لښکر لښکر پاڅیږی

حیرانؔ څی به غلامی په تښته
دَ آزادۍ دَ شپې سحر پاڅیږی

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۲۷ اپرېل ۲۰۱۲ء

په خپلو ترمو اوښکو سوے دے اوبۀ پُوکی
چې په شودو وسوځی تول عمر ماستۀ پوکی
هسې اغیار بانه کوی خان له بانې جوړوی
پُښتون پخپله خپل عزت دَ خپل کاله پوکی
دَ اور بڅري به ئې خامخا ګرېوان ته رسی
نادان سرے دے په سیلۍ کښې بل سکارۀ پوکی
لکه چې بیا ئې په خوړو کښې دَ ترخو کمے دے
اشنا لګیا دے دَ خوږو په ځائې تراخۀ پوکی
دَ تن دَ ښکلو عقیدې راته بدل ښکاریږی
کله پرې سترګې توروی کله رانجۀ پوکی
دا ورته چا وې چې پردی جنګونه کور له راوړئ
اوس دې دَ خپل کاله درشلې پُښتانۀ پوکی
حیرانؔ زۀ دَ خپل اشنا په دوه رنګۍ پوهېږم
خپل خیرن مخ ته ئې خیال نۀ دے زما زړۀ پوکی

www.pukhto.net

خلقه نۀ زَر غواړي نۀ زور غواړي
مینه دَ زړه په کور کښې کور غواړي
خدایه هغه خلق خوشحاله ساتې
چې خوشحالۍ په هر یو لور غواړي
دوه لوئې قامونه ډېر اسان جنګیږي
خو یو وړوکے چوغل خور غواړي
په لباسې خندا دې نۀ رغیږي
زړۀ دَ اُلفت ګرم تکور غواړي
دا مازیګر به یو په دوه ښائسته شي
دَ منګو کړنګ دَ بنګړو شور غواړي
ما له نې زور دَ زړۀ اوبۀ اوبۀ کړو
ربتیا چې مینه دَ زړۀ زور غواړي
نن ورته خاندمه په ډک محفل کښې
حیرانؔ چې داغ په لمن تور غواړي

www.pukhto.net

دلته چې هر څوک دې کوڅې له راځي
دَ خپلې مینې تماشې له راځي

دَ وخت سیلۍ ئې بله چرته پرېږدي
پتنګ کۀ سوځي خو ډیوې له راځي

زۀ دې نامه په خطاء هُم نۀ اخلم
خو په خطاء کښې راله خولې له راځي

سَر ورکوی خو سنګر نۀ ورکوي
چې ملالۍ چا له ټپې له راځي

چا چې دَ مینې په نوم قتل کړمه
اوس به مې هغه جنازې له راځي

مونږه په خپلو کښې په خپلو وژنې
دا مغربي سرکوزي دې له راځي

www.pukhto.net

چیناره سورے دي ور وغزوه
نمر به ئې وسیزی چیني له راځی

دَ تبول ګاونډ نه بالختونه راوړم
نن مې لالے دلته غرمې له راځی

خلقو دَ یو بل بې قدری مهٔ کوئ
انسانیت یوې پېسې له راځی

تاسو خالی جامونه وکړنګوئ
شېخ به په خپله مېکدې له راځی

حیرانؔه تهٔ ورپسې شاړې ګوري
ښکلی په تا پسې حُجرې له راځی

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

۳ مارچ ۲۰۱۲ء

راپورې وریسې دَ ژوندانهٔ دَ کاله ورشي
بنده چې ډېر هوښیار شي دَ کم عقلونه بدتر شي

دا تکه توره شپه دَ رقابت دې خدائې سحر کړي
رقیب به مې رقیب شي او دلبر به مې دلبر شي

زهٔ نهٔ ځم خو په زور مې دَ اشنا کوځې له بوځي
دا عشق راباندې کله کله دومره زورور شي

خدائے شته که دَ اغیارو په ورانۍ مې پېرزو کېږي
کابل دې خدائے اباد کړي پېښور به پېښور شي

پردې زورونه تول عُمر دَ خپلو نه اوباسي
ظالم سړے چې کله په خپل قام کښې متور شي

که مونږه په دې خپلو لاسو پرې نهٔ کړهٔ یارانو
چینار به مو چینار شي او نښتر به مو نښتر شي

www.pukhto.net

سړے دَ سړیتوب مُقام ته هله ورسیږی
سړے چې دَ انا دَ دائرې نه رابهر شی

دَ پورې چم کولاله کۀ دې بیا پجه توده کړه
چینه به مې چینه وی او ګُودر به مې ګُودر شی

یارانو نن یو داسې نغمه ګر غزل لیکمه
راتول چې پښتانۀ ئې اوریدو ته لر او بر شی

په دار مې کړه اشنا چې قیصه ورسیږی سر ته
چې ستا دا بې پتی او زما مینه سر په سر شی

حیرانۀ دَ دې دور په رده کښې نۀ لګیږی
غریب سړے که هر څو تمامی هُنر هُنر شی

www.pukhto.net

دا په ټول جهان چې خور الواني رنګ دے
چا په کور دَ مسلمان جوړ کړے جنګ دے

دَ حالاتو تسلسل په تسلي کړم
وائي ټبنتي به او رنګ دے کۀ پېرنګ دے

دا اغيار چې په موږ سرې سترګې راخيژي
دَ خوشحال تورې رښتيا نيولے زنګ دے

خلق ټول دَ بازدرې بلوته اوخوت
دُرخو پاځه دَ آدم دَ رباب ټنګ دے

کۀ اسلام دے که پُښتو ده دواړه يو دي
چې پُښتون دے په اسلام ئې کړے تنګ دے

نۀ چا خپله دا دنيا کړه نۀ خپليږي
کۀ بادشاه دے خو مثال ئې دَ ملنګ دے

Pukhto.Net
www.pukhto.net

هغه تېغ دَ شېرعالم په مرۍ کېږدئ
چې کوم تېغ دَ مېمونې په وېنو رنګ دے

ډېر په خیال باندې قدم ږدئ مئینانو
دَ دې وخت رقیب څۀ بل قسم بدرنګ دے

دَ ګودر غاړه به هغه خلق نیسی
آوربدلے چې چا ستا دَ بنګړو شرنګ دے

یوځائې سوزو به دَ وخت په تورو شپو کښې
ستا حېرانؔ خو شمعې ستا دَ مخ پتنګ دے

www.pukhto.net

۷ مارچ ۲۰۱۲ء

دا فېصله يارانو ښکله دَ نصيب اومنم
اور او اوبۀ يو بل منی چې زۀ رقيب اومنم
زاغ چې ګلشن له راځی زۀ دَ دې په حق کښې نۀ يم
زۀ به بورا منمه زۀ به عندليب اومنم
چې دَ قلم په زور دې قام راپاڅولے نۀ دے
ښکلے دې شاعر اومنم ښکله دې اديب اومنم
نۀ ما ته وائې چې ته راشه نۀ په خپله راځی
دا بې دستوره فېصله ښکلے دَ حبيب اومنم
زما دَ قام سرمايه دار نن په شپېلئ کښې وُوې
دا غريب څۀ شے دے زۀ څۀ شے دَ غريب اومنم
زما دَ زړۀ دَ قلارۍ په چل هغه پوهيږی
نۀ به طبيب اومنم نۀ به دَ طبيب اومنم
ستا دَ پښتون غزل نه ځار شمه حېرانَه زما
سرے حېران شی چې دَ هر ټکی ترتيب اومنم

www.pukhto.net

۲ جون ۲۰۱۲ء

ستا دَ انتظار سوے بل مې شۀ په سترګو کښې
ستا دَ لاس په ګُل پسې ګُل مې شۀ په سترګو کښې
زۀ به ولې نۀ سوزم زۀ به ولې نۀ مرمه
ژوند دَ اطمینان څۀ وو زغل مې شۀ په سترګو کښې
ستا دَ راتلو لارې ته ګرانه نور کتے نۀ شم
هغه دَ راتلو تکے دَل مې شۀ په سترګو کښې
ما نه ئې زما زړګے پټ په پټه یوړلو
هغه زما غل اشنا غل مې شۀ په سترګو کښې
دا دَ رقابت دا زور دومره زورور نۀ وو
راغے چې مې سترګو له شل مې شۀ په سترګو کښې
ما چې ورته نۀ کتل ما ته ئې راوکتل
راز دَ یار په زړۀ کښې پټ حل مې شۀ په سترګو کښې
نن ئې راته ډېر په ناز وکتل حیرانؔ حیران
هغه بې وفا ښکلے مل مې شۀ په سترګو کښې

www.pukhto.net

۲۵ فروری ۲۰۰۷ء

په دې لارو کښې پلونه چې د ښکلو پاتې نۀ شو
زمونږ د ښکلو چم ته هېڅ د تللو پاتې نۀ شو

زۀ چا له غاړه ورکړمه د چا نه غاړه واخلم
په ځان پسې مې څوک د رانیولو پاتې نۀ شو

پردی خو بس پردی وو د پردو په لاره لاړۀ
دا خپل مې هُم په شان لکه د خپلو پاتې نۀ شو

تاریخ چې د پښتو او پښتنو چا ځلولے
تُوغونه د هغو خلقو په څلو پاتې نۀ شو

دستور چې د رباب او د منګی د منځه لاړۀ
خوندونه په حُجرو کښې مې د کلو پاتې نۀ شو

مغرب چې څۀ کول هغۀ ئې ټول په مشرق وکړۀ
زما په خیال پرې نور څۀ د کولو پاتې نۀ شو

www.pukhto.net

په کومه خوله دَ دې وطن نامه واخلمه خدايه
خوارۀ پکښې دَ زړۀ دَ خوږېدلو پاتې نۀ شو

بې وخته مېخوارانو په جامونو تالان ګډ کړو
يارانو مېکده کښې هېڅ دَ څکلو پاتې نۀ شو

حيرانهٔ هر پښتون دَ پښتونخوا دَ باغ مالی دے
دا څوک وائی چې څوک ئې دَ پاللو پاتې نۀ شو

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

۱۰ نومبر ۲۰۱۱ء

احمق نۀ دے؟ چې جهان ته ګوته نیسی
هوښیاران همیشه ځان ته ګوته نیسی
دا په تا مئین ښېرې او کۀ دُعا کړی
چې ماښام شی نو اسمان ته ګوته نیسی
دا دَ دې خلقو دَ لاسه تار په تار دے
دا چې څوك زما ګرېوان ته ګوته نیسی
دا کوته خو دَ اول نه راسوری وه
دا پاګل سړے باران ته ګوته نیسی
په نړی کښې اور غېردینو لګولے
څوك بدبخته مسلمان ته ګوته نیسی
په دې خوار سړی ازمېښت نۀ دے راغلے
چې دَ کلی عیاش خان ته ګوته نیسی
دا ئې خوښ نۀ دے که یو رانه بل غواړی
په خوله نۀ وائی پېزوان ته ګوته نیسی
ستا دَ تورو سترګو تور وریورې شوے
څکه ټول خلق حیرانؔ ته ګوته نیسی

www.pukhto.net

بيا دې کړو راوېښ راته په څۀ زړګے
دا دَ ماشوم توب په خوب اُودۀ زړګے

داسې څۀ په چل هُنر دې وړے دے
وو لکه سينه کښې چې مې نۀ زړګے

ياره چې نامه دې څوک په خوله واخلی
ايسته راوځی رانه په خولۀ زړګے

ورك شۀ بې قابو په ښائستونو کښې
ډېر که په قابو کښې مې ساتۀ زړګے

هاغه پورې چم ته چا بللے دے
تېښته کوی دے رانه په تلۀ زړګے

مۀ مې تپوسه چې تۀ راغلے نې
اوس مې دَ هغۀ نۀ دے لږ ښۀ زړګے

www.pukhto.net

دومره پهٔ بلا ښکلو مښېن یمه
زهٔ وېم کهٔ زما دی لس اتهٔ زړګے

دا هُم یو اُلفت دے څوک به څهٔ وائی
ږدی چې مې دَ اور په تنارهٔ زړګے

غږ راته حیرانهٔ په خوله نهٔ کوی
وری رانه دَ سترګو په کاتهٔ زړګے

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۲۱ دسمبر ۲۰۱۲ء

راشه چې دېره دَ زړهٔ په چم دې کړم
اے دَ اشنا غمه چې په غم دې کړم

په بُت کدې تا آبادول غواړم
زهٔ وایم چې مېنا دې کړم حرم دې کړم

دا به راته نهٔ وائې چې ګرانه یم
اے دَ جُنون لارې یو قدم دې کړم

دېرې بې ګناه وینې دې توئې کړلې
ښهٔ نهٔ ده تورېکه چې قلم دې کړم

بیا چې خپل مشېن په کانړو نهٔ ولې
په ښکلیه ودرېږه چې دَم دې کړم

نهٔ خیژی دَ یو لاسه پرق نهٔ خیژی
یاره ما دُرخو کړه چې آدم دې کړم

www.pukhto.net

بیا چې چا ته نهٔ نیسی دَ لارې سَر
سَم به شې رقیبه او کهٔ سم دې کړم

تول انسانیت چې پکښې ژوند کوی
اے زړګیه کلے او کهٔ چم دې کړم

ړدم دې په وربل کښې خو حیرانؔ یم
ګرانه چې ګلاب او کهٔ شرشم دې کړم

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۲ نومبر ۲۰۱۱ء

ډېر څۀ مې کتلی دی او ډېر څۀ مې لوستلی دی
ډېر څۀ مې دَ سترګو په ککو کښې رانغختلی دی

تۀ دَ سیند په هاغه غاړه پاتې زۀ په دې شومه
هاغه دَ درتلو کشتۍ مې تولې سوځولی دی

چا چې درله زړونو کښې دَ زړۀ په مینه ځائې درکړو
ولې هغه زړونه دې په سرو لمبو نیولی دی

بیا دَ نادیدۀ دَ کورونو په خوا راغلمه
کاڼي ئې ترلی دی او سپی ئې راشړلی دی

مۀ درومه جانانه خامخا بېګاله پاتې شه
ستا دَ برخې وړۀ مې اوس په ورو کښې اغړلی دی

تۀ خه لارویه دلته زۀ به ښپه نیولے شم
دا زما دَ چم دا ښکلی ما ته ښپه نیولی دی

www.pukhto.net

هسې خلق وائی چې په زر او په زور نۀ کیږی
نن صبا خو هر چرته دَ زر او دَ زور کلی دی

ما ته دې په دې باب کښې یواځې ګوته نۀ نیسی
ښکلو ته خو ډېر خلق په لارو ودرېدلی دی

تۀ اُوایه ستا په مُحبت کښې بې وفا اشنا
چا غر سُورے کړے دے او څوك دار ته ختلی دی

څار دې شم دَ خولې نه ساقی جانه شراب نۀ څکمه
نن مې دَ جانان دَ کوره تېنګې شوملې څکلی دی

څنګ به ئې حېرانۀ تشبیهات په ستورو ورکړمه
ښکلی خو په دې خبره ښکلی دی چې ښکلی دی

www.pukhto.net

۲۲ جولائی ۲۰۱۱ء

ستا يارانې له ستا په چم کښې يارانه ګورمه
معنې له تکے ګورم تکی له معنیٰ ګورمه

تۀ څه دَ برېڼ په چينار کښې ورته تال واچوه
زۀ دريسې يمه درتلو له څۀ بانه ګورمه

دې مغربی ناتار په شتۀ کور کښې بې کوره کړله
خدايه اوس چرته به سرتوره پښتنه ګورمه

پردے ګاونډ دے تا ته څنګه ښه نيولے شمه
خان له ډېره ګورمه خان له به څنۀ ګورمه

هلته بمونه راخلاصيږی ښهنور له نۀ څو
بچيه چرته به دې سر چرته تنه ګورمه

زۀ چې څۀ اخلم تله نۀ ګورم سړی ته ګورم
زۀ دَ چا سپکه تله نۀ دَ چا درنه ګورمه

www.pukhto.net

پښتون فطرته ګرېوانونه ئې لامۀ پرېږدوه
دَ تور او سپین مخ ته ئې نیسم آئینه ګورمه

دا زما خپله کم بختي ده چې خپل عیب نۀ وینم
په غړېدلو سترګو نوره زمانه ګورمه

دَ جمات ور ته دَ جمات خلکو تالې وهلی
خدایا ستا یاد له چې ویرانۀ ویرانه ګورمه

حیرانؔه ما چې دَ نړۍ په صف کښې سم ودروی
داسې اتل ګورمه داسې نارینه ګورمه

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

ډېرې بې کاره شوې دَ کار غوښې
وسوې چې ستا په انتظار غوښې

څوک چې دَ ژوند مرام ته ځان رسوی
شیندی دَ ژوند په هره لار غوښې

چا چې اول غوښې دَ ځان خوړلی
خوری دې هغه خلق دَ ښکار غوښې

دَ هغو غوښې دی په اور وسوزی
چا چې کابل له کړې تارتار غوښې

دواړه په یو کټوی کښې نهٔ پخیږی
چرته زما او دَ دلدار غوښې

کهٔ پلار پښتم دَ ځوئې نه سَر تکوی
کهٔ ځوئې پښتمه خوری دَ پلار غوښې

Pukhto.Net
www.pukhto.net

چا چې له کبره هم چرګان نۀ خوړل
اوس هاغه خلق خوری دَ مار غوښې

مونږه اُلفت دَ زړۀ په غوښو پالو
په سړی نۀ خورو دَ بازار غوښې

یارانو داسې زمانه راغلې
یار په لمبو نیسی دَ یار غوښې

حیرانہؔ څۀ به محبت ژوندے شی
انکار خوړلی دَ اقرار غوښې

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۱۵ جولائی ۲۰۱۱ء

وریسې مرم چې مې اشنا دَ کور دَ ورۀ نه اوځی
وخته دا ښکلی خلق هُم دَ چا دَ زړۀ نه اوځی
دَ اعتماد رسۍ چې غوڅې کړی په خپلو لاسو
په ژوندانۀ باندې سرے دَ ژوندانۀ نه اوځی
ستا دَ جفا غشی مې مات شو دَ زړګی په سَر کښې
جانانه اوس به دِ اُلفت په تبرۀ ستنۀ اوځی
خېته دې خپله ده دوډۍ که دَ خرې ماما ده
په دې خوراک څۀ چې بنده پرې دَ خوارۀ نه اوځی
دَ دې نه زیاتې هم زما په زړۀ لمبې بلوې
څنګ چې دِ اُور بلې لمبې دَ تنارۀ نه اوځی
بشر دوستی او زړۀ دوستی ته خېرآباد مۀ وایه
پُښتون به پاتې شی؟ چې دا دَ پښتانۀ نه اوځی
توله ربېږم زۀ وېم خدایه چې به کله راځی
چې مسافر لالے مې کله دَ کالۀ نه اوځی
حېرانۀ شپون پرې دا پردی پټی پۀ قصد وخوړل
ګنی په خپله رمه چرته دَ شپالۀ نه اوځی

www.pukhto.net

۲۹ جولائی ۲۰۰۵ء

نۀ ځان ته دې وۀ پام نۀ دې وۀ پام په آئینه کښې
دا چا ته دې کتل دَ احترام په آئینه کښې

چې تورې تورې زُلفې دې په سپین مخ راخورې کړې
سحر دې رانه پټ کړو دَ ماښام په آئینه کښې

اشنا ستا دَ کوځې نه چې داتېږ سرونه لاړۀ
لیدلے رقیبانو خپل انجام په آئینه کښې

هغه خلق دَ شپې دَ ښاپېرک په دودله ګرځي
دَ چا نه چې ورك شوے خپل مرام په آئینه کښې

ښېرې اخلی دَ زړونو که دُعا اخلی دَ زړونو
سینګار چې جوړوی په سر دَ بام په آئینه کښې

دَ وخت دَ نظر بازو نظرونه خیرن شوی
کوږ به دواړه یو بل ته سلام په آئینه کښې

www.pukhto.net

دَ داسې ژوندانۀ دَ تشبیهاتو څۀ معنیٰ وی
سړے چې لیدے نۀ شی خپل مقام په آئینه کښې

کۀ کانې بیا په ځان پسې تړی خو نۀ درنیږی
یو ځله چې ثوک سپک شی دَ خپل قام په آئینه کښې

لا هغسې تر دې وخته قدم په زمکه نۀ ږدی
چې کله نه کتلی ګل اندام په آئینه کښې

رندان چې څکی جامونه میخانې له پسې لاړ شی
حیرانؔ لیونے شوے ګوری جام په آئینه کښې

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

یکم جولائی ۲۰۱۱ء

تهٔ راشه تا له به دَ خدائې نه پسرلی غواړمه
بې لتا چا له ګُل ورین مازیګری غواړمه

توله نړۍ ورانیږي ټول انسانیت په جنګ دے
دَ امن غېږ له به دَ کوم قام نه سرې غواړمه

ما ته دَ غېرو د بې سیرو خېرې مهٔ خلوئ
زهٔ په دې خاوره دَ دې خاورې لېونی غواړمه

ځان چې زما نه مخکښې وژنی پرېږده مړ مې دې کړی
زهٔ به دَ داسې چا نه څنګه زندګی غواړمه

دا چې په ټول خېبر کښې ګرځمه کُوڅه په کُوڅه
ستا نظر ماتی له جانانه سپېلنی غواړمه

ما په دې نهٔ زوری چې ما دَ چا کنډر کړے دے
ما په دې زوری خپلواکی او آزادی غواړمه

www.pukhto.net

خان ته به وس ګورے پښتون دَ پښتونخوا نهٔ وائي
تا خو به وي چي پښتنو له ببخ کندی غوارمه

بیا مي دَ تېر وخت ماشوم توب په زړهٔ راووربدهٔ
دَ دوکاندار ماما نه قرض بیلوری غوارمه

حیرانؔ زهٔ چي لاس اوچت کړم دَ الله په در کښي
دَ دي وطن دَ دښمنانو بربادی غوارمه

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

تر څو به خدايه داسې حادثو ته غاړې وځم
چې خوزم دَ پتنګ غُنډې لمبو ته غاړې وځم

اشنا ستا دَ اُلفت جنون تر دې یم رسولے
نامه چې دې څوک یاده کړی هغو ته غاړې وځم

پُښتون له دَ کابل چې په کابل کښې غاړه ورکړم
زۀ وېم پۀ پېښور کښې پېښورو ته غاړې وځم

قدم چې مې دَ ژوند په لار کښې واخستو ژوندے شوم
آرزو مې دَ ګُل مینه ده ازغو ته غاړې وځم

منزل ته که دَ مینې رسېدلے یم خو بیا هم
څۀ چل راباندې کېږی اندېښنو ته غاړې وځم

زۀ څۀ خبر ووم ستا دَ بې پتی او بې ننګی نه
ما نۀ وې چې به داسې بې پُښتو ته غاړې وځم

www.pukhto.net

چې ستا په سمتونو مې وَس نۀ رسی لالیه
دې خپلو سترو سترو اسوېلو ته غاړې اوځم

دیدن خان له خبره ده چې یاد ئې کله راشی
دَ قېس غُندې دَ یار دَ کوڅې سپو ته غاړې اوځم

رقیبه غاړه مۀ راکوه زړۀ مې درنه تور دے
زۀ ټول عمر سړی ګورم سړو ته غاړې اوځم

په خپله لېونے نۀ شومه دا مې کم بختی ده
حیرانۀ نور څو خدائېګو لېونو ته غاړې اوځم

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

۱۴ فروري ۲۰۱۱ء

درد دَ خپل زړګی او دَ یار غم مې راخپل کړے دے
وخته محبت په هر قدم مې راخپل کړے دے

مۀ کوه ربباره دَ اشنا دَ تلو راتلو تپوس
هاغه ورځې تلی دی تول چم مې راخپل کړے دے

زۀ دَ یو پُښتون دَ طبیعت خبرې نۀ لیکم
تول انسانیت ستائم قلم مې راخپل کړے دے

زۀ خو باجوړ دَ ګلابونو دعوې نۀ کوم
اپښے مې په څنو کښې شرشم مې راخپل کړے دے

تول دَ وخت یاران وو چې وخت راغے یو په وخت نۀ وو
هسې به مې وې چې تول عالم مې راخپل کړے دے

ستا یاد مې دَ زړۀ دَ وران کنډر نه دَ وتو نۀ دے
نور به درته څۀ وبمه بنۀ سم مې راخپل کړے دے

www.pukhto.net

ما نه ئې په خپله هم خطاء دَ مینې لاره کړه
داسې یو بې مینې بنیادم مې راخپل کړے دے

یو غم مې لا وی دَ زړۀ په کور چې پسې بل راشی
سم افغانستان یمه ماتم مې راخپل کړے دے

کرشمه په یو ښښه حیرانهٔ په تول کلی کښې
نۀ چې خپلېدو هغه صنم مې راخپل کړے دے

www.pukhto.net

۲ مئی ۲۰۰۷ء

ما حول ستا دَ رنګونو مې په ځان پسې تړی
نيمګړے هر ارمان مې په ارمان پسې تړی

خاونده د. دنيا واګې هغو خلقو له ورکړې
رشته چې څوك دَ زمکې په اسمان پسې تړی

دَ وخت په دې کړو لارو کاږهٔ نظر پوهېږم
ژوندون مې دَ جنون په بيابان پسې تړی

زما دَ زړګی خانه ځان په تاپسې ترمه
ټول خلق ځان دَ خپل کلی په ځان پسې تړی

تنی چې دَ مغرب په ګرېوانهٔ کښې پاتې نهٔ شی
نامه دَ دهشتګرد په مسلمان پسې تړی

اشنا کهٔ ګټه اخلې نو تاوان په ګټه واخله
پُښتون ټول عمر ګټه په تاوان پسې تړی

www.pukhto.net

زۀ ډېر دَ حقیقت په سترګو ستا سترګو ته ګورم
ګُمان ستا دَ نظر مې په ګُمان پسې تړی

دَ چَل وَل سوداګر دے زمیدار نۀ دے ملګرو
پټیے چې دَ حالاتو په باران پسې تړی

ما ډېر کۀ ترې دَ خان دَ رانغاړلو کوشش وکړو
اُلفت سرے په خپله په جانان پسې تړی

پرون ئې په دروغه وې چې خولۀ زما نه غواړی
دا څۀ دَ تهمت پېټی په حیران پسې تړی

دَ نن دا رقابت راته بې ځایه لاړې نیسی
دا مینه دَ حیرانؔ مې پۀ حیرانؔ پسې تړی

Pukhto.Net
www.pukhto.net

یکم دسمبر ۲۰۱۰ء

چې اُلفت نۀ اخلی دنیا اخلی
زما نامه څۀ له اشنا اخلی
څۀ چل خو دے چې راشی مخې له مې
یو قدم وړاندې دوه په شاه اخلی
مسافر یار دې خدائې خوشحاله ساتی
چې چرته ځی مانه دُعا اخلی
دا چې په خوا مې په خندا تېرېږی
زما دَ شونډو نه خندا اخلی
چا چې وجود دَ پښتانۀ نۀ مانۀ
هغه هُم نوم دَ پښتونخوا اخلی
په راکتلو سترګو نۀ راګوری
خدائې خبر ما نه څۀ سزا اخلی
ستا نه بغېر دَ حیرانؔ څۀ ژوندون دے
په نوم ژوندے دے هسې ساه اخلی

www.pukhto.net

۲ مارچ ۲۰۰۵ء

یواځې زۀ نۀ وہم دُنیا وائی چې چرته لاړې
دلته کُوڅه کُوڅه اشنا وائی چې چرته لاړې

دَ کلی لوئې وارۀ دی نوم دَ خُولې نه نۀ غرځوی
بینا لا څۀ چې نابینا وائی چې چرته لاړې

تیارو دَ زلفو ته دې وواېه چې ورك مې نۀ کړی
دَ مخ سبا به دې سبا وائی چې چرته لاړې

چا چې په ما پسې په ډکه خولۀ خندا کوله
اوس هغه ښکلے په ژړا وائی چې چرته لاړې

نن ئې په تا پسې دَ تول کلی کوڅې وکتې
مجنونه تا ګوری لیلیٰ وائی چې چرته لاړې

حیرانهٔ خبر دے کۀ دې اوس په ژوند تپوس نۀ کوی
بیا به دا ټوله پښتونخوا وائی چې چرته لاړې

www.pukhto.net

زما سندرې وائی کۀ په ما سندرې وائی
دَ بام سر ته راوخېژی لیلیٰ سندرې وائی

دَ وخت ژبه په خپله غُوټه غُوټه شی ګونګی شی
چې څوك دَدې وطن دَ ابتداء سندرې وائی

جانانه تۀ چې راغلې خوشحالی تولې راغلی
کۀ ښکته څی که بره زما ساه سندرې وائی

حالاتو جُدا کړی مئینان چې خوا په خوا شی
بیا هُم دَ رقابت دَ انتهاء سندرې وائی

آدم چې دَ رباب نغمه په تور ماښام توده کړه
دَ بام په سر دَ درخو به خامخا سندرې وائی

چې هر څوك دے دَ دې وطن خوا خوږےدے ملګرو
په څومره اطمینان دَ تمنّا سندرې وائی

www.pukhto.net

زهٔ څنګه دَ کوټې په کُټ کښې پټ دننه کښېنم
دَ حُسن په بلۍ اوخته بیا سندرې وائی

مجنون دَ دې ماحول دَ مایوسۍ نه تېښته وکړه
په شتهٔ جانان کښې هُم څوك يك تنها سندرې وائی

حیرانؔ جوړ غزل دې دَ غزل په ژبه راغے
تهٔ نهٔ ګورې دا توله پښتونخوا سندرې وائی

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

۳۰ ستمبر ۲۰۱۱ء

چې په یو بل پسې نخلې لمبې دي
دا ټول خلق دَ یوې لار لاروي دي
چې رانۀ شي اوس هغه پښتونخوا نۀ ده
دَ بارودو په اُور سوي پسرلي دي
ما ته دواړه دَ یوۀ لاس ګوتې ښکاري
پښتانۀ کۀ کابلي کۀ پېښوري دي
پۀ دې خپل وطن دَ خان په شان خوړېږي
کۀ زما دَ وطن پېغلې کۀ خلمي دي
لويه خدايه چې په څۀ ټکي جُدا شو
پښتانۀ خو دَ یوۀ سنګر سړي دي
ما له زړۀ راکړه دَ زړۀ په بدل یاره
دُنیا نۀ لرم لاسونه مې خالي دي
ما ته خپل شهيد ارمان څکه راياد شو
چا دَ چا په قبر ايښې مات بنګړي دي
نور دَ دې دَ پاسه څۀ وکړم حېرانه
دواړه لاس مې يار ته ایښي په تندي دي

www.pukhto.net

یکم مارچ ۲۰۰۷ء

حالات په خپله خوښه دَ نظر کرښې راکاږی
والله دَ چا په زړهٔ دَ چا په سر کرښې راکاږی
یواځې کابل نهٔ دے پښتون قامه رابهدار شه
کابل کښې اوس مغرب دَ پېښور کرښې راکاږی
مجنون کهٔ په تودو شګو په سرو غرمو ولاړ دے
لیلیٰ ورته په غاړه دَ ګودر کرښې راکاږی
غاصبه تا به هم دَ ژوندانهٔ په خوړو موړ کړی
دا وخت هغه وخت نهٔ دے په نمبر کرښې راکاږی
دَ خوئې په نېک بختۍ باندې دَ پلار بدبختی نهٔ ځی
چې بُت ته کله وګوری آزر کرښې راکاږی
اشنا ستا دَ ښائست مېښان داسې لېونی شو
ولاړ کهٔ وی په سوری کهٔ په نمر کرښې راکاږی
په زړونو کښې اوسېږی خو دَ زړونو قاتلان دی
په زړونو کښې دا ښکلی زورور کرښې راکاږی
کوم خلق چې مونږ تول عمر په زړهٔ پورې نیولی
حېرانهٔ هغه مونږ له په خپګر کرښې رکاږی

www.pukhto.net

۵ اګست ۲۰۰۵ء

مړې مړې مهٔ کېږه تلوار واخله
په پښتونه ګام دَ ژوند په لار واخله

وخت چې څوک دَ کار په نوم بې کاره کړهٔ
پاڅه دَ هغو خلقو نه کار واخله

شپېخه هم دې زړهٔ هم دې ساړهٔ کيږی
راشه دَ جامونو نه خُمار واخله

لږ دَ بيا کتو په خيال را وګوره
ډېره مې دُعا لږ مې ازار واخله

کله چې قامونو خپل تاريخ ليکو
يو پُښتون وې بل ته چې نسوار واخله

راشه چې اُلفت مو سر ته ورسی
پېټے مې په سر دَ انتظار واخله

www.pukhto.net

ځومره په تادۍ تادۍ دي قتل کړم
اوس دا جنازه مې په قلار واخله

بیا مې دَ نِفاق په لور وحدت ربی
خدایه دَ دي خاورې نه اغیار واخله

مینه کۀ حیرانؔ خپل مقصد ګڼې
ساه لکه خلیل په سُور انګار واخله

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

دَ غشی غُندې لاړې دَ نظر نه ووتې
اے درده بې معنې شوې دَ پرهر نه ووتې

ما هُم دَ خپل جومات محراب ته نۀ پرېږدې غاصبه
په خپله هُم بدبخته دَ مندر نه ووتې

نازونه به دې ورمه خو تر کومه حده پورې
اشنا ګورے پښې دې دَ څادر نه ووتې

دا يو شان پښتنانۀ دی کۀ څوک لر دی او کۀ بر دی
دا کډې دی دَ چا چې دَ خيبر نه ووتې

سپرلے زمونږ دَ کلی دَ ډاګونو يو په دوه شو
ګل څانګې چې په سبل دَ مازيګر نه ووتې

زما دَ زړۀ لمبې دی کۀ لمبې دی ستا دَ حُسن
لمبې پورې راپورې دَ ګُودر نه ووتې

www.pukhto.net

دَ دې وخت روښن فکره مسلمانه ستا دَ لاسه
سرتورې پېغلې بیاَ دَ پېښور نه ووتې

چې سر دې ماتولے شو نو غر ته ځۀ ضرور وۀ
بیا ځۀ وشو فرهاده چې دَ غر نه ووتې

په نورو نورو ښکلو تهمت مۀ لګوه ګرانه
چرې ستا دَ بنو مې دَ ځیګر نه ووتې

دَ یار او ستا تر مینځه ډېره لویه فاصله ده
حېرانه تۀ خو اوس دَ کور دَ وَر نه ووتې

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

وخته سر کړه غوڅوي رانه په تُوره
وتے نۀ شمه دَ خپل دود او دستوره

اے زما دَ دې غریب اُولس واکداره
دا دې وخت دے بنۀ دې ډکه کړه ججُوره

دَ دنیا خلق ئې ساه سوری ته اخلي
کومه ونه چې قدرت پېدا کړی ګوُره

ستا په دار خاتۀ دَ دار تماشه نۀ وه
خومره لوۍه فلسفه شولې منصوره

ما خو ډېره لټوټوب له غاړه ورکړه
ومې نۀ وتې اشنا له تصوّره

زما خپل رقیب په خپل ګاونډ کښې خوښ دے
خوند ئې ورك شی چې پښتون شی بې تربُوره

www.pukhto.net

اوس دَ خيال په لاره هم ورتللے نۀ شم
ډېر يربږم دَ دې وخت دَ دود دستوره

دَ ګُلاب دَ ګل خو دوه ورځې خانی وی
ياره مۀ ګرځه په خپل حُسن مغرُوره

نن ئې بيا په خپل غزل کښې يار ستائيلے
دَ حېرانؔ غُندې بل نشته بې شعُوره

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

راشه دَ نظر په غېږ کښېږ وامې خله
سم لکه دلبر په غېږ کښېږ وامې خله
وخت مې دَ ژوندون مرام ته نۀ پرېږدی
ګله ستا په سر په غېږ کښېږ وامې خله
ټول عُمر به شی زېر مازيګر په ما
تۀ يو مازيګر په غېږ کښېږ وامې خله
ډېرې دَ بېلتون روژې مې ونيوې
راوله اختر په غېږ کښېږ وامې خله
شپه خو لاړه تېره شوه په نه نه کښې
خېژی سپين سحر په غېږ کښېږ وامې خله
تا به وئيل چې زۀ په تا مئين يمه
نۀ مې شی باور په غېږ کښېږ وامې خله
څۀ مې تپوسې چې حال دې څنګه دے
شومه در په در په غېږ کښېږ وامې خله
هغې نادانی ته دې حيرانؔ يمه
تا به وې اکثر په غېږ کښېږ وامې خله

www.pukhto.net

یه اُودهٔ احساسه ویښ په څهٔ شولې
ما خو وې چې لاړې دَ هېڅ نهٔ شولې

ووتې دَ زړهٔ نه مې خو لا نهٔ ړې
اُښکه دَ حسرت مې په لېمهٔ شولې

خوښه مې شبنمه ستا یاری نهٔ شوه
پورته چې دَ نمر په راخاتهٔ شولې

اے زاهده څهٔ مزې دې وکړلې
څهٔ دَ مزې پرهوتې اُودهٔ شولې

څهٔ دې وو په زړهٔ کښې رښتیا څهٔ دې وې
څهٔ پسې راتلې ستنهٔ په څهٔ شولې

ورځ مې توره شپه ده شپه خو پرېږدوه
داسې مې جانانه راپه زړهٔ شولې

Pukhto.Net
www.pukhto.net

وریت نظره څنګ په لار کښې ودرېدې
لار ته کهٔ دلدار ته په کاتهٔ شولې

سترګې دې خوږې دَ چا په سترګو کړې
پورته چې دَ کور په دېوالهٔ شولې

نهٔ ښکارې پهٔ درست جهان کښې نهٔ ښکارې
یهٔ زما حیرانهٔ چې تهٔ څهٔ شولې

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

دَ وخت سپرلیه مهٔ راوړه زمونږ په چم ګلونه
دلته ښائست راټوکوی په هر قدم ګلونه
جهان لاځۀ چې دا خپل ځان په خیال کښې هُم نۀ راځی
نن راله ډېر په ناز راکړی دی صنم ګلونه
دَ هاغه ښکلی نازولی یار دَزړۀ دَ پاره
په ډېره مینه دَ بلې په سر ساتم ګلونه
خلق پۀ دې خبره کور او کلے نۀ بیلوی
ما خو به هسې ونیل په څنو کښې دې ږدم ګلونه
نادانه یاره دا خو ستا دَ بیا لیدو دَ پاره
دا چې سحر مابښام کوځې له دې راوړم ګلونه
کاغذی ګُل په تور وربل کښې لهونی مۀ تُومبه
تا له راوړم دَ باجوړ نه دَ شړشم ګلونه
زما او ستا مینه وطنه دَ عُمرونو مینه
په پُوله پُوله به دې تول عُمر کرَم ګلونه
حېرانهٔ غږ چې دَ دې ملك دَ خپلواکۍ واورمه
په خپل اور بل ستا په پټکي کښې به تومبم ګلونه

۱۱ مئی ۲۰۰۷ء

سترګې د زړهٔ سترې انتظاره ځم
هر چرته چې ځم په ورکه لار ځم

زهٔ خو د پتنګ پشان ضمیر لرم
ځنګ به د ښائست د نور او ناره ځم

هسې ئې د مینې په نوم وخوړم
خمه نور د دې بې مینې ښاره ځم

خلقو ترې نه ډکې جولۍ واغستې
زهٔ خالي لاسونه د ګلزاره ځم

هاغه تېر وختونه راته وديرېږي
کله چې په دې لوری نګاره ځم

ستا شراب زما شوملو ته نهٔ رسي
وهٔ ئې څکم نشه نشه په لاره ځم

www.pukhto.net

زۀ خو بُت شکن يم بُت پرست نۀ يم
دا خو بُت کدې له ستا دَ پاره ځم

هغه دَ عزت کورونه ټول وران دی
اوس به چرته په پروردګاره ځم

زۀ دَ دې دنيا خبره نۀ کوم
ستا سره به تور لحد ته ياره ځم

وخته په بدل لارو مې مۀ بوځه
زۀ حېرانؔ به دار له دَ ديداره ځم

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

چې دَ دنیا دَ نظرونو نه څوک ځان اوباسي
لکه په سومې کښې دَ ستنې چې اوښان اوباسي

دا هُم په عشق کښې ناکامي ده دا مې نۀ ده خوښه
بې درده یار چې مې لاسونه دَ ګرېوان اوباسي

چې دَ ګناه توان نې وي نۀ شو توبه ګار پاتې شو
چې مېخانې له څې توبې څۀ له شېخان اوباسي

ما مې په زور وژني په ما باندې مې زور وژني
الله دې بېخ دَ دې بې شرمو دَ دوران اوباسي

انسانیت دَ تشې خولې په لاپو چرته راځي
انسانیت راځي چې زیار پسې انسان اوباسي

خدایه دا څۀ ځوزې ماځوزي دې راوالوځول
څوک مې چینې ورانوي څوک مې چناران اوباسي

www.pukhto.net

دَ مینې زوره دَ هغو دَر ته دې ودرولم
له تکبره چې لکیرې په اسمان اوباسی

خپلو پردو ورپسې یوشان ملا تړ کړے دے
پښې په وخت دې دَ دې چم نه رقیبان اوباسی

حق ته به حق وائی دِ حق دَ پاره جنګ به کوی
کۀ په سیخونو کښې څوک سترګې دَ حیرانؔ اوباسی

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۲۸ جنوری ۲۰۰۷ء

ستا دَ کوڅې وَر په کاڼو ولمه
يا مې دا خپل سَر په کاڼو ولمه

وخت مې په لمن کښې کاڼي واچول
لر پښتون او بر په کاڼو ولمه

امن دې دَ شر په نامه ختم کړو
شَر درله دَ شر په کاڼو ولمه

ستا دَ وربل سورے چې پرې رانهٔ شي
خپل سورے اکثر په کاڼو ولمه

څان ته ئې دَ يار په شان نژدې نهٔ کړم
کاڼی دَ ګودر په کاڼو ولمه

توره شپه دَ تورو زلفو غوارمه
نمر دَ مازيګر په کاڼو ولمه

Pukhto.Net
www.pukhto.net

ځنې شې دَ ښېخه راویستل غواړی
بُت به وی آزر په کاڼو ولمه

راز دَ محبت چې پکښې وروست نۀ شی
دا زړۀ او ځیګر په کاڼو ولمه

په زما حیرانۀ چې تۀ رانغلې
ورک دې شی اختر په کاڼو ولمه

www.pukhto.net

اقرار ئې لاندې دَ پښتو نه کړو انکار کوی
هغه خودسره تل دَ خپلې خوښې کار کوی

دَ دې اوس وخت دَ حکمران نه تورا نکه ښهٔ ده
چې دَ بچو په خوا ئې مار راځی چغار کوی

فکر مې واخلی چې ولاړه وی دَ بام دَ پاسه
دا په دې سرو غرمو کښې چا ته انتظار کوی

دا مې دَ حال دښمن دے دا مې دَ ماضی دښمن دے
دا نن چې لوبې احمدشاه له په دستار کوی

زړهٔ مې درزیږی چې په زړهٔ کښې دې نامه اخلمه
دا محبت په سړی نوے نوے کار کوی

په دې خبره کښې دَ مینې ډېر خوارۀ پراته دی
اشنا چې نورو ته دُعا ما ته ازار کوی

www.pukhto.net

زړونو لا څهٔ چې ګودرونو وازې خُلې ونیوې
بام ته راوختهٔ د. بام په سر سینګار کوی

نورو قامونو په مریخ کښې خېمې ښخې کړلې
زما پُښتون لالې لا هغسې نسوار کوی

ستا ببلتانهٔ ستا په حیرانؔ داسې کانې کړی دی
اوس چې په لاره ځی په ګوتو باندې شمار کوی

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۷ مارچ ۲۰۰۸ء

دَ دې وخت غاصب کړو خان له داسې تور مخ
لکه څنګه چې تك تور دے دَ پېغور مخ

دَ بارودو په لمبو کښې سره لمبه شو
نۀ دَ رور مخ چا ليدلے نه دَ خور مخ

چې دَ زړونو دَ نظر دَ بامه پریوځی
نۀ بهر چا ته ښودلے شی نۀ کور مخ

دغه دواړه اداګانې دَ کتو دی
په خوږه خولۀ راړوې او کۀ په شور مخ

خدایه زور دَ هغه چا اوبۀ اوبۀ شۀ
اړوی چې دَ قبلې نه مې په زور مخ

شنبلې مې په تنُور کښې رازرغون شو
کنګال پروت دے ښۀ مې نۀ لګی په شکور مخ

Pukhto.Net

www.pukhto.net

پښتانۀ غوزې مچې دی راپارېږی
چې راستون نۀ کړې مغربه په دې لور مخ

یاره ستا دَ بې پتۍ له برکته
دلته نۀ شمه ښودلے چا ته نور مخ

دَ اغیارو نادانی او لېونتوب دے
اړوی چې دَ پامیر نه دَ کبمور مخ

دَ رقیب سپکه مې هم خولې له را مۀ شه
په چا نۀ لګېږی ښۀ دَ چوغل خور مخ

سرۀ زر هَله دَ ښائست په وجود پرېوځی
چې زرګر ئې کله وسیزی په اُور مخ

زۀ به کوم کوم سرے ژاړمه حېرانۀ
دې حالاتو کوم سړی له نۀ کړو تور مخ

www.pukhto.net

۱۵ فروری ۲۰۰۵ء

چا وې چې سترګو له دَ سترګو زور بهر ماتوی
نظر دَ ښکلو خو دَ زړۀ دننه ور ماتوی

راځئ چې بله تماشه په تماشو کښې وکړو
دَ پېغلو جنګ دے منګوټی پاس په ګودر ماتوی

دَ سپېلنو په ځاې ئې بیا کړه ورته زړونه لوګے
حُسن پرست لېونی ښکلو له نظر ماتوی

دَ شهرینئ مینه بندی ده دَ فریب قلا کښې
فرهاد ناپوهه دے دَ چا دَ پاره غر ماتوی

دا غل دَ کور دے چې مې غلا دَ زړۀ دَ کوره کوی
ناآشنا غل خو په جومات باندې کنډر ماتوی

ښکلی هوښیار دی چې انکار هُم په خندا کښې کوی
په توقو توقو کښې پردی زړونه اکثر ماتوی

www.pukhto.net

موږ له تش نیت پکار دے موږ له اراده پکار ده
دا خپل تراشلے بُت پخپله به آزر ماتوی

دَ وخت سیلۍ مې دَ احساس ښاخونه داسې مات کړه
لکه مرغۍ له چې پنجره کښې ځوک وزر ماتوی

بانډه ئې هسې هُم دَ زړه نه پورې وورې ووځی
دَ اداګانو په ختک راله ځیګر ماتوی

دَ لېونو په شان په لار کښې دیدنونه غواړې
حیرانہؔ تا له به یوځله ځوک دا سر ماتوی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

۲۰ جولائی ۲۰۰۸ء

نۀ په ځان سورے شومه نۀ شوم په جهان سورے
څکه مې بد لګي په سترګو دَ خپل ځان سورے

ګټه دې سر وخوری دَ ګټو نه دَ لاندې شومه
څۀ په تاوان سورے شوم څۀ شوم دَ تاوان سپورے

دَ ارمانونو تسلسل په غرمو ودرولم
لا مې تر دې لپدلے نۀ دے دَ ارمان سپورے

دَ زمکې خلقو مې دَ سر سورے پرې نۀ ښودو خو
شُکر په سر باندې مې شته دے دَ اسمان سپورے

دَ محبت خوارۀ پرې تول عُمر تراخۀ لګیږی
په چا چې شوے دے ملګرو دَ ګُمان سپورے

پردی جونګړې ورانوی دَ خپل محل دَ پاره
په هاغه پورې سری شوے دَ شیطان سپورے

www.pukhto.net

زما اولس انسانیت دَ هغه چا نه غواړی
څوک چې په کاڼو باندې ولی دَ انسان سپورے

ګلونه ستا دی دَ ګلونو ښائستونه ستا دی
زما په سر پرېږده مالی دَ ګلستان سپورے

لکه دَ سپوری ئې په سپوری پسې منډې وهم
چې په نظر چرته راغلے دَ جانان سپورے

دَ هر غرمه ئې بې دیدنه په غرمو تېره کړه
لکه چې نشته په نصیب کښې دَ حیرانؔ سپورے

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

۲ جولائی ۲۰۰۲ء

نۀ ګوری دَ زړونو یارانې ته خلق نۀ ګوری
جام ته خلق ګوری مېخانې ته خلق نۀ ګوری

ما خو ستا سینګار ته کتل ما خو تا ته نۀ کتل
ګُل چې پکښې نۀ وی ګلدانې ته خلق نۀ ګوری

اے دَ نن فرهاده سر او غر به ماتوې دواړه
دلته دَ خیالونو افسانې ته خلق نۀ ګوری

بیا دَ خپل بنائست په بام راوخېژه لمبه لمبه
مینه کښې جانانه زمانې ته خلق نۀ ګوری

څوک چې دَ باطل سره دَ حق دَ پاره جنګ کوی
فکر دَ سقراط شی پېمانې ته خلق نۀ ګوری

زۀ چې په ترخو کښې خواږۀ ګورم لېونتوب نۀ دے؟
غَنو کښې دننه شهدانې ته خلق نۀ ګوری

Pukhto.Net
www.pukhto.net

داسې په رڼا ورځې مې بیا دیدن له مهٔ راځه
اوس دَ ښائستو بهانې ته خلق نهٔ ګوری

حُسن او دولت دَ شرافت نه مخه واغسته
داسې زمانه شوه چې معنې ته خلق نهٔ ګوری

دا دې بې عقلی وه ښهر عالمه دا دې څهٔ وکړهٔ
ستا په نظر څرته مېمونې ته خلق نهٔ ګوری

څان دې پکښې ولید کهٔ جهان دې پکښې ولیدو
دومره خو حېرانهٔ آئینې ته خلق نهٔ ګوری

www.pukhto.net

۲ مارچ ۲۰۰۷ء

نۀ مې دَ زړۀ نه ووځی نۀ مې دَ نظره ووځی
په سَر سرتورې پښتنې دَ پېښوره ووځی

کۀ په وطن کښې وی سړے کۀ په دکن کښې سړے
یومسافر دے چې دَ خپل کالۀ دَ وره ووځی

مۀ مې اُوخه دَ اشنا یاده دَ زړګي دَ کوره
درد بې معنيٰ شی چې دَ زړونو دَ پرهره ووځی

نۀ چې ساتلے شی سنګر نۀ په سنګر ورځیږی
هغه زلمی دي دَ سر تېرو دَ لښکره ووځی

بې صبره زړۀ مۀ مې بوځه دَ ښائستونو چم له
تۀ خو شړونو له ورځې خلق دَ شره ووځی

سحر یوۀ وائی خانیه ماښام بله وائی
دَ پښتنانۀ دَ خولې نه تل یوۀ خبره ووځی

www.pukhto.net

څهٔ به ښکلا دَ مازيګر او دَ ګودر پاتې شي
دَ منګو کړنګ دَ بنګړو شړنګ چې دَ ګودره ووځي

دَ بنو غشي دي په وار کړه ستمګر جانانه
لا مې دَ زړهٔ نه ووځي لامې دَ ځيګره ووځي

چې ستا کوڅې له راشم هېڅ په بله نهٔ پوهېږم
په دې پوهېږمه چې عقل مې دَ سره ووځي

دَ دې دنيا دې خنې چارو ته حيرانؔ شي سړے
ګټه نالي وخوري او زور دَ جوارګره ووځي

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

۱۷ فروری ۲۰۰۷ء

وختـه کۀ جُنون لـه بیابان غاړه ورکړې ده
ما هُم دَ یار غم له لکه ځان غاړه ورکړې ده

چرته دا جُونګړه چرته هاغه بې وفا اشنا
دا خو مې تالا والا ارمان غاړه ورکړې ده

نور به دَ اُلفت کاروان په لارو ګنبې ودرېږي نه
دا ځلې څۀ بل رنګې ساروان غاړه ورکړې ده

زۀ دَ خپل رقیب نه دَ ښېګړې طمع نۀ کوم
ما ورله په خیال دَ یو انسان غاړه ورکړې ده

لرې شئ دَ مینې لېونی ته لاره پرېږدوئ
بیا ورله په لاره کښې جانان غاړه ورکړې ده

تورې تورې ځنې ئې دَ سرو ګُلونو ډکې وې
ښکاری محبوبې له ګُلستان غاړه ورکړې ده

www.pukhto.net

اوایه ستا غم له دروغژنه یاره اوایه
دلته کښې بل چا زما په شان غاړه ورکړې ده

مونږه خپل مئین له دَ زړهٔ وینې ورکوؤ ورځو
مونږه محبت له په ایمان غاړه ورکړې ده

نور به مې ستا یاد دَ محبت دَ غېږې لاړ نهٔ شي
ما ورله په سوچ په اطمینان غاړه ورکړې ده

څکه رورولی او خپلولی دَ منځه تلې ده
نن صبا دولت له هر انسان غاړه ورکړې ده

دا بهله خبره ده چې تا له ئې لاس درنهٔ کړو
دلته خپل دښمن له هم حېرانؔ غاړه ورکړې ده

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

۱۳ اپرېل ۲۰۰۷ء

لکه ښائست چې دَ ګُلونو پا تالونو ځانګې
داسې مې زړۀ دَ پرهرونو په تالونو ځانګې

یقین مې نۀ دے چې به ورسی دَ ژوند مرام ته
دَ چا چې خیال دَ ازمېښتونو په تالونو ځانګې

بې وخته پرېوځی نسکور دَ پاڅېدو نه ووځی
بې وخته څوک چې دَ وختونو په تالونو ځانګې

هسې دَ ژوند تودې سرې خو په ځان نۀ تېروی
شېخ دَ اتوۀ جنتونو په تالونو ځانګې

دَ دې وطن نۀ دے دَ دې وطن خواخُوږے نۀ دے
دا چې دَ نورو وطنونو په تالونو ځانګې

دَ نن مئېن دې ځان دَ تېر وخت لېونے وګڼی
ښکلی چې تَل دَ فرېبونو په تالونو ځانګې

www.pukhto.net

په ما ئې ولې پېرزو نۀ شی ټال دَ تیتی ببرې
ځان له دَ دنګو چینارونو په ټالونو ځانګی

راځئ چې لړه خوشحالی ورکړو هغو خلقو له
څوک چې ټول عُمر دَ دردونو په ټالونو ځانګی

کۀ په کالونو اشنا نه راځی نو نۀ دې راځی
مینه خو تل دَ امېدونو په ټالونو ځانګی

لکه دَ زمکې دې دَ هر قدم نه لاندې وتم
ستا تخیل دَ اسمانونو په ټالونو ځانګی

دَ ژوندانۀ نه ئې مزې په ژوندانۀ واغستې
حېرانؔ دَ خپلو غزلونو په ټالونو ځانګی

www.pukhto.net

۲ اپرېل ۲۰۰۹ء

دَ هر يو قام په بې وسۍ مې زړۀ خپګر خوږېږي
دَ قوميت دَ ښنې ټکو نه مې سر خوږېږي

راځئ چې ټول سره په يو انسانيت راټول شو
نۀ به غريب خوږېږي نۀ به زورور خوږېږي

په بل وګړي چرته چا دَ ګل ګذار کړے دے؟
دا يو پښتون دے چې هر چرته در په در خوږېږي

دَ نړۍ خلقو په جنګونو امن چرته راځي
ځوك چې جنګونه کوي دا خلق اکثر خوږېږي

منګے چې مات شي دَ کولال زړۀ پسې سم ماتېږي
بُت چې ماتېږي ټول وجود به دَ اذر خوږېږي

دا دَ ګلونو ښکلې دا دَ ګل درو ښکلې دي
دا په شر نۀ پوهيږي دا خلق په شر خوږېږي

www.pukhto.net

دَ دي وطن دَ جاګیردار سرمایه دار دَ لاسه
لا مي سحر خوږیږي لا مي مازیګر خوږیږي

حو صلې کلکې وساتئ زما دَ فن یارانو
په خپل سِتم به هُم پخپله سِتمګر خوږیږي

حیرانؔ ولاړ یم چې دَ کوم یو په سر لاس ونیسم
هلته کابل خوږیږي دلته پېښور خوږیږي

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۲ مارچ ۲۰۰۷ء

ما وئیل ستا په زړهٔ کښې به آباد شمه
نه نه داسې بنهٔ ده چې برباد شمه

اوس چې دې دَ ځان په رنګ کښې رنګ نهٔ کړم
وایه بیا به څه رنګې درياد شمه

تهٔ چې لاړې تولې خوشحالۍ لاړې
څهٔ به په دې وران کلی کښې ښاد شمه

ما ته چې زما کمے څوک وښائي
هاغه وخت تَناق شمه نقاد شمه

وخته دَ بلال غُندې مې وزوره
پرېږده چې ښهٔ کلك شمه فولاد شمه

خدایه چې جانان پکښې قدم اېښے
زهٔ دې په هغو خاورو کښې باد شمه

Pukhto.Net

www.pukhto.net

ستا په کانې کانې زړهٔ به څائې نهٔ شم
یاره کهٔ منصور شم کهٔ فرهاد شمه

ښه شوه چې دَ عشق په بند دې بند کړمه
ما هُم نهٔ غوښتله چې آزاد شمه

بې لتا مې ژوند یاره نیمګړے دے
څهٔ به بې لتانه زنده باد شمه

یار چې مې حیرانؔه راته نهٔ ګوری
سترے اسوېلے شمه فریاد شمه

www.pukhto.net

13ستمبر ۲۰۱۱ء

تۀ سر راپورته کړه اغیار چې دَ هر لورې ورك شي
یو نمر راوخیژي او څومره بلا ستورې ورك شي

دَ مُسافر لالې مې هغه ژړا نۀ هېرېږي
چې کله ځې ما ته به بېرته بېرته ګورې ورك شي

دا چیناران او دا نښتر دَ ستې مۀ پرېکوئ
دلته به ګورے بیا دَ ناستې پاستې سورې ورك شي

زۀ دَ خپل خان او دَ خپل قام تپوس دَ چا نه وکړم
هغه زۀ نۀ پېژنم هر څوك چې ما پلورې ورك شي

په تشو پاڼړو به دَ زړۀ دَ کتاب څۀ کوُمه
الله دې نۀ کړي چې ترې ستا دَ مینې تورې ورك شي

زۀ وېم چې خدایه پۀ هر چا دې دَ رحمت باران شي
بنده چې ټول عُمر په خپل وجود راوورې ورك شي

www.pukhto.net

چې په سینه کښې دَ کېمور په شانې زړهٔ نهٔ لری
کهٔ په تنه باندې سرے لکه کېمور ئې ورك شی

په خپلو لاسو ګټل غواړی بیا څټله غواړی
حېرانهٔ یو تن چې دَ بل لاسو ته ګوری ورك شی

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۳جولائی ۲۰۰۸ء

هر یو باطل لره عذاب دې وی
دا نوے ژوند دَ انقلاب دې وی

ورورولی ښهٔ وی خو حساب ترمینځه
په یارانه کښې هُم حِساب دې وی

بې مینې خلق دَ محفل نه شړو
پرېږده رقیب خانه خراب دې وی

زهٔ پسې سوے لوګړن ښهٔ یمه
خو ستا خوانی ګُلاب ګُلاب دې وی

کهٔ دُعا نهٔ کوی ښېرې دې کوی
خو دَ اشنا دَ خولې جواب دې وی

تویک مې نهٔ دے خوښ دَ قام په لاس کښې
کهٔ وی قلم دې وی کتاب دې وی

www.pukhto.net

مونږ چې نشه کوؤ شوملې وڅکو
نۀ مېخانه او نۀ شراب دې وی

چې حُجرې وی نو بیا آبادې دې وی
پکښې منګے دې وی رباب دې وی

حېرانؔ دَ ښکلونه وفا غوښتله
دغسې ښۀ دے لاجواب دې وی

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۸ مارچ ۲۰۱۱ء

دا دَ ژوند ښار نهٔ دے دَ دې ښاره ووځو جانانه
دلته ژوند نهٔ کیږی دَ ژوند په نامه مرو جانانه

دَ خوداری او رورولی په رنګ کښې ځان رنګوؤ
دَ نفاق تیږه به په تیږو ماتوؤ جانانه

زمونږ په سر دې وی پراتهٔ سپیرهٔ سپیرهٔ ګردونه
دَ پښتو ناوې له به سرخئهه کوؤ جانانه

دَ نفرتونو نه دَ ټول عُمر نفرت پکار دے
دَ اُلفت ټکے به پهٔ ټکی خپلوؤ جانانه

کله نا کله به دَ ځان نه ماشومان جوړوؤ
کله نا کله به دَ سترګو جنګ کوؤ جانانه

اوس مې په نورو نورو خلقو پسې مهٔ ورتپه
تاله راځو دا ستا تر څنګه چې کښېنو جانانه

www.pukhto.net

زما او ستا به پکښې نۀ وی سره ګډ به ئې خورو
خوارۀ تراخۀ به دَ ژوند تیول شریکوؤ جانانه

ستا جدائی مې لکه وُچ ډکے په اور سوزوی
دَ تلو راتلو رشته به نۀ قطع کوؤ جانانه

تۀ به زما دَ غمه سوځې زۀ به ستا دَ غمه
خپل محبت ته به دُنیا حېرانوؤ جانانه

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

۲۷ جنوری ۲۰۰۸ء

تهٔ چې راشې نو غمونه مې پهٔ شاه شي
تهٔ چې رانهٔ شې غمونه راپه پهٔ شاه شي
مونږه هسې دَ دنیا نه پټوله
سر ته ورسیږی مینه چې رسوا شي
پښتانهٔ دي دَ پښتو په خاطر یو شي
چې په قام کښې خان خانی راشی تباه شي
دَ ببلتون په سوراړه بې څوکه پروت یم
پهٔ خپل خان باندې په خپله ژاړه راشي
چې دَ خدائې دَ مخلوق درد ئې دَ زړهٔ ووځی
سړے دغه وخت دَ دین نهٔ دَ دنیا شي
قضا شوے مونځ به بیا کومه کیږی
دیدنونه چې قضا شي نو قضا شي
نور ئې مهٔ زوروه تېښتې ته جوړ شوے
دا زما زړهٔ به نهٔ ستا نهٔ به زما شي
وخته ګوره چې دَ بام سر ته راخیژی
داسې وخت دے چې روا کار ناروا شي
دَ یار نوم چې راته څوك واخلی یارانو
وار خطا شم زلزله راباندې راشي

www.pukhto.net

دا به لویه نېك بختي وي زما خدايه
چې زما هره رضا ستا دَ رضا شي
دا که امن دے کۀ شر دے خوښ مې نۀ دے
چې عزت دَ پښتنو پګښې تالا شي
دَ ژوندون غېږې له اوس راغلمه مرګه
لږ مې پرهېزدوه دا ساه چې مې په ساه شي
داسې مۀ وايه چې لاړمه نو لاړم
دَ زړۀ زخم به مې ښۀ پسې سبوا شي
ستا په سترګو ورته ګورمه حیرانه
ستا دَ کلی چې مې څوك مخې له راشي

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۲۱ مارچ ۲۰۰۷ء

نۀ کیږی ملګرو دلته نور کلی
دلته زورور کوی په زور کلی

خوند هله سړے دَ محبت واخلی
واخلی تهمتونه چې دَ کور کلی

چرته چې غیرت وی هلته وُسو به
هسې خو پراتۀ دی په هر لور کلی

ما خو پټ په توره شپه دیدن غوښتو
تا کړۀ راخبر اشنا په شور کلی

خدایه هاغه قام په زمکه راکاړې
چا چې په کابل کښې کړۀ سرتور کلی

ما ته پېغور مۀ کوه دَ خپل اُلفت
ګرانه ډېر وران کړی دی پېغور کلی

www.pukhto.net

مینه او وفا چې ترې نه ووته
څنګه هغه سپین کلی شو تور کلی

وارول په بله مغربي دَستور
دلته وو په هر قدم دَ سور کلی

زهٔ حیرانؔ چې ځم چرته به لاړ شمه
وران مې شو دَ ژوند دَ ټنګ ټکور کلی

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۱۲ دسمبر ۲۰۰۷ء
نۀ خو دَ بام دَ سر قیصه نۀ دَ ګودر قیصه ده
زما او ستا قیصه دَ درد او دَ پرهر قیصه ده

ننني دور له دَ کوم دور نامه ورکړمه
دا دَ یزید دَ کربلا دَ مازیګر قیصه ده

چې خفه نۀ شې ستا دَ خدوخال خبرې کوو
نۀ دَ سپوږمۍ ده نۀ دَ ستورو نۀ دَ نمر قیصه ده

بهر راؤخه دَ تمبو نه شا ته مۀ ودرېږه
خوره زموږ دَ محبت په سمه غر قیصه ده

دَ پښتنو به کومه کومه بدبختي ژاړمه
نن دَ کابل قیصه سبا دَ پېښور قیصه ده

کله پښې مې په سر ږدی کله مې سر پۀ پښو
ملګرو دا دَ دې وطن دَ زورور قیصه ده

www.pukhto.net

دَ دې بې درده بې دستوره زماني دَ لاسه
دَ چا په زړۀ پرته قیصه دَ چا پۀ سر قیصه ده

چې همّت اوبائیلی او کښېنی دَ کوټې په کُټ کښې
بیا دې د نۀ وائی چې دا دَ مقدر قیصه ده

ما دَ بلال قیصه غوښته ما دَ خباب قیصه
په شرق ئې ووله دَ هامان کۀ دَ اذر قیصه ده

هغه دَ لاسکی او دَ تبر قیصه بۀ ښه ربتیا شوه
دا چې راپېښه دَ ژوندون په هر ډګر قیصه ده

خپله قیصه مې ورته ټول شپه حیرانۀ وکړه
سحر ئې ووې دا دَ کوم یو مرور قیصه ده

www.pukhto.net

چې اوښکې مې دَ سترګو نه بې واره څې راځې
اشنا مې بې پښتنې په دې لاره څې راځې
رهبار راته وئيل چې دا ئې وخت دے اوس راځې
ګلان اوړی په کمڅو کښې دګل زاره څې راځې
معلومه شوه چې اوس به دَ منزل ښکاره شی لار
دَ حُسن تجلی ئې دَ رُخساره څې راځې
ساقی په لاس کښې جام دَ بې خودئ به راکوې
غمونه مې دَ زړۀ کور ته بې شماره څې راځې
دا لاره خو په وينو هسې نۀ ده تکه سره
وړی زړونه په ښو کښې څۀ خونکاره څې راځې
ديدار غواړی په دار وی دَ دنيا نه بې پرواه
جذبې چې منصوری چا له دَ داره څې راځې
حيرانه چې په ژوند مې تپوس نۀ کوی اشنا
وفا نۀ ده که بيا مې تر مزاره څې راځې

www.pukhto.net

۵ اپریل ۲۰۰۵ء

ستا دَ سینګار بلها بلها رنګونه
دَ مازیګر رنګونه ستا رنګونه
ستا دَ جمال سینګار ته نه شي کتے
دا چې په شاه تبنتی اشنا رنګونه
مونږه تول عُمر په ژړا کنبې خاندو
ژړا له غواړو دَ خندا رنګونه
چیناران ووچ شو چینې وراني شولې
چرته به ګورو دَ ښکلا رنګونه
دَ وخت غاصبه سر پرې مهٔ خوږوه
بدلیږی نهٔ دَ پښتونخواه رنګونه
تهٔ دَ جفا زهٔ دَ وفا مئین یم
ګورو چې وخت شیندی په چا رنګونه
حیرانهٔ خوئې دَ تولو ښکلو یو دے
بدل بدل دی دَ هر چا رنګونه

www.pukhto.net

۲ جون ۲۰۰۷ء

ستا په اُلفت کښې خپل ګرېوان ته مې لاس ورسېدهٔ
ډېره ښهٔ وشوه ټول جهان ته مې لاس ورسېدهٔ

چې تا ته ونهٔ رسی تهٔ ورته راونهٔ رسې
په کار مې نهٔ دے کهٔ اسمان ته مې لاس ورسېدهٔ

ځان مې بائیللے خو جانان مې ډېر پخوا ګټلے
لکه دَ قېس چې بیابان ته مې لاس ورسېدهٔ

سر به دې څو دَ دې بې پته یارانې وینځمه
سود پکښې سر خوړلے زیان ته مې لاس ورسېدهٔ

نن مې په ډک محفل کښې بیا دَ چا نامه واغسته
په ځان پوهېږمه نقصان ته مې لاس ورسېدهٔ

حال ئې یوه تماشه ده انجام ئې دوه تماشې
کهٔ وائی څوک افغانستان ته مې لاس ورسېدهٔ

Pukhto.Net
www.pukhto.net

ښهٔ او قېده ور پکښې مهٔ ګوره تول ستا په رنګ دی
ګلونه واخله ګلستان ته مې لاس ورسېدهٔ

خپل سورے هُم راته رقیب ښکاریږی ستا په خوا کښې
یاره بدل شوې کهٔ ګمان ته مې لاس ورسېدهٔ

ښهٔ شوه چې وخت او بخت مې دوارو ملګرتیا ونکړه
دغه حالاتو کښې جانان ته مې لاس ورسېدهٔ

مات مات مې خوبن دے چې په غاړه راته مات ځنګیږی
کهٔ ګرېوانهٔ دَ بل انسان ته مې لاس ورسېدهٔ

حېرانهٔ اوس به مې پخپله منزل ښېو له راځی
دَ پښتنو دَ تګ کاروان ته مې لاس ورسېدهٔ

www.pukhto.net

۳۰ جولائی ۲۰۰۷ء

زړونو پکښې سر وُخوړ سرونو پکښې سر وُخوړ
داسې وخت راغلے چې وختونو پکښې سر وُخوړ

نۀ وخت دَ خزان دے نۀ ګُل چین ګلشن له تلے دے
بنۀ انګړ ترې تاؤ دے خو ګُلونو پکښې سر وُخوړ

زۀ یوتورے نۀ ژاړمه زۀ تمام کابل ژاړم
ورك چې قومیت شۀ نو قامونو پکښې سر وُخوړ

بس دغه پوره ده چې ئې مخ په بله واړوو
دومره درد ئې راکړو چې دردونو پکښې سر وُخوړ

پوهه شوې چې خنګ دې شړو زمکو پسرلی راوړۀ
دا دَ چا دَ وینو بارانونو پکښې سر وُخوړ

بیا ورته رېباره چې دَ بیا راتلو ونۀ وائې
اوس دې هډو رانۀ شی ګلونو پکښې سر وُخوړ

www.pukhto.net

بَر ګودر چې وران شو دا لر ما ورته بخښلے دے
داسې حال شروع دے وطنونو پکښې سَر وُخوړ

دا دَ محبت لاره آسانه دومره هُم نۀ ده
ډېرو مستو مستو قدمونو پکښې سر وُخوړ

بس دے نړۍ والو جنګ خو سر ته رسېدلے دے
بیا دَ سرکاڼو مازیګرونو پکښې سر وُخوړ

زۀ او دا کوځې حیرانؔ اوس د بېلېدو نۀ یو
اوس خو مې دَ عُمر اُمېدونو پکښې سر وُخوړ

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

۱۸ جولائی ۲۰۰۷ء

دَ سترګو دَ ښېو جنګ به کوؤ نن مازيګر
سرونه به په داؤ باندې ترو نن مازيګر
تهٔ وخېژه بلی ته زهٔ کوڅې ته ور ووځمه
رقيب به دَ دې چم نه تښتوؤ نن مازيګر
يارانو دَ سرونو پروا مهٔ کوئ راځئ
حالات به جوړوؤ يا ورانوؤ نن مازيګر
دَ تکې تورې شپې نه ورکوؤ دَ راتلو لار
ډيوې به په زيارتونو بلوؤ نن مازيګر
دَ زړونو دَ دُنيا نه دا نفرت لرې کوؤ
دا زړونه دَ اُلفت په تار ترو نن مازيګر
دَ وخت دَ دې دستور نه بغاوت کوؤ اشنا
په دواړه مخه يو بل ښکلوؤ نن مازيګر
يوځائې به څو رقيبه دَ اشنا مخې له نن
ځانونه به په يو تله تلو نن مازيګر
زهٔ نهٔ غواړم چې پاتې شی په لاره کښې حيرانؔ
کاروان به تر منزله رسوؤ نن مازيګر

www.pukhto.net

۱۹ جون ۲۰۰۲ء

په شر قدم ږدم ستا دَ پاره هُم دَ شره اوځم
بې وفا یاره اخر څنګ دې دَ نظره اوځم

حالات مې نهٔ پرېږدی دَ خپلو پُښتنو په خوا کښې
سترے ستومانه په ژړا دَ پېښوره اوځم

دَ جانان یاده دومره ډېرې ګرمی مهٔ راکوه
لکه فرهاد به پهٔ سره سینه دَ غره اوځم

خلقو اختر له په بوجو بوجو نکریزې راوړې
ستا دَ راتلو نېټه اُوړده شوه دَ اختره اوځم

غاصبه بنهٔ دې دِ وحشت کانړی راوروه
چې سر ونهٔ خورم داسې کله دَ سنګره اوځم

په شاه کټے نهٔ شم سلام دې په سر سترګو اخلم
چې په شاه ګورمه ګُلان کرم دَ کره اوځم

www.pukhto.net

دَ دنيا ژوند خدايه چې هر څنګه دے تېر به شي خو
چې ښېك عمله روغ دَ ورځې دَ محشره اوځم

پرون ئې وئيل چې بيا په توره شپه ديدن له راځه
کۀ په رڼا ورځې ورځمه دَ باوره اوځم

دَ پُښتني دَ لوپټې تارونه تار په تار شو
ګناهګار نۀ يمه کۀ اوس دَ خپل څادره اوځم

دَ مخ تصوير دې راته مخې ته حېران ودرېږی
حېرانهؔ کله چې دَ خپل کالۀ دَ وره اوځم

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

۲۰ مارچ ۲۰۰۸ء

چا چې تول جهان لېونے کړے دے
هغه حُسن خان لېونے کړے دے

کله شمه سوال کله جواب شمه
وېم چې چا افغان لېونے کړے دے

څنګه به په دې وطن سپرلی راشي
خان راته خزان لېونے کړے دے

خدایه لېونی او سپېلنی دې شي
چا چې مسلمان لېونے کړے دے

څهٔ به غم دَ نورو خلقو وژاړې
څوک چې غم دَ خان لېونے کړے دے

نن اتفاقي په مېخانه راغلم
شېخ ماما ګُمان لېونے کړے دے

www.pukhto.net

مهٔ نښلئ دَ خولې په تقویٰ دار پسې
دا خو سود او زیان لېونے کړے دے

تېرې شوې زما دَ لېونتوب ورځې
اوس مې غم جانان لېونے کړے دے

ما نه څوک ګیله آخر په څهٔ کوی
ما خو خپل حیرانؔ لېونے کړے دے

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۸ مئی ۲۰۰۸ء

ورك شي مقصد دَ ژوندانهٔ چرته
چې ویښ قامونه شي اودهٔ چرته

ما او رقیب یوځائې ګاونډ نهٔ کوؤ
چرته اورونه او اوبهٔ چرته

ستا محبت چې مې په زړهٔ کښې پټ کړو
بغېر له دهٔ به مې ساتهٔ چرته

چا په دې خپله خاوره نهٔ پرېښودهٔ
ګنې مغرب او پښتانهٔ چرته

ځان غولوؤ ستا نه خواړهٔ غواړو
په مرچکو کښې دی خواږهٔ چرته

راځه داپورې ور ئې پورې ښهٔ دے
ښې سرے او مېلمانهٔ چرته

www.pukhto.net

ستا په یادونو چې مې ځان بوله کړو
دَ زړۀ دَ کوره مې واتۀ چرته

خود به پۀ ښېټو پسې کانړی ترو
نشته لوګے دَ تنارۀ چرته

دَ هرې غرمه مې په غرمو تېره کړه
هغه بې دردہ راکاتۀ چرته

حیرانؔ ډېره مایوسي ښۀ نۀ ده
خدائې به رایو کړي پښتانۀ چرته

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

چې ستا په خیال پسې مې خیال پرېوتے
زما د لاسو نه کمال پرېوتے
دومره تادی مهٔ کوه لاړه به شي
دا بیا دي څهٔ د کور دېوال پرېوتے
هسې تهمت په آئینه مهٔ وایه
ستا د جبین د څوانۍ خال پرېوتے
د احمد شاه پټکے نور مهٔ یادوئ
د ملالې د سر نه شال پرېوتے
د وخت ظالم ئې ژبه بنده نهٔ کړه
څهٔ کهٔ په سرو شګو بلال پرېوتے
زما د برخې غنم خان له واخله
دا ځل دي ډېر سګنے کال پرېوتے
نور د پښو په نوکو تګ مهٔ کوه
نن دي جلال صبا جمال پرېوتے
په تا پسې د محبت په تبه
حیرانؔ د مرې په مثال پرېوتے

www.pukhto.net

۱۱ جون ۲۰۰۷ء

مرام ته سړے نهٔ رسی مرام ته سړے رسی
په مینه کښې خو خامخا مُقام ته سړے رسی
اشنا چرته دې رانه وړو دیدن دَ کوڅې ګُټ له
ښهٔ نهٔ ښکاری چې هر دیدن له بام ته سړے رسی
ازغي دَ ژوند په لار کښې دَ جُنون په مخکښې څهٔ دی
منزل ته کهٔ غرمه نهٔ وی ماښام ته سړے رسی
دَ ځان دَ غمه مهٔ ژاړه دَ قام دَ غمه ژاړه
چې وژاړی دَ قام دَ غمه قام ته سړے رسی
چې ستا په مینه وخت دَ لېونی په نامه یاد کړم
ډېر ښهٔ وشو په دې تکي مقام ته سړے رسی
دا تهٔ چې کله ګورې کله نهٔ راګورې یاره
خبر نهٔ ئې پهٔ دې چل کښې سرسام ته سړے رسی
دَ هر وګړی ژوند یوه ځانګړې فلسفه ده
حېرانهٔ کهٔ هر څو عُمر خیام ته سړے رسی

www.pukhto.net

۱۰ اګست ۲۰۰۷ء

دَ تاریخ په پاڼه پاڼه کښې تاریخ دے
دَ اُلفت تکے که خوږ دے او که تریخ دے

دَ غفلت په خوب اوده پښتونه پاڅه
نوی دور قدم اېښے په مریخ دے

یو خونه دے چې په سر ئې ګوته کېږدم
هر یو مشر مې دَ ملك وهلے ریخ دے

دَ وفا نه بغېر نۀ رغېږی یاره
ستا جفا مې دَ سینې ویستلے سیخ دے

دَ پښتون دَ بیخ کندی تکی پکښې دی
تول مضمون غلط لیکلے مؤرخ دے

دَ خپل وخت نه مخکښې ورك نۀ شو حیرانه
کومو خلقو چې هېر کړے خپل تاریخ دے

www.pukhto.net

۳ مئی ۲۰۰۲ء

نۀ خو یو غریب او نۀ یو خان سلګو نیولے دے
اے دَ وخت ناترسو ټول جهان سلګو نیولے دے

څۀ به رحمتونه راوریږی څۀ زرغون به شی
زمکه سلګو ونیوه اسمان سلګو نیولے دے

ستا دَ راتلو لار ته ګوری ستا دَ راتلو لار ګوری
اوښکي اوښکي سترګي دی ګریوان سلګو نیولے دے

عقله لرِ مې پرېږده دَ دې ښار دَ دې کوڅو نه ځم
نن راته جنون وې بیابان سلګو نیولے دے

بیا ترې منزل ورک شو دَ دې دور په تور تم کښې
یو طرف ته تلے نۀ شی ساروان سلګو نیولے دے

نۀ ئې پۀ دې خپل وطن کښې ځائې شته نۀ پۀ بل وطن
ګوری دَ سر سورے هر افغان سلګو نیولے دے

www.pukhto.net

خدایه چې ازار دے کۀ نظر دے نۀ پوهېږم
چرته چې پښتون دے په جهان سلګو نیولے دے

څه کنه دورخو بنګړی دي وشوروه پورته شه
ناست دے په حُجره کښې آدم خان سلګو نیولے دے

تۀ ئې څنګه نۀ پېژنې ښکلیه ستا نامه اخلی
ستا دَ کوڅې ورته څوك حیرانؔ سلګو نیولے دے

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

۱۵ مارچ ۲۰۰۷ء

تا چې نامه مې په محفل کښې پۀ خطا واغسته
نن مې ایله دَ ښلتانۀ پۀ غرمو ساه واغسته
نور مې په څۀ زوروې نور راسره څۀ پاتې دی
خندا مې تا له درکړه ځان له مې ژړا واغسته
ډېره ارزانه وشوه ډېره په اسانه وشوه
ما چې دَ سر پۀ بدله کومه سودا واغسته
دا دُنیا سمه په ښتیا دَ چکدرې مېله ده
چا پکښې واغستو ثواب او چا ګناه واغسته
خدایه ځادر پۀ هغو خلقو دَ حیاء راخور کړه
چا لوټه، چې پښتنې له دَ حیاء واغسته
ستا پۀ ککو کښې مې دَ ټول جهان تصویر ولیدو
ما پکښې ځان له ژوندانۀ له پښتونخوا واغسته
دَ نن دستور وې تار او ستن راوړی دا خلۀ ئې ګندم
ما چې نامه کله په خولۀ دَ خپل اشنا واغسته
پیکه پیکه راغلۀ خوارۀ وارۀ پیکه پرېوتۀ
حیرانہؔ چا دَ پسرلو نه مې ښکلا واغسته

www.pukhto.net

۱۳ جنوری ۲۰۰۹ء

ختمېږی نه دَ زمانو جنګ دے
دا چې پۀ کور دَ پښتنو جنګ دے

خپل او پردی پکښې څوک نۀ پېژنی
زما پۀ خیال دَ لېونو جنګ دے

تۀ راځه پورته زۀ به ښکته درځم
دَ قسموتونو دَ داتو جنګ دے

پۀ شتۀ اوبو کښې به دَ تندې مړۀ شو
خدایه پۀ مینځ کښې دَ چینو جنګ دے

سرونه څۀ چې پکښې زړونه مات شو
دا دَ نیتونو دَ کینو جنګ دے

دَ زردارانو بچی وځکې نۀ خوری
زما پۀ کور کښې پۀ نهنو جنګ دے

www.pukhto.net

مخ ته ئې لاس نیولے ګوری پکښې
جنګ دے دَ دوؤ آئینو جنګ دے

راځئ یارانو ځان پرې شنۀ دره کړئ
په مودو پس دَ پېمانو جنګ دے

زما په چم کښې ځوک دَ جنګ نشته دے
دا دَ راغلو مېلمنو جنګ دے

پُښتني خوبندي په بلئ وختي
ما وئیل کۀ بیا دَ ښاروښو جنګ دے

دا ما او تا خو پکښې هسې وژنی
نور په تاریخ دَ پخوانو جنګ دے

غزل لیکل حیرانۀ توقې نۀ دی
دا دَ لفظونو دَ معنو جنګ دے

www.pukhto.net

دا چې شبېه پۀ شبېه ساه مې اوځي
دَ خپلې ژبې نه اشنا مې اوځي
ما له بلا بلا ژړا راولی
چې دَ محفل نه په خندا مې اوځي
داسې غم راکړه چې بې غمه شمه
غم چې دَ زړۀ نه دَ دنیا مې اوځي
دا مغربيي بې حیایي راغلې
دا جنازه چې دَ حیاء مې اوځي
پۀ دوباره بلې نه بیا وخېژه
چې دَ زړګي هره سودا مې اوځي
زۀ وېم راځی کۀ تۀ راځې او کنه
ژوندون پۀ دغه تمنّا مې اوځي
کۀ ورته ګورم رانه ساه اوباسي
کۀ ورته نۀ ګورم نو ساه مې اوځي
حیرانؔه یاد ئې هُم قسم خوړلے
دَ زړۀ دَ کوره پۀ رښتیا مې اوځي

www.pukhto.net

۱۲ مئی ۲۰۰۸ء

نن دې سر وُخوری په سر کښې دَ صبا اوروںه مرۀ کړئ
اے دَ امن دعویدارو دَ دنیا اوروںه مرۀ کړئ

کۀ کافر کۀ مسلمان دے مرګ ئې ښۀ نۀ دے انسان دے
راشئ کښېنئ پۀ خبرو پۀ صلا اوروںه مرۀ کړی

دا ژوند دومره بې معنې او بې مقصده نۀ دے خلقه
دا چې هر طرف ته بل دی په هر چا اوروںه مرۀ کړئ

دا لمبې دَ سرو اورونو خو مرې نۀ شوې په سرو وینو
خپلې اوښکې بارانی کړئ پۀ ژړا اوروںه مرۀ کړئ

نفرتونه چې خوریږی اُلفتونه خاورې کیږی
دَ اُلفت دَ دنیا خلقو راشئ دا اوروںه مرۀ کړئ

دَ سروںو واکدارانو دَ قامونو واکدارانو
ټول جهان درته حیراݩ دے نن صبا اوروںه مرۀ کړئ

www.pukhto.net

📖

ما ته به زما دَ زړهٔ قیصه کوې
دلته به دمهٔ دلته به شپه کوې
ستا مئېن ساقي چې تا له نهٔ راځي
څهٔ به په دې ورانه مېخانه کوې
زهٔ چې درته وګورمه نهٔ ګورې
خدايګو ښهٔ زړهٔ پورې يارانه کوې
زهٔ به ستړې ستړې اسوېلي کوم
تهٔ به په دې مېنځ مېنځ کښې ټپه کوې
ټول اسمان دې ټېغ په سر اغستے دے
يا سپوږمۍ پهٔ کوم کور به دمه کوې
خال خو دې زما په وينو کښېښودو
اوس به څهٔ دنيا ته بهانه کوې
نن به ستا دَ پاره بام ته خېژمه
تهٔ به مې حيرانهٔ تماشه کوې

www.pukhto.net

۷ جون ۲۰۰۴ء

درد چې مې دَ خوږ زړګي درمان په لاس کښې اونیوؤ
ما خو وئیل چې نن مې ټول جهان په لاس کښې اونیوؤ

چا له دې وختونو دَ ازغو نه ګوتې ډکې کړې
چا ته ئې دَ ګلو ګلستان په لاس کښې اونیوؤ

ما خو چرته تور ته او نۀ سپین ته ورکتلی دی
خدائېږده چې پۀ څۀ مې چا ګرېوان په لاس کښې اونیوؤ

نۀ خپله کوړے شی نۀ دَ بل هغې ته غوږ نیسی
خلقو دا مو څنګه حُکمران په لاس کښې اونیوؤ

دغه دَ پښتو او پښتنو جنازه ووانه
کله چې مغرب افغانستان په لاس کښې اونیوؤ

نۀ خو منزل لرې دے نۀ موږ همّت بائیللے دے
دلته دَ مغُل بچو ښاروان په لاس کښې اونیوؤ

www.pukhto.net

دا چې په تودو شګو پهٔ سرو غرمو کښې ژوند کوو
مونږه دَ بلال دَ ژوند ارمان په لاس کښې اونیوو

ما دَ خپلو اوښکو ډیوې بلې ستا په لارو کړې
وخت کهٔ راته ډېر ګټه تاوان په لاس کښې اونیوو

چا چې اراده مې دَ لمن دَ څېرېدو وکړه
ما ورته دَ مینې نه ګرېوان په لاس کښې اونیوو

ستا دَ رقابت نه ډېر پښوا ئې بغاوت کړے
وخته وایه څنګه دې حیرانؔ په لاس کښې اونیوو

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

۷ دسمبر ۲۰۰۹ء

دَ خپل وطن تصویر مې جوړ کړو خو ګُل رنګ نۀ دے
دا زړۀ مې وائی سم دَ زړۀ په وینو رنګ نۀ دے
هاغه وګړے لکه مړے په خپل ځائې پاتې شی
هر چا خپل کړے چې دَ خپل قام نام ونګ نۀ دے
دَ زړۀ داغونه کۀ بلیږی کۀ ډیوې بلیږی
چې په لمبو ئې لوبې نۀ کوی پتنګ نۀ دے
لکه دَ خس به دې په سر واخلی رقیبه ګورے
دَ انقلاب سیلاب راغلے پۀ غورځنګ نۀ دے
دَ خدائې دَ پاره پۀ خپل کور جنګونه مۀ جوړوئ
دا پردے جنګ دے پښتنو زمونږ جنګ نۀ دے
خور شوے زړۀ مې خور وور پاتې دے راټول نۀ دے
چې اوربدلے ئې دا ستا دَ بنګړو شرنګ نۀ دے
دا چې دَ هرې لارې سر ته ګورې تا ګورې
په تا مئین خو دَ دې نور اُولس په رنګ نۀ دے
چې ستا کوڅې له راځی دا خو تا له مینه راوړی
حیرانؔ باچا دے دَ پردو کوڅو ملنګ نۀ دے

www.pukhto.net

دَ دې وخت دَ تورو شپو مې رابهر کړه
دا تيارې دَ ژوندانهٔ مې روڼ سحر کړه
يا خو کور راکړه اشنا دَ زړهٔ په کور کښې
يا مې هغسې بې کوره دَر په دَر کړه
اے دَ نن غاصبه څهٔ کور به دې وران شى
رشته جوړه دَ کابل او پېښور کړه
ستا پهٔ خدائې قسم راوخېژه بلې ته
دا زړهٔ سترے مابنامے زيږ مازيګر کړه
راشه ما دَ بې خودۍ پهٔ غېږ کښې واخله
دَ دنيا دَ سود او زيان مې لاس پهٔ سر کړه
چې مې زړهٔ لکه غلبيل سورے سورے کړې
دَ بنو څوکو له داسې اُوبهٔ وَر کړه
دَ لباس په خندا زړونه نهٔ خپلېږى
څه پناه شه بې وفا راپورې وَر کړه
دَ فرهاد تاريخ ژوندے ساته حيرانهٔ
پهٔ تېشې سُورے دَ وخت دَ ظلم غر کړه

www.pukhto.net

۲ ستمبر ۲۰۰۷ء

دَ وخت دَ لاسه دَر په دَر سړے دے
دلته په سمه کۀ په غر سړے دے

دَ عشق منزل ته رسېدلے نۀ دے
ناست چې دَ خپل کالۀ پۀ وَر سړے دے

ما ته خو دواړه يو وجود ښکارېږی
کۀ دَ کابل يا پېښور سړے دے

زمونږ دَ چم جونه بيا هلته نۀ ځی
چې ئې ليدلے پۀ ګودر سړے دے

دَ سَر سړو وَرپکښې سر خوړلے
دا اوس چې هر سړے دَ سَر سړے دے

دَ زورور مخه پۀ زور نيوے شی
پۀ کار ئې زور له زورور سړے دے

www.pukhto.net

ما وې پښتلا به لر او بر پښتون کړی
اشنا دَ خانه مرور سړے دے

یارانو هر چرته ئې خپل مُقام وی
ولاړ په سهوری کښې په نمر سړے دے

حیرانؔ ته مهٔ غورزوه دام دَ زلفو
یو لاره وے دے مسافر سړے دے

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۳ فروری ۲۰۱۳ء

تا چې قدم په بله لاره په بل لور واغستهٔ
لکه چینار مې دې ګوګل دننه اُور واغستهٔ

زهٔ دَ ساقی په نظر پوهه شوم راووتمه
زما دَ برخې جام پهٔ لاس کښې ئې نسکور واغستهٔ

لوظ خو مات شهٔ دَ دیدن په بام درونهٔ ختم
ستا نه مې تور واغستهٔ ستا نه مې پېغور واغستهٔ

پرېږده چې ومې خوری پخپله مې په ځان کړې ده
چې مې دَ خپل احساس په غېږ کښې سړی خور واغستهٔ

اغیار راغلے لر او بر پُښتونه څهٔ به کوؤ
نن که پامیر واخلی صبا له ئې کېمور واغستهٔ

دې یو لنډی مازیګری له چې راونهٔ وتې
ما وې کهٔ چا رانه دا ټول وطن په زور واغستهٔ

www.pukhto.net

ما له به ولې دَ اختر په ورځ ژړا نۀ راځی
ځان له شَمله تا له مې تور قمیص په پور واغستۀ

دا دَ راتلو وعده دې دغسې نیمګړې ښۀ ده
دَ دې زړۀ سترې ماښامی نه مې سم سور واغستۀ

خپل ماشوم توب مې راته مخې ته حیرانؔ ودرېدۀ
یو نازولے خوښې پۀ ناز پۀ غېږ کښې مور واغستۀ

۱۵ نومبر ۲۰۰۹ء

دَ کلي وال ژوندون نه ووتې پهٔ ښار کښې اُوسی
زما دَ قام پښتنې ستی شوې په انګار کښې اُوسی

پهٔ هر چا خپل وطن کشمیر دے دَ نړۍ قامونو
دَ سوات سیال ګر خلق به څنګ پهٔ بل دیار کښې اُوسی

دا بې احساسه زاهدان دَ مېخانې وباسئ
معصوم احساس لری رندان دې په خُمار کښې اُوسی

پلو په خان پسې راکاږې مېلمنې چرته ځي
په هغو ورشه چې دې څوک په انتظار کښې اُوسی

نوے غزل به لیکو نوې فلسفه به چېړو
دَ نوی دور موسیقی په نوې تار کښې اُوسی

زړهٔ چې بائیلی ګرانه خبره ده چې سر وساتی
حُسن پرست چې دَ حسینو په بازار کښې اُوسی

www.pukhto.net

نوره دنیا به ورته څۀ رنګې په څۀ ښکاره شي
سرے چې ډُوب شي او دَ سترګو په خُمار کښې اُوسي

دَ قندهار ښکلې پۀ ښکلې پېښور کښې پرېږدئ
دَ پېښور ښکلې به هم په قندهار کښې اُوسي

ستا دَ ګُلاب رخسار خیالونه ئې دَ زړۀ نۀ ووځي
حیراڼ کۀ تېول عُمر دَ ژوند په نوبهار کښې اُوسي

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۲ اپریل ۲۰۰۲ء

یا خو مې دَ خان که یا پهٔ خان مې که
هر څنګه چې وی خو یو داستان مې که

تهٔ راباندې ګرځه زمکه ښهٔ یمه
نورو ته اوچت لګه آسمان مې که

نوم دَ بنیادم څهٔ معنيٰ نهٔ لری
خدایه دَ انسان په لار روان مې که

ګُله په سپرلی نظر راوګوره
ګُل دَ خپل ښائست دَ ګلستان مې که

ښهٔ مې وزوره چې رانه هېر نهٔ شې
یاره دَ خپل حُسن ثناخوان مې که

غواړم چې پهٔ درست جهان وربېړمه
یه خدایه دَ خپل رحم باران مې که

Pukhto.Net
www.pukhto.net

ساه هُم بغېر ستا دَ یاده نۀ اخلم
ځان له خو دې نۀ کړم خو دَ ځان مې که

بیا دَ خپل ښائست په بام راوخېژه
سترې اسوېلے دَ خپل ارمان مې که

څۀ به یاد ساتمه بې وفا اشنا
خپلو سِتمونو ته حیرانؔ مې که

❀❀❀

www.pukhto.net

۳ فروری ۲۰۱۳ء

چې دَ حالاتو په ککلېچ کښېږ دَ ژوند لار پېژني
یاری دي هغه څوك کوی چې انتظار پېژني

مېنې دَ داسې کېرجنو در ته ودرولم
نۀ په پسته باندې پوهېږي او نۀ قار پېژني

دَ نن واکداره په دې خپل وطن دي څۀ ونکړۀ؟
مړه! دَ غېږې ماشومان هُم خپل دیار پېژني

لور ئې راغستے سره ګُلونه پرې دَ څپلمه ریبی
دا څۀ بنده دے چې نۀ ګُل او نۀ مالیار پېژني

څکه دَ خپل کلی کوڅو کښې چا ته سوال نۀ کوی
یتیمانان زما دَ کلی خپل بالدار پېژني

زۀ پکښې نۀ ځائېدم څکه پکښې ځائې نۀ شومه
اشنا دَ خپل زړۀ پۀ شان کانړے او ګُذار پېژني

www.pukhto.net

پرېږده چې دواړه دَ کوټې په ګُټ کښې دورې وخورې
زما دَ قام زلمی نۀ سر او نۀ دستار پېژنی

يارانو دا خو دَ دې خرې پرې باجوړی لۀ مخه
کۀ په دې خاوره څوک حېران او څوک سيار پېژنی

حېرانؔه دا دَور په زَرو او په زور پسې ځی
دلته څوک فن پېژنی دلته څوک فنکار پېژنی

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۹ دسمبر ۲۰۰۲ء

دا چې مې اشنا دَ یارانې نه څان ساتی
دا دَ دې بې دردہ زمانې نه څان ساتی

نۀ ګوری دَ ښې ورځې دَ شنو اوبو په ډنډ کښې
ښکلی دَ فریب دَ آئینې نه څان ساتی

زۀ او تۀ چې راغلو نو راغلې اُوښکې لاړې
عشق مې دَ اُوښکو دَ دانې نه څان ساتی

ګُل مې دَ باغچې په پټکی هاغه چا تومبلے دے
ثوک چې دَ ګُلشن دَ خسمانې نه څان ساتی

خوبانو ته چې نۀ شی په محفل کښې ورکتلے
حیرانۀ څنې خلق دَ فتنې نه څان ساتی

www.pukhto.net

۲۰ ستمبر ۲۰۰۲ء

درد چې پۀ زړۀ دَ مئین توب راشی
ایله سړے پۀ سړیتوب راشی
اوس دې پۀ غېږ کښې شوګیرو واغستم
بیا بۀ اودۀ شمه چې خوب راشی
وخت او حالات ئې دَ ملا تیر ماتوی
چې مې اُلفت پۀ زلمیتوب راشی
زړۀ مې دَ خپل سوري نۀ هم یریږی
لا چې پرې ستا دَ سترګو رُعب راشی
چې دې رقیب دَ کور چنې تۀ کښېنی
پۀ ما غوټې دَ لېونتوب راشی
دا چې دَ زور پۀ څلي داسې ژاړی
پۀ پښتنه بۀ پېغلتوب راشی ؟
حیرانهٔ دومره پسې وژاړمه
چې سترغلو کښې مې پړسوب راشی

www.pukhto.net

۲۹ مئی ۲۰۱۰ء

چې دَ منزل لاره مې نېغه تر منزل نۀ کړمه
پښتون احساس به مې پۀ بله لار شل نۀ کړمه

چې پۀ غزل کښې دې يو څو وارې غزل نۀ کړمه
نيمګړے ښۀ دے خپل غزل چې مکمل نۀ کړمه

ستا دَ مئين نامه تر هغې پۀ خوله نۀ راولم
پۀ هره لار چې دې دَ پلونو خاورې ښکل نۀ کړمه

کله پۀ مينه کله ډېر په ترېو تندی راګوری
جانانه څنګه دې پردے څنګه دې خپل نۀ کړمه

يو پسرلی ته ګُله چرته پسرلے مۀ وايه
چې پسرلی درله پۀ څنو کښې ګُل ګُل نۀ کړمه

نۀ به قرار وګورې نۀ به مخ دَ يار ګورې
زړګيه سم چې دې دَ وخت په ژرنده دَل نۀ کړمه

www.pukhto.net

خپل محبت ته به پهٔ ښهٔ سترګه ونهٔ ګورمه
چي بې وفا اشنا دَ ژوند دَ لارې مَل نهٔ کړمه

ځان ته به بیا دَ پُښتونخوا پښتور ونهٔ وایم
زما کابله چي دې هغسي کابل نهٔ کړمه

دا دَ وحشت تورې تیَرې رانه منزل ورکوی
پهٔ هر پړاو چي مې دَ زړهٔ داغونه بَل نهٔ کړمه

په شَل کېدو پسې یو شَل ځل مې دا خولهٔ وواته
هسې په خُله وایم چي نولس به دې شَل نهٔ کړمه

حیرانهٔ دور کهٔ مې هر څو په سَر لوبې کوی
دَ پُښتنتو دَ رِواج تره به بدل نهٔ کړمه

www.pukhto.net

۲ جون ۲۰۰۸ء

دَ سر په بيعه ژوندانهٔ له مازيګر اخلو
راځه جانانه نن دا ټول کلے په سَر اخلو
ما داسې نهٔ وې چې پخپلو کښې په جنګ شو سره
ما خو وئيل چې دَ اغيارو نه سنګر اخلو
زهٔ به ليندهٔ راواخلم ته دې خپل منګے راواخله
نن په ګودر باندې خوندونه دَ ګودر اخلو
مونږ چې څهٔ نهٔ وايو اغيارو خپلې خُلې وُنيسئ
مونږ پُښتانهٔ ګورے په بيعه ځان له شَر اخلو
اول به خو دَ باجوړ نه به ګُلونه راوړو
بيا به شمله او تور قميص په پېښور اخلو
نهٔ دَ خپل سر پرواه کوؤ نهٔ سر ته سر وايو
مونږه دَ دار په سر دَ خپل مئين خبر اخلو
مونږه خو ټول عمر له سترګې خوږوؤ راځو
نهٔ دا کوڅه او نهٔ دَ يار دَ کوڅې وَر اخلو
دا چا جدا کړو دَ بربدهٔ دا تيږه چا اېښې ده
حېرانهٔ نوم دَ پُښتونخوا خو لَر او بَر اخلو

www.pukhto.net

۵ اګست ۲۰۰۲ء

دا چې دَ عَلَمو دَ پېغور ئې کۀ
خپل مئېن دَ تورو سترګو تور ئې کۀ

عشق په منصور زورور شوے دے
هاغه دے دَ دار په سر ور سور ئې کۀ

هلئ سرو غرمو زېلو زر راشئ
تور اوربل پۀ سپين جبين راخور ئې کۀ

نور به دَ ساقي لاسو ته نۀ ګورم
جام چې مې دَ برخې وو نسکور ئې کۀ

څار ئې دَ قاتل نظر نه شم
زړۀ ئې راله غوڅ کړو خو تکور ئې کۀ

چا وئيل چې حیرانؔ مينې ورك کړے دے
هاغه دے پامير ئې کۀ کهمور ئې کۀ

www.pukhto.net

یکم اګست ۲۰۰۲ء

شی پانه پانه چې یادونه ورته تول راتول شی
زړهٔ مې راتول شی چې دردونه ورته تول راتول شی
زما دَ لاسو نه جامونه مېکده کښې تښتی
هغه چې راشی نو جامونه ورته تول راتول شی
لېونی نهٔ ده چې منګے تر بر ګودره یوسی
چې منګے اخلی ګودرونه ورته تول راتول شی
هغسې زخم راله بل دَ زړهٔ په سر کښې جوړ کړه
چې مې دَ زړهٔ دا نور زخمونه ورته تول راتول شی
داسې دې وخېژی بلې ته پهٔ زېړی مازیګر
چې دَ دُنیا دا ښائستونه ورته تول راتول شی
دَ هاغه ښکلی دَ ښائست ګُلاب ته چرته رسی
کهٔ دَ سپرلی دا ګُلابونه ورته تول راتول شی
دَ یار دَ خولې یوې خبرې ته به ونهٔ رسی
کهٔ دَ حیرانؔ دَ خولې شعرونه ورته تول راتول شی

www.pukhto.net

۱۲ مئی ۲۰۱۰ء

دا څوك چي قتلوی راله پهٔ زړونو کښي پښتو
هغو راته نیولي پهٔ لاسونو کښي پښتو
پهٔ زړونو کښي ئې وګوریٔ پهٔ زړونو کښي به وی
خرڅیږی نه دَ ښار پهٔ بازارونو کښي پښتو
پهٔ شته نظر کښي تول عمر دَ ړوند په شانې ګرځم
لیدے نهٔ شم دَ غېر پهٔ قدمونو کښي پښتو
لمن پري خېروم کله پري ګوتي پرېکوَمه
ازغو کښي پښتو ګورم په ګُلونو کښي پښتو
پښتو خو یو کردار دے نهٔ وړیږی نهٔ زړیږی
ساتل غواړی دَ زړهٔ په پرهرونو کښي پښتو
دَ وخت نه مخکښي ورك شی دا رښتیا خبره نهٔ ده ؟
چي کله ورکه شوې په قامونو کښي پښتو
چي چرته به ځی خدایه دَ سَر سورے ئې ورك شوے
چا پرېښې ده په ښار کښي چا په غرونو کښي پښتو
حیرانهٔ زهٔ په زړهٔ کښي خلیلی جذبه ساتمه
پاللي مي دَ وخت په انګارونو کښي پښتو

www.pukhto.net

۴ جولائی ۲۰۰۲ء

کۀ يو سل خله ئې مړکړم خو سل خله ئې ژوندے کړم
دا نظر ستا دَ اُلفت دے په سړو کښې ئې سړے کړم

څنګ دې راوستم خپل دَر ته څنګ دې بېرته وشړلم
څومره زر زر دې راخپل کړم څومره زر زر دې پردے کړم

يو پُښتون وم يو وجود وم پۀ دې لويه پُښتونخوا کښې
دې وختونو کابلےکړم دې وختونو پېښورے کړم

په لاس لاس کښې ښکلو يوړم هر چا خپله خوښه وکړه
چا خپل حُسن ته لوګے کړم چا پۀ ګوته کښې غمے کړم

ستا دَ ښار دَ کوڅو لاړم دَ جنون په مېرو سَر شوم
دا دې څنګ په ځان مئين کړم دا دې څنګه لېونے کړم

زار شم زار شمه حيرانہؔ دَ اُلفت دَ تکي زار شم
څوک ئې هم زما زړګے کړو زۀ ئې هم دَ چا زړګے کړم

www.pukhto.net

۸ اپرېل ۲۰۰۵ء

پرېږده دَ نورې زمانې خبرې
کوه دَ خپلې یارانې خبرې
په آئینه کښې راته هُم مهٔ ګوره
یاره کوی اوس آئینې خبرې
دا چې ئې وځکې څنګ خبرې کوی
چا وئیل چې نهٔ کړې پیمانې خبرې
دَ سپکو سپکو بُنیاد دغو ابنبے
دا چې کوی درنې درنې خبرې
پهٔ مرګ ئې هم دَ زړهٔ نه نهٔ شم ابستے
پښتون جانان او پښتنې خبرې
حیرانؔ بدې په اغیارو لږې
دَ دې وطن دَ ترانې خبرې

www.pukhto.net

۱۴ مئی ۲۰۱۰ء

دَ نن زردار خنګه دَ ژوند په تنګ تکور اُودۀ شو
غریب ته وګوره دَ لوږي نه نسکور اُودۀ شو

دا زړۀ مي وائی چي دَ زړۀ نه ئي کتلی راته
دا زړۀ مي ډېره موده پس دَ زړۀ په کور اُودۀ شو

دَ دُرخانی دَ بنګړو شرنګ ئي تر نغمي رارسی
آدم خان خکه دَ نغمو دَ پاسه سور اُودۀ شو

ویښ ورته ناست یمه چي چرته پرې سوړ باد رانۀ شی
دَ پامیر غم راته په څوکو دَ کهمور اُودۀ شو

دَ توري شپي دَ خاموشی نه دا معلومه شوله
راځه راوۀځه دَ دي کلی چوغل خور اُودۀ شو

هاغه چي تلی وو هغه خلق اوس بیا راغلی
هله ملالي راشه ستا دَ تپي شور اُودۀ شو

Pukhto.Net
www.pukhto.net

تا ته کۀ خپله پښتو ودريده دَ وَر مخې ته
ما ته دَ خپل کالۀ پۀ وَر دَ وخت پېغور اُودۀ شو

دَ هر يو کور نه ژړه غُونې آوازونه خيژي
نۀ پېښور چرته اودۀ شو نۀ لاهور اُودۀ شو

نن مې په لاس کښې دَ غريب وچه نوړۍ وليده
په خښته مور دے راته ښکارې زياتې خور اُودۀ شو

دَ اشنا غم حيرانہ دا خل په پخه راغلے
دَ زړۀ په بڼ کښې مې څۀ بل قسم په سور اُودۀ شو

PukhtoNet پښتو
www.pukhto.net

۹ مئی ۲۰۰۲ء

نۀ دا دَ فرېب ډکه دُنیا اخلم
یا جانانه ستا دَ سر بلا اخلم

چرته چې سیلۍ هم ساه وانۀ غسته
زۀ په داسې ځم کښې ساه اخلم

توان دَ عزازیل دَ فرېب نۀ لرم
خدایه زۀ په تا پسې پناه اخلم

خیال چې کله ستا دَ یو دیدن کؤم
لس واري دَ مور نه مې دُعا اخلم

غم کۀ راکوې کۀ خوشحالۍ ګرانه !
ستا دَ لاسه دواړه پۀ خندا اخلم

حُسن او ځوانی مې دواړه سَم خوښ دی
چا وئیل چې دا نۀ اخلمه دا اخلم

Pukhto.Net
www.pukhto.net

سرۀ او سپین زما په نظر هېڅ نۀ دی
خاورې دَ پښتو نه دَ اشنا اخلم

تَل دي تورې شپې دَ تورو زلفو وی
ژوند له ترې ښکلا اخلم رڼا اخلم

راشه کۀ پښتنه مې دَ حال کوې
تش پۀ نوم ژوندے یم قدرې ساه اخلم

یه خلقه په یو دوه کښې حېرانؔ یمه
څنګه به اوس لاس دَ بې وفا اخلم

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

۱۲ اپریل ۲۰۱۰ء

ناست یم دَ خپل کالۀ په وَر ژاړمه
ژاړم کابل او پېښور ژاړمه

انسانیت او پُښتو دواړه مې مری
کۀ سحر نۀ وی مازیګر ژاړمه

دَ دنیا تخت و تاج مې نۀ دے پکار
دَ پُښتنو تر مینځه شَر ژاړمه

څکه دا نۀ وایم چې مندر دې وران شی
زۀ خپل جومات او خپل ممبر ژاړمه

دَ ماشوم توب بې پرواه ورځې او شپې
چې راپۀ یادې شی اکثر ژاړمه

هسې مې نوم دَ اشنا خولې له راغے
نور خو هر چرته مَسافر ژاړمه

Pukhto.Net
www.pukhto.net

ګُلي ستا تور وربل له ګُل ګورمه
لکه بُلبل په وچ ډنډر ژاړمه

دَ مخ دیدن دي په څهٔ چل کوُمه
دَ شپې سپوږمی دَ ورځې نمر ژاړمه

دواړه زما دَ ابادی ښې دی
زهٔ په ګودر زهٔ په سنګر ژاړمه

ځائي به دَ میاں شاهجهان ونهٔ نیسی
باجوړو ستاسو سَر لښکر ژاړمه

الله ته ستا دَ یو دیدن دَ پاره
وشوې مودې هر مازیګر ژاړمه

حیرانهٔ کور مې دَ پښتو ورانیږی
زهٔ پښتونخوا ژاړم خیبر ژاړمه

www.pukhto.net

۱۵ جولائی ۲۰۰۵ء

اشنا څنګ مې ښکاره شوې دَ نظر په آئينه کښې
دا ښکلی خلق نۀ ګوری اکثر په آئينه کښې
دُنيا راويخه شوې ده راخه چې چرته پټ شو
سپوږمی هُم لاړه پټه شوه دَ نمر پۀ آئينه کښې
زۀ څنګ دَ ښکُله والو پشان سرۀ کړمه لاسونه
تر اوسه مې ونۀ ليدۀ اختر پۀ آئينه کښې
دَ ښکلی يار ګاونډ ته به څوك څنګه غاړه کيږدی
مدام ئې وی دَ خپل خان سره شر پۀ آئينه کښې
واعظه نن دې څنګه سُور منګی له غاړه ورکړه
ښکاريږی جوړ ليدلے دې ګُودر پۀ آئينه کښې
رنګونه بدلوی کله پۀ يو کله پۀ بل رنګ
زۀ ستا په تصوير څنګ وکړم باور پۀ آئينه کښې
دَ حُسن دَ غروره دَ غرور پۀ غرونو خېژې
الله دې کړه ګُوذار دَ حُسن غر پۀ آئينه کښې
دا بيا دَ چا غريب دَ مرګ تابيا کوی حېرانۀ
چې سترګې توروی هر مازيګر پۀ آئينه کښې

www.pukhto.net

۱۹ جنوری ۲۰۱۰ء

دَ خېټې غم له پۀ اُوږو باندې کَمرې راوړم
تا له اوس تور قمیص په څۀ شی زوروړې راوړم

یارانو شرط نۀ دے په امن فېصله به کوو
دې فېصلې له دَ تاریخ یو څو خبرې راوړم

پۀ زمکه ناست یم تخیل مې په آسمان کښې ګرځی
دَ قام بچو له دَ الوت نوی وزرې راوړم

دا ښکرور دې خان ته دومره ګوز او پاس نۀ ګوری
کۀ په لاس راغے نو په لاس کښې به ترې ښکرې راوړم

دَ پېښور ښکلو ګذار کړیٔ دَ مغرب دا سوغات
دَ باجوړ نه درله بل قِسم ګُرګُرې راوړم

دَ تن جامې مې خرڅومه دې له وخت راغلے
دَ خپلې خاورې شاه زلمو له مې پرې زغرې راوړم

www.pukhto.net

ګودر له مهٔ ځه دَ نظره به شي يه لېونۍ
ستا قدمونو له پهٔ تا پسې ګودرې راوړم

خدايه پښتون اُولس مې بيا پهٔ خپلو ښپو ودروه
دَ سر قاتل له به مې هُم خوږې شکرې راوړم

حيرانهٔ سوزې دَ بارودو پهٔ لمبو کښې سوزې
بچې له خنګه ښارونکې او کونترې راوړم

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۲۲ دسمبر ۲۰۰۹ء

وُمې څارله هغه لاره هغه چرته راځي
راغاړې ووځه انتظاره هغه چرته راځي
زۀ ئې دَ ژوند پۀ هر ډګر يواځې پرېښے يمه
پۀ خپله مينه نااعتباره هغه چرته راځي
دَ دُنيا خلق به جرګې جرګې ور ولېږمه
ښۀ راته پته ده ربباره هغه چرته راځي
راځۍ دردونو لړې سترګې پټوؤ پرېوځو
کۀ شپه شوګير کړم تر سحاره هغه چرته راځي
کله کوځې ته راؤځم کله بلې ته خېژم
هسې مې خان ويستے دَ کاره هغه چرته راځي
نۀ راځي نۀ راځي خو زۀ وايمه چې څه رابه شي
وعدې ئې ووتې دَ شماره هغه چرته راځي
نۀ دَ لاسونو په مروړلو نۀ به راشي پۀ زور
خوانې چې ووځي دَ سينګاره هغه چرته راځي
دَ امېدونو پۀ تالونو باندې مۀ زنګېږه
حېرانه دلته ستا دَ پاره هغه چرته راځي

www.pukhto.net

۷ مارچ ۲۰۰۲ء

چې پۀ ژوندون دَ منښتوبه ووځی
سرے بیخي دَ سرېتوبه ووځی
چا ګودر وران کړو چا چینار راغوښ کړو
جونه به خود دَ پېغلتوبه ووځی
هغه اُودۀ کړه دَ بنګړو پۀ شرنګار
چې دَ بنګړو پۀ شرنګ دَ خوبه ووځی
ستا تصوّر دے نور څۀ نۀ دی ګرانه
کۀ مې تپه دَ خُلې کۀ لوبه ووځی
قاتلې سترګې دې قاتلې ساته
چې خلق نۀ وژني دَ رُعبه ووځی
دا چې پخې پخې خبرې کوی
لکه چې یار دَ ماشوم توبه ووځی
حیرانہ زَر او زور چې نۀ لری څوک
ښائسته زلمی دَ زلمیتوبه ووځی

www.pukhto.net

۲۸ جنوری ۲۰۰۸ء

تالان ګډ دے بیا دَ چا نه به دې غوارم
وریت احساسه پهٔ لمبو کې دې رانغاړم
دَ بچې نه مې پښې او سَر الوتے
زړهٔ کښې وہم ګنی پردی مړې ته ژاړم
دَ مېلمه قدر کوی کهٔ ئې دښمن وی
دَ پُښتون په دې صِفت باندې وياړم
تهٔ چې څې پرېږده چې خان په ژړا مړ کړم
چې نن نهٔ ژاړم نو بیا به کله ژاړم
ستا اُلفت مې دې په لاس رانهٔ شی یاره
خو دا خان دې دَ کوڅې پهٔ رقیب داړم
تا ته ستا دَ کور په وَر پسې ولاړ یم
هاغه نهٔ یمه چې راغلمه او لاړم
څهٔ اسره مې په دې چَم کښې پاتې نهٔ شوه
څم حیرانهٔ چې په هره ډډه لاړم

www.pukhto.net

۱۰ نومبر ۲۰۰۹ء

کله نا کله دې پرې خدایه زورور لړېږي
کاڼي راځي او دَ یتیم یسیر په سر لړېږي

زۀ دَ خپل چَم دَ غم ښادۍ نه هفته پس خبرېږم
چرته پۀ کار پسې وختې ووځم چې نمر لړېږي

یا خو آزار وربسې شوے یا نظر ملګرو
چې په اواره لار کښې ګوتې دَ دلبر لړېږي

چا په سینه پسې مره لور او چا مړ خوئې نیولے
چې دَ دې ملك پۀ کوم وګړي مې نظر لړېږي

چرته ګُلونه یوسم چرته نه ګُلونه راوړم
دَ اور ګولۍ چې په سینه دَ پښتون لړېږي

څوك چې الله یادوي خپل ځان په الله یادوي
پۀ دعاګانو خو دَ عرش دَ کعبې وَر لړېږي

www.pukhto.net

دَ هاغه پورې چم دَ خلقو نه امان غواړمه
زمونږه امن او دَ هاغو خلقو شَر لړيږی

دَ انا تکے چې يو ځل دَ چا په شوندو راشی
په نهٔ خبره ئې دَ هر چا سره ښکر لړيږی

خدايه دَ سر دَ سجدې ځائې مې هم پاتې نهٔ شو
ګولئ دننه په جومات کښې په ممبر لړيږی

نهٔ هاغه سترګې په بلئ نه په ګودر ښکاره شوې
حيرانهٔ نن خو به څهٔ بل شان مازيګر لړيږی

www.pukhto.net

۱۲ اکتوبر ۲۰۰۸ء

دَ محبت لاس چې ورنهٔ کړې دې تهٔ ګوته وائی
بد وخت راغلے دے دا بد چې خلق ښهٔ ته وائی
چې ببرغونه ترې جوړ نهٔ شی دَ شهید دَ مزار
دې لوپټې ته پُښتنې دَ ډېران خته وائی
چې بل ته درُون کوری پخپله باندې درُون شی سړے
پخپله سپک شی چې څوک سپک دَ بل چا پلهٔ ته وائی
تهٔ چې زما خبره نهٔ آورې زهٔ ستا خبره
دَ بانډو خلق دې خبرې ته انګته وائی
وارهٔ وارهٔ شرطونه مهٔ ږده دَ اُلفت فرهاد ته
سړے چې سر ماتوی غر ماتول څهٔ ته وائی
دَ پُښتنو ښهدارول ما ته څهٔ داسې ښکاری
لکه نعرې چې سړے مړی یا کاڼهٔ ته وائی
دَ سترګو جنګ له دَ نازونو نامه مهٔ ورکوه
پهٔ دغه پورې چَم کښې دې چل ته ښښته وائی
حیرانهٔ نهٔ شی دَ حیاء نهٔ چا ته پورته کتے
څوک کهٔ پخپله ډېره هر څهٔ پُښتانهٔ ته وائی

www.pukhto.net

۱۸ اګست ۲۰۱۰ء

وخت او حالاتو راپسې تړلے لام ګرځه
دَ زړۀ پۀ غولی کښې مې ډېر اشنا پۀ پام ګرځه

دَ خپل کالۀ پۀ دُرشل مۀ کښېنه کۀ خان شته کوې
دَ قام وګړیه کله کله بۀ خپل قام ګرځه

زما دَ زلفو ماښامی پۀ رڼا ورځ مۀ غواړه
پۀ خړه خړه تُروږمی کښې دَ ماښام ګرځه

تشه بوتۍ ئې نۀ دې پښې شته نۀ دې سر بچیه
دا درته چا وې چې پۀ ښار کښې دَ باګرام ګرځه

کۀ دَ دې دور نه عزت غواړې دولت وګټه
دَ بدنامۍ دَ هر یو کار پۀ سر نښک نام ګرځه

ټول کلے وران کړه دې ټول کلی له سرونه مات کړه
بس دَ دې کلی یو ملک ته لاس پۀ نام ګرځه

www.pukhto.net

په تکبر نۀ زمکه شلیږی نۀ اسمان راؤلیږی
دَ خدائې بنده لږ پۀ دې زمکه په آرام ګرځه

زۀ به درځم زۀ به دا سَر ستا په کوځه کښې شیندم
جانانه تۀ دَ خپل ښائست دَ چم پۀ بام ګرځه

دَ تن واکداره پۀ سم ځائې دې پښه کښې نۀ ښوده
یو ځل به وګورې پخپله خپل انجام ګرځه

لویه دُنیا ده خوشامندې دَ یو تن مۀ کوه
حېرانهٔ ټول انسانیت ته پۀ سلام ګرځه

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

**۵ مئی ۲۰۰۵ء**

چا وئیل دَ دار په سر دیدار نهٔ کیږی ؟
خو دَ سرونو پکښې شمار نهٔ کیږی
ستا دَ اوربل پهٔ سهوری ساه اخلمه
سود مې په سهوری دَ چینار نهٔ کیږی
حالات ښهٔ نهٔ دی خپله لاره نیسه
زمونږه تګ په یوه لار نهٔ کیږی
خپل سرېتوب چې په سرې کښې نهٔ وی
په پردی ناسته پاسته کار نهٔ کیږی
په مغربي ډالو دې شرق پورې شی
اوس خو پرې دلته وار نسوار نهٔ کیږی
زهٔ ستا جنون له غاړه هم ورکوم
زما نه دومره انتظار نهٔ کیږی
دومره داغونه مې دې اېښی په زړهٔ
چې دَ شمارلو ئې هم شمار نهٔ کیږی
زهٔ چې بې کارو ته کارداره وایم
حیرانهٔ بې دَ دې نه کار نهٔ کیږی

www.pukhto.net

۷ نومبر ۲۰۱۱ء

زۀ دَ يارانو دَ يارى ځني نفرت نۀ کوّم
دا به رښتيا وى چي سر تيتے محبت نۀ کوّم
زۀ خو به هر کار کښي دَ پاك الله رضا لټوّم
زۀ عبادت صرف دَ پاره دَ جنت نۀ کوّم
سر ورکوؤ خو دَ سر سورے چا له نۀ ورکوؤ
په يارانه کښي درغلى په يو صورت نۀ کوّم
هغه چي ما په دار کوى خبر دے په دار دي شمه
زۀ خو توهين دَ يار دَ زړۀ دَ عدالت نۀ کوّم
ما ترې پۀ لېه کښي يو لپه محبت وُغوښتو
اشنا وئيل غلے کښېنه لوبي پۀ اُلفت نۀ کوّم
زۀ چي سر اُوبائيلم خان وګتم سنګر وګتم
زۀ خو پُښتون يم سپکاوے دَ خپل ملّت نۀ کوّم
زۀ په دښمن کښي هُم صفت ګورم صِفت ئي کوّم
کله به هم دَ ښځونك جانان صِفت نۀ کوّم
ما پکښي لوبي کړى ما پکښي خرپوځي کړى
حیرانۀ ځنګ به پۀ دي خپل وطن غېرت نۀ کوّم

www.pukhto.net

۲۲ اګست ۲۰۰۹ء

دا چې په سمه او په غر جنګ دے
زما په مال زما په سر جنګ دے

لا چې سرېږی پسې ښۀ تودېږی
دا جنګ دَ سوری او دَ نمر جنګ دے

خدایه دَ سر سورے به چرته ګورم
دَ دې وطن په هر ډګر جنګ دے

دَ خونړی ماحول اثر پرې شوے
دا چې دَ پېغلو په ګودر جنګ دے

دَ پښتونخوا دې پښتنو ته وایم
ښۀ نۀ دے لر دے او که بر جنګ دے

زۀ به څۀ جنګ دَ بل په وَر کښې جوړ کړم
لا مې دَ خپل کالۀ په وَر جنګ دے

www.pukhto.net

بیا چې دَ تور قیمص نامه وانهٔ خلې
زما دَ زړهٔ په ښښور جنګ دے

دَ وخت قاضی به دَ چا مرسته کوی
بیا دَ غریب او زورور جنګ دے

ما له پهٔ دې حالت کښې خوب نهٔ راځی
لر مې دَ مخ نه کړه ښادر جنګ دے

خلق دې وائی چې به امن راشی
زما پرې نهٔ راځی باور جنګ دے

حیرانهٔ ښترګې به پهٔ چا خوږوم
یاران مې ټول شو دَر پهٔ دَر جنګ دے

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

**۵ فروري ۲۰۰۵ء**

په خُله مې لاس مۀ ږده چې وخت مو دَ خبرو نۀ دے
دا چَم زمونږ دے دَ ښائست دَ زورور نۀ دے

دلته په تول وطن دَ اوسپنو بازونه ګرځي
دا وخت بچیه دَ ساتلو دَ کوترو نۀ دے

زما پۀ ښپو کښې لا همزولو دَ پښتو ښرې دی
زۀ غرۀ له نۀ خمه دا اوس وخت دَ ګورګورو نۀ دے

دا څۀ دَ کلی ډاګه نۀ ده ښکلو لاره نیسئ
پۀ زړۀ مې یو لالے خائیږی د لښکرو نۀ دے

که تۀ اسمان ته خېژې تا سره اسمان ته خیژی
په تا مئین زړۀ مې جانانه بې وزرو نۀ دے

ما تل ګټلے داؤ دَ مینې پۀ خاطر بائیلے
زما فطرت لکه د نورو جوارګرو نۀ دے

www.pukhto.net

دَ سترګې ژوند قیصه به تا ته اشنا بیا کومه
دَ لارې سر دے څه چې څو وخت دَ خبرو نۀ دے

دا چا کړلے دے او چا وې چې کړل به غوارې
دا دَ نفرت کَر چې دَ دې کرونده ګرو نۀ دے

نۀ ئې ولاړ پرېږدمه نۀ ئې پکښې ناست پرېږدمه
دا ملک حیرانهٔ دَ مغرب دَ جنګ بیرو نۀ دے

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۳۰ نومبر ۲۰۰۸ء

مرمه دَ دردونو نه مې ساه ووځي
راشه دَ فکرونو نه مې ساه ووځي
ښۀ ئې په تېرو ښو راو کنه
ياره دَ زخمونو نه مې ساه ووځي
وچه للمه زمکه ده باران غواړي
خدايه دَ فصلونو نه مې ساه ووځي
بيا دَ مُغل خېلو په ډک کښېناستۀ
ښکارى دَ قامونو نه مې ساه ووځي
هله نيمې لارې له رامنډه کړه
نور دَ قدمونو نه مې ساه ووځي
غېرو دَ بارودو به اور وسېزل
سوزى دَ ګلونو نه مې ساه ووځي
ياره چې ستا حُسن ته حيرانؔ نۀ شوم
اوس دَ غزلونو نه مې ساه ووځي

www.pukhto.net

۹ نومبر ۲۰۰۸ء

مونږ په زړګي دننه سوزو په خُله شور نۀ کوؤ
مونږ محبت کوؤ اشنا کلی په زور نۀ کوؤ

وخته بې وخته خوشحالی راپسې څۀ له راوړې
مونږه دَ مړو جنازې په تنګ تکور نۀ کوؤ

مونږه انسان له راځو مونږ انسانیت له راځو
مونږه تندی ته ګورو مونږ پروا دَ شکور نه کوؤ

هسې اغیار بهانه کوؤ خان له بهانې جوړوؤ
مونږه په خپلو کنبې په خپله کلے کور نۀ کوؤ

نۀ به پښتون پاتې شی نۀ به پُښتونخوا پاتې شی
دَ ملاکنډ دَ سر تیپه چې په کبمور نۀ کوؤ

مونږ دَ کابل هره دره هره کوڅه ژړلې
یواځې غَم دَ پېښور او دَ لاهور نۀ کوؤ

www.pukhto.net

بې مینې خلق ئې لوګي او نهٔ لمبه شی لیدے
لکه چینار په ډډ سوزیږو ښکاره اور نهٔ کوؤ

دَ خپل پښتون دَ پټی ساګ راته حرام ښکاریږی
حصه دَ ورور پکښې کوؤ حصه دَ خور نهٔ کوؤ

دا انسانان جدا کوی دا فاصلې راولی
حیرانهٔ غږ دَ قومیت دَ تکی نور نهٔ کوؤ

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

۵ مئی ۲۰۰۸ء

یاره چې دا ستا په لور قدم اخلم
دا لکه په بیعه ځان له غم اخلم

زۀ ئې په پردی اشر کښېږ نۀ وژنم
قام له دَ ټوپك په ځائې قلم اخلم

زۀ دَ خپلو اوښکو په بدل ګرانه
اخلمه خو خاورې ستا دَ چم اخلم

حق دَ بندګۍ به دې پوره نۀ شی
خدایه که دې نوم په هر قدم اخلم

بیا مې تولهٔ ورځ په غرمو تېره کړه
لږ دې دَ اوربل په سوری دم اخلم

وخته تا به هم په قلار پرې نۀ ږدم
ستا نه به بدل ستا دَ سِتم اخلم

www.pukhto.net

تُوره دې تېره لاس دې دَ پلار آزاد
خوله به درنه خامخا چې ځم اخلم

زۀ دَ رِواجونو پروا نۀ کوم
نوم دې دَ خپل نوم سره صنم اخلم

څومره محبت چې مې درکړے دے
هاغه درنه نۀ غوارمه کم اخلم

زور او زَر که نۀ لرم خو نۀ دې وی
زړونه په اُلفت دَ ټول عالم اخلم

ګرانه چې راځمه ستا کوڅې له اوس
کله قدم وران او کله سم اخلم

شرق دې دَ مغرب په ګلاب پرېوځی
زۀ حیرانؔ دَ خپل وطن شړشم اخلم

www.pukhto.net

۲۲ اکتوبر ۲۰۱۰ء

په ژوندانهٔ دَ ژوند مرام نهٔ پرېږدم
دَ بربادۍ په لور مې قام نهٔ پرېږدم
نن دې په ډک محفل کښې نوم اخلمه
دَ محبت تکے ګُمنام نه پرېږدم
که مې دوست مند که مې دښمن سرے دے
چې راشي مخې له سلام نه پرېږدم
دَ دې نه ښه دیدن دَ ښکلو کیږي
دا بلې نهٔ پرېږدم دا بام نهٔ پرېږدم
که مې په خان نهٔ کړي تاوان جانانه
دا کلے هم په بل څهٔ نام نهٔ پرېږدم
پکښې سحر او مازیګر دواړه دي
دَ تورو څڼو تور ماښام نهٔ پرېږدم
حیرانؔ زهٔ وېم که په سر مې ګرځي
غېږ په کوڅو کښې دَ باګرام نهٔ پرېږدم

www.pukhto.net

۳ اکتوبر ۲۰۰۸ء

اشنا چې وخت رقیب رقیب شی آخر څۀ به کوؤ
دَ محبت په لاره تلۀ او که کاتۀ به کوؤ
ورکه دَ ښار بې روزګاری شه په بانډه کښې اوسو
چرته په غر کښې خپلو ګډو له وابښۀ به کوؤ
دَ قام وګړیه مایوسی خو څۀ معنیٰ نۀ لری
دَ قام دَ پاره هره لوبه په خپل زړۀ به کوؤ
پۀ پردی کور کښې زمونږ څۀ کار دے چې هر څۀ کوی
مونږه دا خپلې فیصلې په خپل کالۀ به کوؤ
لکه خراړه ځان دَ زمکې په سر مۀ ورکوه
لکه شاهین په دنګو غرونو الوتۀ به کوؤ
څوک مې دَ امن په نوم وژنی څوک دَ شر په نامه
ملګرو نن صبا باور دَ چا په خولۀ به کوؤ
دَ اُلفت لارې به تول عُمر له آبادې ساتو
حیرانۀ تل په دغو لارو تلۀ راتلۀ به کوؤ

www.pukhto.net

۱۸ نومبر ۲۰۰۹ء

ښکلو کۀ وندر نه سر ایستلے دے
ما دَ زړۀ دَ کوره وَر ایستلے دے
مونږه دَ سپوږمۍ په لار یو بل خو
مونږ پکښې دَ منځه غر ایستلے دے
هاغه خلق مۀ وژنۍ دَ شر په نوم
چا چې دَ دې ملك نه شر ایستلے دے
بیا به دَ چا زړۀ سورے کوی ورځې
بیا ئې دَ ښو خنجر ایستلے دے
څوك چې په دې خاوره کښې نفرت کرې
هاغو ترې دَ مینې کر ایستلے دے
مونږ دَ هر شر خوښې نه مات کړے دے
یا مو ترې په لاس کښې ښکر ایستلے دے
دا خوږ شوی زړونه محبت غواړی
دوی دَ خیاله زور او زَر ایستلے دے
ژاړمه حیرانهٔ پښتنانهٔ ژاړم
چا ترې وحدت لر او بر ایستلے دے

www.pukhto.net

۲ اګست ۲۰۰۹ء

دا چې دَ یو بل نه نفرت نهٔ کوی
دا خلق ولې محبت نهٔ کوی ؟

ځوك چې دَ خدائې په مخلوق زړهٔ نهٔ سیزی
هغه دې طمع دَ جنت نهٔ کوی

چې صبر نهٔ کوی نو څهٔ به کوی
صبر چې ځوك په مصیبت نهٔ کوی

ما دَ زردارو ځم له مهٔ وروله‌ئ
ما نه ګیله زما غُربت نهٔ کوی

چا چې سر ایښے دَ مجاز په کرښه
ولې لټون دَ حقیقت نهٔ کوی؟

خواږهٔ یاران به رانه خود بیلیږی
چې ملګرتیا مې خپل قسمت نهٔ کوی

www.pukhto.net

دَ نفاق غږ چې په کوم کور کښې ووشی
وَر پکښې هیڅ شے برکت نهٔ کوی

هاغه وګړے راته مړے ښکاری
چې په رښتیا دَ قام خدمت نهٔ کوی

حیرانهٔ ځان ته دې اتل نهٔ وائی
په چا چې فخر خپل ملت نهٔ کوی

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

یکم جولائی ۲۰۰۹ء

سوزی به خود زما په کور باران وریږی
خدایه تر څو به دا دَ اور باران وریږی
چرته به څو دَ خوشحالی ځائي به اوس چرته ګورو
چي دَ غمونو په هر لور باران وریږی
راځه دښته مروره بهر مهٔ ودریږه
څومره په زور څومره په شور باران وریږی
دَ تهمتونو کاڼي هم په خپل ځائي پاتي نهٔ شو
کله په سپین کله په تور باران وریږی
زهٔ دي په زړه کښي ځایوم ما به په زړهٔ ځایوي
چي په خوله غړ ونګړي نور باران وریږی
زړهٔ مي خوږیږی لېونے جانان به چرته ګرځی
دَ کوره وتے دے سرتور باران وریږی
زهٔ دَ دي وخت دَ زورورو نه هېڅ نهٔ غواړمه
رور مي دي نهٔ وژني په رور باران وریږی
څهٔ چل خو دے دَ مېکدې ساقی حیرانؔ ولاړ دے
ساغر دے هغسې نسکور باران وریږی

www.pukhto.net

۳ جنوری ۲۰۰۹ء

کۀ سترګې غړومه راوېښېږي اودۀ ښۀ دے
ښائست دَ یار دَ سترګو مې په سترګو کښې اودۀ دے
زما هر یو ارمان ستا دَ قدمه لاندې ووځی
کۀ تۀ وائې چې نۀ دے زه به هم وایم چې نۀ دے
ځان مه بوله کوه اے دَ ساده حُسن جانانه
چې جنګ مې ستا پۀ سر نۀ دے نو ووایه پۀ څۀ دے
اُلفت کوی اشنا خو دَ نفرت دَ ټکی لاندې
دا یو ټکے ئې ښۀ دے خو دا بل ټکے ښۀ نۀ دے
پرائیستې تنې. کرخې دَ دې غرونو سربازانو
دا دګ دَ پښتانۀ دے دا وطن دَ پښتانۀ دے
زما دې فرهادی عشق ته غرونه نۀ ودرېږي
رقیب دَ کوم بڼ ډکے دے رقیب پکښې لا څۀ دے
دوه رنګې نامه مۀ ورکوه وخته زما قام له
هغه په یوه پوهه دے دَ دې خبرو نۀ دے
دَ هرې رقابت نیولې لارې سر ته ګورم
حېرانۀ دَ یار نوم زما په خُلۀ زما په زړۀ دے

www.pukhto.net

یکم اګست ۲۰۰۸ء

تا کۀ تاج دَ مینې راپه سر نۀ کۀ
ما هم یو زره زړۀ لر و بر نۀ کۀ

منمۀ بس یو انسانیت منم
یو انسان په بل ئې معتبر نۀ کۀ

لارې ئې په خپله غلو ته وښودې
پورې چا دَ خپلې قلعه وَر نۀ کۀ

هغه ورخ به څۀ رنګې راياده شي
هغسې جنګ جوړ دې په ګودر نۀ کۀ

یه دَ نن پُښتونه نور به څۀ کوې
وران دې سَم دَ ښخه پېښور نۀ کۀ

ښۀ وه راته پته چې بیا نۀ راځې
لاس مې دَ حیاء نه یار له ور نۀ کۀ

www.pukhto.net

څان چې دَ الله دَ دين تابع نۀ کړي
جام دې پورته خولې ته دَ کوثر نۀ کۀ

څۀ به دې په زيړ مازيګر ياد کړمه
خيال دې راپه زړۀ دَ مازيګر نۀ کۀ

ځنګه دې حېرانؔ حېرانؔ راوکتل
چا درله ټکور دَ زړۀ پرهر نۀ کۀ

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

سوزېږي دَ زړۀ دشته په باران پسې ئې ورمه
خپل کور مې په سر کړے په جانان پسې ئې ورمه

احساس مې لکه جل وهلې پاڼه پکښې زېړ شو
بهار پرې ښۀ راڼغے په خزان پسې ئې ورمه

دَ ګټې مخ مې نۀ دے لا تردې وخته لیدلے
دا څه سپېرۀ تندے دے په تاوان پسې ئې ورمه

په غم پسې مې تول عمر دا زړۀ دَ غمه وړے
دا هسې به مې وې چې اطمینان پسې ئې ورمه

ښه نۀ دي چې په تور اوربل دې ګلې قطار نۀ کړۀ
تۀ راکه دا ګلونه په باغوان پسې ئې ورمه

حېرانه ستا غزل دَ پښتونخوا دَ پټکي ګل دے
چې هر چرته اوسیږي پۀ افغان پسې ئې ورمه

www.pukhto.net

یکم جولائی ۲۰۱۲ء

نۀ به څوک خپل نۀ به پردے ګورو
ګورو پټکی له به سرے ګورو
دَ بنیو غشو له وار مۀ ورکوه
مونږ په قلار به خپل زړګے ګورو
دَ کلی خلق دي مونږ نۀ رغوی
راځه اشنا څوک لاروے ګورو
ښُبنتنو څنو له ګلونه راوړو
دا په خزان کښې چې سپرلے ګورو
پته به لګی چې میدان ته وځو
هلته به هر یو شازلمے ګورو
ځان له پۀ نمر او که پۀ سیوری کښېنو
تا له دَ ناستې پاستې ځائې ګورو
حیرانۀ خپلې بې وسی وخوړو
څۀ به دَ ښار مازیګرے ګورو

www.pukhto.net

ګرځي دَ خلقو په سرونو زورور ګرځي
زورور یار مې ښې پرېښی دې په سر ګرځي

پُښتنو پاڅئ پُښتنې درنه سرتورې شولې
خبرونه غوارې په پنجاب کښې دَر په دَر ګرځي

نۀ مې په سمه کښې پرېږدي نۀ مې په غر کښې پرېږدي
راپسې شوی ظالمان په سمه غر ګرځي

دَ ملالۍ دَ ټپې غږ ته رسېدلے نۀ شي
که ملا ترلی بې پُښتو خوانان لښکر ګرځي

زما دَ کلي مازیګر مازیګرونه شیندی
زلمی په غرۀ کښې پېغلې ښکته په ګودر ګرځي

نشته په ټوله پُښتونخوا کښې خوشحالی نشته
چې دَ غم وریځې مې په ښار دَ پېښور ګرځي

www.pukhto.net

پښتون لالیه ما په تا او تا په ما وژنې
دَ رورولۍ په نوم اغیار دې لر و بر کړځي

حېرانؔه خوب به مې دَ زړۀ سترګو له ښنګه راشي
دَ زړۀ په غولي مې یادونه دَ دلبر ګرځي

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

یکم نومبر ۲۰۰۷ء

تلے چې تل دَ ژوند په لار سرے دے
لاس ورکول غواړي دَ کار سرے دے
هره ارزو ئې ساه وتلې ښکاری
کۀ بې روزګار کۀ پۀ روزګار سرے دے
اسانه نۀ ده چې په لاره به شی
بې لارې شوے چې په لار سرے دے
پام کوه څرخ دې کلی واله نۀ کړی
په چل ول پوهه دے دَ ښار سرے دے
چې دَ بل اوری خپله زړۀ کښې ساتی
په هوښیارانو کښې هوښیار سرے دے
چې دَ یوې لارې سرے دے چرته
په نننی دور کښې خوار سرے دے
چې دولت مند وی نو که هر څنګه وی
ټول خلق وائی چې بس یار سرے دے
طبیبه ستا په دارو نۀ رغیږی
حیرانؔ دَ عشق دَ رنز بیمار سرے دے

www.pukhto.net

تا چي دَ بام په سر دَ خپل حُسن قیصه کوله
زما جُنون دي بې اختیاره تماشه کوله

دَ تماکو په پاڼو چرته څوك مرګونه کوي
دا هسي توقه ښېر عالم په مېمونه کوله

دَ وخت نه مخکښي زور دَ هغه چا اوبۀ اوبۀ شۀ
چا چي دَ وخت دَ زورورو ملازه کوله

پرېږده چي مات مي کړي دَ تورو زلفو تور ښاماران
چا راته وئيل چي ما په دې ځنګل کښې شپه کوله

زړۀ مي خوږېږي دَ خپل بڼ مازيګرے راياد شو
ما به دَ يار دَ غمه هلته يو تپه کوله

نن مي په ځان پسې دوه درې کرته بيا خاندلې
ځان ته مي ستا په سر نن توله ورځ ګيله کوله

www.pukhto.net

نۀ مې دَ کلی نه غوښتۀ نۀ مې څۀ ستا نه غوښتۀ
لږ مې ستا دَ دېوال سوری ته دمه کوله

هرې ادا دې راته ست دَ محبت کولو
ما به تر کومې ستا ښکلا ته حوصله کوله

دا خو چې تنګ شو نو په جنګ شو دَ حالاتو سره
ګنې حېرانہ مونږ خو دېره ګُذاره کوله

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

یکم اګست ۲۰۱۲ء

چې دنیا دې نامه اخلی څۀ دې خیال دے
ستا دَ حُسن که زما دَ عشق کمال دے
محبت دَ صداقت په رشته کیږی
نه په زور تر اوسه شوے نۀ په سوال دے
څنګه درشم دَ دیدن خواږۀ دی راوړم
رقابت راته په لارو کښې دیوال دے
پۀ اتڼ کښې دواړه یوشانې څیرېږی
کۀ زما غریب شړی دہ که ستا شال دے
یا مې ستا په مینه شک دے یا په خپله
نن مې دوه خل په پالی کتلے پال دے
خلق بیا دَ مدینې په چغو سر شو
دا دَ بانګ غږ راته ښکاری دَ بلال دے
چې پېغام دَ ژوندانۀ راتۀ وړی قام له
دا ژوندے سړے دَ مړی په مثال دے
چې تر دې راشمه کانی وی او زۀ یم
دا برکت دې دَ کوڅې که دَ وِصال دے

www.pukhto.net

که دا دواړه نۀ وی خدایه یو خو راکړه
قیمتی دے کۀ جلال دے کۀ جمال دے
دومره کلکه غاړه مۀ راکوه ګرانه
دَ خولو بوئې رانۀ خیژی پشکال دے
دَ بارودو لوګی بیرته راستانۀ شو
دَ بارون په سر درو باندې شمالؔ دے
دَجانان په شانې خوږ خوږ راته لګی
دَ حېران غزل دې دور له مِثال دے
دَ خپل ځان غمونه مۀ ژاړه حېرانهٔ
پۀ دې دور کښې خو هر سړے ملال دے

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

يکم جنوري ۱۹۹۸ء

دَ زړګي دَرد له مي تکور راکوی
ما له چي څوك دَ يار پيغور راکوی
دا چي کاږهٔ واږهٔ په ترخ راګوری
راله دَ زړهٔ په کور کښي کور راکوی
دا ستا نامه چي رقيب اخلی کله
پهٔ دي خبره ماله زور راکوی
مرم چي سرتوره زنانه اوينم
ما له احساس دَ خپلي خور راکوی
په ما زما دَ پټی فصل رېبی
دا چي اغيار په لاس کښي لور راکوی
سر دَ دي خپل وطن په سر شيندمه
چي مي په مرينې غېږه مور راکوی
دَ عشق جنون ته حيرانؔ ودرېږمه
وېم چي به مخه په کوم لور راکوی

www.pukhto.net

۱۲ اکتوبر ۲۰۰۹ء

دا خو نه چې په شکلونو ښائسته يُو
محبت کوو په زړونو ښائسته يُو
دَ بنګلو ښائست زمونږه ښائست نهٔ دے
دَ دې خاورو په کورونو ښائسته يُو
هر انسان ته دَ خپل ځان په نظر ګورو
بس په دغسې جرمونو ښائسته يُو
زما ښکلی دَ سينګار محتاجه نهٔ دی
باجوړ دے په ګُلونو ښائسته يُو
آبادی ده بربادی نهٔ ده ملګرو
په حُجرو او جوماتونو ښائسته يُو
پُښتنو پردی لِباس ته مهٔ پسخېږئ
په شَملو او په برېتونو ښائسته يُو
دَ دنيا سره سيالی کوو حيرانهٔ
خدائې شته ستا په غزلونو ښائسته يُو

www.pukhto.net

۲۹ مارچ ۲۰۰۷ء

چې مېلمه دې کرم ساقي په مېخانه کښې
خپل نظر پرېږده په هره پېمانه کښې

دا چې پورته شي اوګوری آئینې ته
لکه ګوری آئینه په آئینه کښې

یو سرے دَ یرې ګوتې وروړے نۀ شي
تور ښامار پروت دے دقام په خزانه کښې

دَ کم ظرفو نظرونه به دې وخوری
دَ یار غمه شه راپټ مې په سینه کښې

هغه خلق په پالی پالونه ګوری
چې نصیب ئې شي کوټه په یارانه کښې

په مستۍ کښې دَ نېستۍ خوندونه اخله
ژوندون مۀ تېروه تل په تنانه کښې

www.pukhto.net

دَ بنو تبغ مې په زړهٔ ټکواهۀ داسې
لکه مېخ چې سړے ټک وهی چنهٔ کښې

راشه تولې مقبرې ته دعا وکړه
په خازو دې راته ناستې خارونکې

خپل پردے ګوره په یو نظر حیرانهٔ
کهٔ خپل نوم ساتې ژوندے په زمانه کښې

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۱۰ فروری ۲۰۰۷ء

خُدا ے زړهٔ چې دَ چا دَ خولې ښېرې راپسې شوی دی
هر طرف ته سوزمه لمبې راپسې شوی دی

دا چې مې ګرېوان دَ هر طرفه شوکېدلے دے
دا خومې یاران دَقافلې راپسې شوی دی

ړوندئ کړمه ستا دَ سپین جبین په سپین سبا پسې
ستا دَ زلفو تورې شپې راپسې شوی دی

خیال مې دَ توبې دَ ماتېدو په خیال کښې ګرځی اوس
زهٔ که پسې نهٔ ځم مېخانې راپسې شوی دی

ماته وائي هغه ور او سر دَ هېرېدو نهٔ دے
خپلې ترمې اوښکې مې جرګې راپسې شوی دی

ما وئیل چرته ستادَ دېوال سوری ته به کښېنمه
نهٔ مې پرېږدی سرې دَ هر غرمې راپسې شوی دی

www.pukhto.net

دا چې دَ جامونه مې دَ عطرو خوشبو ئې خېژی
دا خو مې دَ یار دَ مخ خولې راپسې شوی دی

خدایه دَ مغرب دَ زورورو زور اوبهٔ کړې تهٔ
دا دې راپسې دی تر کوځې راپسې شوی دی

یو سر مې په کار دے چې دې وخت له په سر وګرځی
شتهٔ سرونه ډېر دَ جنازې راپسې شوی دی

نور به وائی نه چې دَ دیدن بام ته راوخېژه
په زما حیرانهٔ ډېرې خولې راپسې شوی دی

www.pukhto.net

۲۳ اپریل ۲۰۰۷ء

تل چې دا ستا دَ راتلو لار ګوري
دا وریت نظر مې ځان له کار ګوري

اوتر اوتر په مقبره کښېږي ګرځي
څوك لېوني دَ چا مزار ګوري

دا چې دَ امن امن چغې وهي
دا سرې ځان له څۀ روزګار ګوري

ما وې دا ښکته دَ حیاء نۀ ګوري
لالې مې کاڼې دَ ګُذار ګوري

ورکۀ خو تل په وازه خوله مُنده شي
څوك به په پټه خوله ورك یار ګوري

په تا مئېن که په غرمو تاویږي
تا له یخ سورې دَ چینار ګوري

www.pukhto.net

زۀ چې په خپله خپل غزل ګورمه
لکه چې روند سړے اخبار ګوری

حیرانه سترګې په بل لور واړوه
مړه هوښیار سړے یو وار ګوری

❀❀❀

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۲۵ جنوری ۲۰۱۱ء

دا چې لمنه دَ دوران نیسی
اشنا په وچه کښې میان نیسی

لاس دَ هغو خلقو تش پاتې مهٔ شه
لاس چې رحمت ته دَ رحمان نیسی

څهٔ به دَ ژوند مرام ته ورسیږی
چا ته چې لارې تربوران نیسی

خار شم دَ یار دَ دې پېرزو نه خار شم
دا چې په اور مې هر ارمان نیسی

ما که خبر غوښتے خو دَ خبر دَ پاره
دا وخت په څهٔ زما ګرېوان نیسی

فکر مې دې انسانیت ته واخلی
انسان چې لاره دَ انسان نیسی

Pukhto.Net
www.pukhto.net

لکه چې خپل تاريخ ته اوس نۀ ګوری
دا اوس چې څوك افغانستان نيسی

دَ بنګړو شرنګ چې په ګودر کښې ووشی
ما دَ بلی په سر پېريان نيسی

زۀ دَ کوټې په ګټ کښې نۀ کښېنمه
دَ ملك سرحد مې دښمنان نيسی

خدائې دې دَ چا نه داسې کار نۀ کوی
چې ورته ګوته خپل خپلوان نيسی

دَ يار دَ سترګو نه حياء ورغلې
دا لاس چې سترګو ته حېرانؔ نيسی

۳۰ اپرېل ۲۰۱۰ء

راشي مازيګر خبرې نۀ کوی
اوس خو په ګودر خبرې نۀ کوی

وې لېدۀ دَ شر او دَ اَشر قيصه
اوس به څوک دَ شر خبرې نۀ کوی

ماله خو دې ياره مازغۀ وخوړۀ
ښکلې خو اکثر خبرې نۀ کوی

داسې په بې درده جانان واؤختم
ورې مې دَ زړۀ سر خبرې نۀ کوی

ډېر دَ لارې خلق ئې بې لارې کړۀ
چا وئيل زور او زر خبرې نۀ کوی

کډې دَ کابل ښکلو ترې کړې دی
ښکلې پېښور خبرې نۀ کوی

www.pukhto.net

ډزو دَ توپونو ګُنګیان کړی دی
غرونه دَ خېبر خبرې نۀ کوی

خُدا ے زدۀ په پښتون لالی مې څۀ وشو
ځی کېږه په سر خبرې نۀ کوی

لاړه دَ حېرانؔ نه دَ ځوانی نشه
ګرځی مرور خبرې نۀ کوی

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۱۳ جنوری ۲۰۰۷ء

مونږ دَ تریو تندی دَ پیمانې خبرې پېژنو
پېژنو ساقي دَ یارانې خبرې پېژنو
دا دې راته نۀ وائی چې زۀ په تا خوږېږمه
ښې دَ دې بې رحمه زمانې خبرې پېژنو
ګرانه پکښې مۀ ګوره صبا به څۀ او څۀ وائی
مونږ دَ دې دوه مخې آئینې خبرې پېژنو
دا پکښې چا خپلې اوتې بوتې ورځائې کړې دی
ښې دَ دې وطن دَ ترانې خبرې پېژنو
مونږ په تمامې انسانیت کښې محبت غواړو
نۀ دَ بدنیتۍ نۀ دَ کښینې خبرې پېژنو
هسې مو جانانه ستا دَ غمه پرې پښه راښکله
مونږه پُښتانۀ او پښتنې خبرې پېژنو
هسې دې حیرانؔ خان په زور ناجانه کړے دے
تا خو به وې مونږ درنې خبرې پېژنو

www.pukhto.net

۲۳ مئی ۲۰۰۷ء

چې سر ونهٔ شي‌ندی مېدان سرے ګټلے نهٔ شي
چې ځان ونهٔ بائيلي جانان سرے ګټلے نهٔ شي
چې اودهٔ نهٔ شي دَ وختونو په سکروټو باندې
لکه خُباب غُندې ايمان سرے ګټلے نهٔ شي
زړونه خپليږي خو دَ مينې په رشته خپليږي
بغير له دې زړهٔ دَ انسان سرے ګټلے نهٔ شي
چې دَ غزل مضمون ته وينې دَ زړهٔ ونهٔ بخښي
ښکاره خبره ده عنوان سرے ګټلے نهٔ شي
دَ خدائې مخلوق چې ناقراره کړی دَ ځان دَ پاره
ځان له په ژوند کښې اطمينان سرے ګټلے نهٔ شي
چې سر ونهٔ شيندی دَ تول انسانيت دَ پاره
يو ځان دې سر وُخوری يو ځان سرے ګټلے نهٔ شي
حیرانهٔ قدر چې دَ ځان په شان دَ بل نهٔ کوی
نامه په ژوند دَ قدردان سرے ګټلے نهٔ شي

www.pukhto.net

۳ نومبر ۲۰۰۷ء

مازيګر کۀ دَ بې مينو په لاس ور شي
نۀ به پاتې شي منګے نۀ به ګودر شي
دَ زړۀ سوی له مېخانې له خم راځمه
دا خو نه چې په ما نفس زورور شي
په وطن چې مې داسې لمبې بليږي
څۀ به پاتې شي چينار څۀ به نښتر شي
دَ جنګ ګټه او تاوان دې دواړه ورك شي
چې سر تور پکښې يو خله پېښور شي
يو قوت ئې ودريدے مخې ته نۀ شي
يوه چغه پښتانۀ کۀ لر او بر شي
روستو پاتې شي دَ وخت دَ سرپټوب نه
هغه خلق چې په خپلو کښې په شر شي
ستا په مينه کښې دې خپل زړۀ ته حېرانؔ شم
کله نرم لکه موم کله کمر شي

www.pukhto.net

۲۷ اکتوبر ۲۰۰۷ء

کلك مې نیولے وۀ زړګے په لاره
ستا په رنګ تېر شو لار وے په لاره

سترګې دَ وخت سترګو ته مۀ تیتوه
تیټ چا ته نۀ ګوری سرے په لاره

سلام دَ هغه انسان زړۀ ته سلام
چې ترې جُدا شی خپل پردے په لاره

شاهد چې ستا په ښپو کښې نتوځی
مۀ کره بل چا ته ازغے په لاره

خدائې به ئې حال دَ لېونو بدتر کړی
چا چې چېړلے لېونے په لاره

حېرانه تول خلق حېرانؔ پاتې شی
وائی غزل چې باجوړے په لاره

Pukhto.Net
www.pukhto.net

۱۳ اګست ۲۰۱۲ء

رانه په تشو کتو مهٔ اوباسه ګرانه سترګې
نهٔ راوړی دومره په آسانه دَ جانانه سترګې

زهٔ څهٔ دَ قېس غُندې بې خوده لېونے خو نهٔ یم
نهٔ درځم واړوه زمانه بیابانه سترګې

چې مې اشنا دَ ببلتانهٔ نامه په خوله واخسته
شولې راډکې مې دَ اوښکو دَ خفګانه سترګې

شپه پخه شوې خو دَ وره نه چې راوځې وځې
راته سپوږمۍ دې څلور کړی دَ اسمانه سترګې

په خپله مینه بد ګمانه راته دا اوایه
ولې په څهٔ دې اړولې دی زمانه سترګې

وخت بدل شوے دے دَ هر چا نه ګیله مهٔ کوه
چا چا ته پرېښودې په مخ باندې حیرانهٔ سترګې

www.pukhto.net

۲۱ اکتوبر ۲۰۱۰ء

سترګي شو قربان خبري نۀ کوو
نوري دَ دوران خبري نۀ کوو
هر څۀ مي پخپلو سترګو ولیدۀ
هسې دَ ګومان خبري نۀ کوو
ګټي خو دَ ګټو نه دَ لاندي شوي
څنګ به دَ تاوان خبري نۀ کوو
نۀ جوړیږی بل شان دَ پښتنو تپه
مونږ چي دَ جانان خبري نۀ کوو
هسې نه چي بل څوك ئي په پوزه کړي
څنګ به دَ پېزوان خبري نۀ کوو
خپل دی که پردی دی په دې خاوره کښې
خوښ دی په تالان خبري نۀ کوو
غلے شه غریبه لاس په خُله کېږده
بیا راوځی خان خبري نۀ کوو
آورو دَ حیرانؔ دَ خُلې غزل آورو
ټول وطن دے وران خبري نۀ کوو

www.pukhto.net

۲۰ دسمبر ۲۰۱۰ء

تاچې خپله کړې وعده شاته کړه
یاره محبت له دې ملا ماته کړه

ما خپله چوپړی په خپله ورانه کړه
جوړه چې مې ستا دَ محل خواته کړه

لا خو مې منزل ته ډیر پیچومی دی
ما له دې یوې جې ساه راماته کړه

ډک وو دَ اشنا دډے دَ وراندې نه
څۀ ورپسې ما خبره زیاته کړه

لاړلې پښتونه پنچکوړې یوړې
بیله کۀ حُجره دې دَ جوماته کړه

هر چا چې کرلے دَ نفرت تُخم
مینه ئې په هر طرف میراته کړه

Pukhto.Net

www.pukhto.net

ما ته ئې وې کښېنه چې دې پوهه کړم
چا چې لاس نیوه دَ سومناته کړه

نور دَ بلې سر له دیدن مهٔ راوړه
ما مې خپل ارمان له مرې ماته کړه

هر سړې په خپله خو لګې لاس اېښے
چا دَ حق خبره رابیدیاته کړه

څکه رانه غلو برستنه یوړله
ما لا لا ته سُستنه لالا ما ته کړه

دا دور خبرانهٔ پُښتون نهٔ پرېږدی
بیا ئې سترګه خړه پُښتونخوا ته کړه

www.pukhto.net

۲۴ ستمبر ۲۰۰۹ء

دلته به کله پسرلی رانهٔ شی
چې هاغه تلي لمونی رانهٔ شی

چې نهٔ خپل خان او نهٔ خپل قام پېژني
په دې سړي دې خوشحالی رانهٔ شی

په شرق ئې اوله دَ بنادی په وخت کښې
چې دې په غم کښې خپل پردی رانهٔ شی

ما دَ نظر په غېږ کښې کلک ونیسه
چې په احساس مې ستومانی رانهٔ شی

څوک چې په خپلو کښې یو شوی نهٔ وی
پهٔ پښتنو به خپلواکی رانهٔ شی

پام کوه زړهٔ چې راله نهٔ راکوې
چې مو دَ سترګو اشنائی رانهٔ شی

www.pukhto.net

کښېنه تر هاغې پورې مهٔ پاسېږه
چې زلزلې مې په زړګی راتهٔ شی

ستا محبت په زړهٔ کښې پټ ساتمه
چرته په خوله مې اسویلی راتهٔ شی

حېرانہؔ یو سړے ملك نهٔ ورانوی
چې ملا ترې له ئې سړی راتهٔ شی

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۱۲ فروری ۲۰۰۹ء

نۀ به پردے کیږی دَ یار غم مې راڅپل کړے دے
دا دَ نولس تکے مې یو شل څله شل کړے دے

خود به مې دَ زړۀ دُرشلې سرې وی په سرو وینو کښې
تا مې هر ارمان دَ زړۀ په ور کښې ژوبل کړے دے

مۀ ځئ دَ کابل ښکلو یوځانې به پکښې ګډ وسو
ښکلے پېښور دَ پښتونخوا مې کابل کړے دے

زر ده چې دَ لوئې ګړنګ نه لوئې ګړنګ ته پرېوځی
خوئې مې پښتانۀ لالی بې وخته بدل کړے دے

اے دَ جهان خدایه بې لتانه چا ته وژاړم
یو رور مې لا ښخ نۀ دے او بل چا قتل کړے دے

څه کنه پۀ خپلو نغمه ګرو شونډو شور ئې کړه
درد دَ سوی زړۀ مې ستا دَ پاره غزل کړے دے

www.pukhto.net

راشه په وربل کښې دې دَ ګُل دَ پاسه ګُل کېږده
تول کلے مې ستا په سترګو ګرانه ګُل ګُل کړے دے

مهٔ کوه حيرانهٔ دَ ژوندون تپوس مې مهٔ کوه
وخت دَ بې دردۍ په ژرنده بل قسم دَل کړے دے

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

**۵ فروري ۲۰۰۵ء**

ژوند به دَ مزو مې په دنیا کښې وے
ناست چې مې هغه ښکلے په خوا کښې وے

ښۀ شوه چې د حُسن باز ترې والوتو
داسې به تر کومې په هوا کښې وے

نور دې راته تول جهان ښېرې کوی
مورې! چې یو ستانه په دُعا کښې وے

یاد چې دې راتلے نو ته دې نۀ راتلے
سوز به دَ خندا نه په ژړا کښې وے

زۀ دَ چین ماچین په ښکلو څۀ کوم
ناست چې مې دَ خپل اشنا په خوا کښې وے

نۀ غوارم حیرانه نور څۀ نۀ غوارم
غوارمه پښتون چې په حیاء کښې وے

Pukhto.Net

www.pukhto.net

۲۸ جولائی ۲۰۰۷ء

پرېږدوه دَ مينې لېونتوب ته مې لږ پرېږدوه
وخته يو څل دغه سړيتوب ته مې لږ پرېږدوه
دا دَ وطن زمکې خو به شاړې شی که وچې شوې
وينې ورکومه يو خړوب ته مې لږ پرېږدوه
ستا غم مې دَ هر يو غم د سر دَ پاسه اېښے دے
په سپېرۀ غُربته خُلمی توب ته مې لږ پرېږدوه
ګُل دې په باغچه راته پرې نۀ ښودۀ ګل چينه خو
اوس خو دَ ازغو په څوکو خوب ته مې لږ پرېږدوه
زۀ دَ دې دوران نه دَ نېکۍ توقع نۀ ساتم
دومره ورته وېم چې مئين توب ته مې لږ پرېږدوه
زۀ به ماشومتوب کومه زۀ به لېونتوب کوم
اے دَ خپتې غمه ماشوم توب ته مې لږ پرېږدوه
ډېره موده پس مې ياره ستا په څنګل سر اېخے
سم کنبېنه حيرانه مړه خوب ته مې لږ پرېږدوه

۱۲ جنوری ۲۰۰۱۱ء

دا چې نۀ تا غوښتۀ خواخوږيه او نۀ ما غوښتۀ
دا دَ نفرت تُخم چا وکرو او چا غوښتۀ

دَ نن واکداره يو شان حال وه په ټول ملك راغلے
دا دَ دهشت ټکے يواځې پُښتونخوا غوښتۀ

دَ کور دَ ورۀ نه پسې نۀ وتې ارمان دَ څۀ دے
نادان زړګيه شنۀ خالونه دې وبريا غوښتۀ

دَ دې نه وړاندې به دَ ټول جهان سرتورې ژاړی
دَ پُښتنې په سر کۀ شال چا دَ حيا غوښتۀ

يارانو نۀ کېدۀ دَ سر په ورکولو مې کار
دومره بې کچه محبت رانه اشنا غوښتۀ

دَ ترمو اوښکو چراغان مې هسې نۀ بلول
ما دَ مئېنو ديدنونه په رڼا غوښتۀ

www.pukhto.net

ما به چې کله لاس اوچت کړو په سکنې ماښام کښې
دَ دې وطن دا دښمنان به مې رسوا غوښته

نهٔ مې یواځې وو جومات نهٔ مې کعبه وهٔ غرض
ما دَ مندر په چنه هم نوم دَ الله غوښته

پېژندګلی پکښې دَ خپلو او پردو ونهٔ شوه
حېرانه چا وې چې مونږ دا جنګ خامخا غوښته

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۴ اپریل ۲۰۱۲ء

ښکاری دَ ژوندون لارې ته نۀ ګوری
نن چې دَ پرون لارې ته نۀ ګوری
خوروزار وی تول عمر هغه خلق
ځوک چې دَ قانون لارې ته نۀ ګوری
بیا توریٖ لیلیٰ په خوب لیدلے دے
هسې دَ مجنون لارې ته نۀ ګوری
دا ئې غټ صفت دے چې دا کوڼ کوڼ ځی
چا وئیل چې پښتون لارې ته نۀ ګوری
ځی دَ خپل منزل په لور مزل کوی
عشق دَ جنون لارې ته نۀ ګوری
مونږه خو په لار کښې هم په لاره ځو
دلته بوټ پتلون لارې ته نۀ ګوری
بیا ئې په شپېلۍ کښې ټپه پورته کړه
څنګ به دَ خپل شپون لارې ته نۀ ګوری
اوس پکښې حیرانؔ شمال نۀ ووسی
ښکلی دَ بارون لارې ته نۀ ګوری

www.pukhto.net

۲۰ اکتوبر ۲۰۰۸ء

دا چې سوزېږمه لمبې کوومه
دَ شوخو سترګو تماشې کوومه

دَ غوړېدلی پسرلی په طمع
تل دَ ازغو په څوکو شپې کوومه

جانانه ستا دَ یو دیدن په خاطر
په خوشو لارو کښې غرمې کوومه

خدائې په دې خپل وطن ډېر څۀ راکړی
څۀ له دَ غېرو ملازې کوومه

پۀ غلې غږ بۀ مې راونوځی
یو څو ورتې وَرتې تېپې کوومه

یوې خندا دې دَ خندا کرم اشنا
چا ته به څۀ خپلې قیصې کوومه

www.pukhto.net

په دي کښېږ هم دَ خدائې رضا ګورمه
چې طوافونه دَ کعبې کوؤمه

حیرانؔ څوك چې اُلفت نۀ پېژنی
څۀ به دَ هاغو نه ګیلې کوؤمه

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

۲۸ فروری ۲۰۱۱ء

روستو روستو کیږی چې مې کله په نظر کښې وی
په خلقو دَ سر سړے خو تول عمر په سر کښې وی

شرق دې دَ زاړهٔ پُښتون په نوی پُښتو پریوځی
سوال ته چې ولاړه پُښتنه دَ بل په در کښې وی

مهٔ کوه دَ غېرو نه دَ خېر توقع مهٔ کوه
دا بې خېره نسل دے دَ دغو خېر په شر کښې وی

تاله تور قمیص خان له دَ کوم خایه شمله راوړم
هره ورځې نوے نوے غم په پښور کښې وی

نهٔ موندلے کیږی دَ دنیا دَ مخ په خاورو کښې
یه ګرانو ګو هر خو په سینه دَ سمندر کښې وی

نبغ به شی کمزورو حوصله کوئ یو موتے شئ
هر ځومره کړوالے کهٔ دَ وخت په زورور کښې وی

www.pukhto.net

نهٔ ووځی په خپله دَ څادر نه بهر نهٔ ووځی
هر چا چې ښېښې راټولې کړی په څادر کښې وی

ستا دَ لاس نکریزې چې په لاسو پورې نهٔ کړمه
دا ځل به مې څهٔ حال مسافره په اختر کښې وی

مهٔ مې ورانوئ زهٔ دَ ګلونو باجوړ یمه
دلته دَ فطرت هره ښکلا په مازیګر کښې وی

نهٔ مایوسه کېږمه حیرانهٔ دَ حالاتو نه
ټول عمر ناستې که مې دَ ژوند په وران کنډر کښې وی

www.pukhto.net

۱۹ جون ۲۰۱۲ء

راځه اشنا کۀ زړۀ دې نۀ وی دَ تلو لاړ شته دے
زما په زړۀ کښې اوس هم توان دَ انتظار شته دے

پته به لګی چې چا ګټه چا تاوان وغستۀ
په دې دنیا باندې دَ هر یو بنده وار شته دے

مسافر یاره چې وطن ته مخ راوانۀ ړوې
دلته لا اوس هم دَ بارودو دَندوکار شته دے

ما مې دَ خپل مئینتابه قیصه په زړۀ ساتلې
دغه خبره لا زما او دَ دلدار شته دے

ستا په ګلاب ګلاب ښائست به رانه نمر نۀ لګی
دلته چینه شته دے یخ سورے دَ چینار شته دے

دم پکښې نشته دے چې وخاندی په شاه واوړی
هسې خو ښکلی مې په هر چم کښې دَ ښار شته دے

Pukhto.Net
www.pukhto.net

ستا دَ اوربل دَ ګل ارمان به مې په زړهٔ پاتې شی
دلته نهٔ ځائې دَ ګُل دَ کر شته نهٔ مالیار شته دے

دَ زړهٔ پرهر مې لا ممکن نهٔ دے چې خوله ورولی
چې لا تر دې پکښې دا ستا دَ بڼو خار شته دے

دَ باجوړ غزل حیرانه ستا یواځې نهٔ دے
دلته ګل یار شته دے په دې خاوره سیار شته دے

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۱۳ فروری ۲۰۱۰ء

لېونی ګڼه نۀ تاوان ګوری
په ورکه لاره خپل ارمان ګوری
ما وئیل کۀ ودرېده زما تصویر ته
په آئینه کښې ګوری ځان ګوری
حُسن پرستو حُسن څۀ ته وائی
خلق خو خوئې ته دَ انسان ګوری
سترے نظر مې خدایه سترے مۀ کړې
په لاره پلونه دَ جانان ګوری
دا چې پناه شوه دَ تاتیو دَ توپ نه
خیرن نظر ته دَ دوران ګوری
بې پته ښکلی دَ اُلفت تکی ته
مُدام په سترګه دَ تاوان ګوری
پُښتنې پېغلې په کوټه ودرېدې
څۀ چل خو دے حیرانؔ حیران ګوری

www.pukhto.net

۳ مئی ۲۰۰۹ء

چیناران وچ شو چینې وُچې شوې ننېترې وسوې
دَ وخت دې جبر مې په غرونو کښې کمرې وسوې

دَ ننن نمروده بس دے نور اورونه مۀ بلوه
انسانان پرېږدوه پۀ جالو کښې کونترې وسوې

یقین مې نۀ دے چې مې بیا دَ شونډو سَر له راشی
دَ زړۀ خبرې مې په زړۀ کښې ستمګرې وسوې

خدایه دَ کلی ماشومان به مې په څۀ منؤم
دَ کور په پُولو مې دَ بار ډکې ګُرګورې وسوې

کور خو مې وران دے کو دا څپر راله مۀ ورانوئ
هلته مې خوېندې په غرمو دَ تېمرګرې وسوې

حیرانہؔ ژوند مې په خپل وَر پورې محدود پاتې شو
لکه چې وخت مې دَ الوت دَ خیال وزرې وسوې

www.pukhto.net

۲ جون ۲۰۱۰ء

ښکلی چې دَ ځان شو نو په ځان دې شي
پرېږده دا دَ زړونو جهان وران دې شي

مهٔ پرېږده دَ زمکې رشته مهٔ پرېږده
ناسته که په غاړه دَ اسمان دې شي

دا کافر سړے دې کافر پاتې شي
يو خله دَ زړهٔ نه مسلمان دې شي

ښکلی چې ښُکلي څه خبر نه دي په اول سر کښې
غوارمه چې هغسې ودان دې شي

زهٔ ئې غم دَ سر په بدل اخلمه
ښکلی چې ارزان نهٔ شی نو ګران دې شي

دا دَ ځان ځانی خبري نهٔ دی ښې
يو انسان په کار دَ بل انسان دې شي

www.pukhto.net

زۀ هر يو شاعر ته لکه خان ګورم
زۀ وېم چې خوشحال دې شی رحمان دې شی

خان کۀ شته کول په دې دنيا غواړی
يو ځائې ته راغونډ دا يو افغان دې شی

داغ دې دَ اُلفت په لمن نۀ پرېږدی
هر سړے منېن لکه حيرانؔ دې شی

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

۷ نومبر ۲۰۰۷ء

یاره ستا نظر کۀ دَ سیندونو دے
دغه پېداوار خو ټول دَ غرونو دے

ما نه خپله مینه بیلوے نۀ شی
هر څومره ناتار کۀ دَ وختونو دے

دا چې لبونے اوتر اوتر ګوری
شوے پرې اثر دَ ښائستونو دے

تَل چې دَ خپل سوری نه حیا کوی
دا صفت زما دَ ښار دَ ځونو دے

راشه دَ ګلونو ګل دستې واخله
وخت په باجوړ کښې دَ ګلونو دے

روغې لارې کندې او کږې شوې
خدایه هر انسان په تیندکونو دے

www.pukhto.net

لاړې دَ اوبو چینې مې ورانې شوې
دا ځل مې نمبر دَ چینارونو دے

پرېږده چې بې خوده شي په خود به شي
هر څو کۀ پرهوتے په جامونو دے

لیکو به حیرانؔ غزل لیکو به
هر څومره قدغن کۀ په شعرونو دے

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۹ جولائی ۲۰۰۷ء

نهٔ لرې مثال تا ته مُبارک دې شی
ښکلے ستا جمال تا ته مُبارک دې شی
ما پکښې ونهٔ خانګل یاره بې وفا
ستا دَ زلفو ټال تا ته مُبارک دې شی
کښېناستمه نمر ته دا راسره ښائی
سورے دَ دېوال تا ته مُبارک دې شی
ښخ مې بې کفنه کړو خپل شهید ارمان
ستا دا زرین شال تا ته مُبارک دې شی
ما له ئې ژړا راوړه تا له ئې خندا
دا سکښے کال تا ته مُبارک دې شی
داغ چې مې په زړهٔ نهٔ شو دا دَ رنجو ټکے
ستا دَ زنې خال تا ته مُبارک دې شی
وخت چې په تودو شګو پرېستلے حیرانؔ
برخه دَ بلال تاته مبارک دې شی

www.pukhto.net

۱۴ مارچ ۲۰۰۵ء

دا ښکلی دَ دنیا دَ ارمانونو قاتلان دی
په زړونو کښې اوسیږی خو دَ زړونو قاتلان دی
چې سترګې راوانهٔ روې زما په لور لالیه
بانهٔ دې هم زما دَ پرهرونو قاتلان دی
مغرب ورانول غواړی دا ماحول بدلول غواړی
دا خلق دَ الله دَ تخلیقونو قاتلان دی
ګل چین هسې بدنام دے مونږ په هر څهٔ ښهٔ پوهیږو
پخپله مالیاران دَ سرو ګلونو قاتلان دی
محبوبې په دالان کښې قدمونه په ناز مهٔ ږده
لیدلی دې پخپله دَ نازونو قاتلان دی
اغیار څنګه راونیسم په زړهٔ پسې دَ زړهٔ نه
چینې مه ورانوی دَ چینارونو قاتلان دی
ښکاریږی ورکه شوې ترې حیرانؔه دَ ژوند لاره
په تېښته دی روان په تیندکونو قاتلان دی

www.pukhto.net

۲ اګست ۲۰۰۸ء

غم مې دَ دنیا دَ سر نه لرې کړه
راشه دَ زړهٔ څېرکې مې سندرې کړه

ملا که ماتول دَ ژوندانهٔ غوارې
لارې دَ ژوندون کندې کپرې که

پورته شه پښتونه چې اودهٔ نهٔ شې
دا دَ خیال کوترې دې اوترې کړه

ما له دَ مغرب نه سوغات مهٔ راوړه
تولې راله غرونو کښې ګُورګورې کړه

تهٔ چې مې په زړهٔ کښې ځایوے نهٔ شې
یاره راپسې دَ مرګ لښکرې کړه

ځَم راته غوږ غوږ او سترګې سترګې دے
پتې دَ اُلفت تولې خبره کړه

www.pukhto.net

ګرانه ستا دَ خبر نه مې توبه توبه
پورته شه دا سپی دي رانه کوري کړه

غواړي کۀ دیدن دَ مسافر اشنا
اوښکي پسې خپلې مسافري کړه

یه پښتونه خان کۀ شته کول غواړي
جوړي دَ دي غرونو نه سنګري کړه

تۀ چې دَ الفت خُنې نفرت کوي
یاد زما دَ زړۀ نه دي درلري کړه

تږے زۀ حېرانؔ تَل دَ ګودر نه ځم
ښې دي اداګاني تندغري کړه

www.pukhto.net

۲۲ اکتوبر ۲۰۱۰ء

ما چې دَ چا لاره څارله ورځم
جرګې سر نهٔ نیسی پخپله ورځم

څمه دَ لرې پښتونخوا جانان له
دیدن ور ورمه دَ کابله ورځم

زما په مرګ پسې به چرته ګرځی
پرهېده چې مر مې کړی کالهٔ له ورځم

هغې کوڅې له یاره ستا په سترګو
خوږؤم سترګې کله کله ورځم

دَ جنګ پرستو نه ټوپک اخلمه
قلم ور ورمه تر مورچله ورځم

اشنا زما دَ یاره دار خوښ کړے
ما هم په ځان دغه کوله ورځم

www.pukhto.net

ټوره تېرۀ لاس دې ازاد رقیبه
ځان مې تللے دے په تله ورځم

حیرانه نن ئې وې چې نن به راځې
چې نن ورنۀ شم بیا به کله ورځم

www.pukhto.net

۲۰ مارچ ۲۰۱۱ء

کله پردې او کله خپله ژاړمه
یو مړې ښخ نه وی او بل ژاړمه

دَ پُښتنو په خاوره اور بلیږی
پېښور ژاړمه کابل ژاړمه

په لار کښې ناست یم په سر خاورې شیندم
نۀ راځی خپل دَ لارې مَل ژاړمه

زۀ دَ خپل سر پټکی ته نۀ ګورمه
دَ پُښتنې تالا وربل ژاړمه

ستا انتظار دے مسافر لالیه
نکریزې ږدمه په منګل ژاړمه

دَ ناستې ځائې مې پکښې پاتې نۀ شو
دَ خپل کالۀ دَ وَر دُرشل ژاړمه

www.pukhto.net

ژرنده پردۍ ده ژرنده ګړے پردے
هسې پښتون شو پکښې دَل ژاړمه

حېرانؔ قام مې پرې ونۀ پوهېدو
په ابتدا دَ خپل غزل ژاړمه

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۲۸ اګست ۲۰۰۷ء

چا ته ازغے چا ته ګلاب یمه
رنګ د سپڅلي انقلاب یمه

د ګناه ځائې له په دې نیت ورځمه
مدام په طمع د ثواب یمه

د جاهلانو مخکښې هيڅ نۀ يمه
خو عاقلانو له کتاب یمه

نه ګورم نۀ ګورمه نور ښکلو ته
د دې مخلوق نه په عذاب یمه

هر يو شاعر د ځان صفت کوی نن
وائی دستی عبدالوهاب یمه

اشنا په داسې تکی ګوته ایښې
حیرانؔ ولاړ یم لاجواب یمه

Pukhto.Net
www.pukhto.net

مونږ سحر ګورو دا چې توله شپه ډېوې بلوؤ
مونږه دَ زړهٔ داغونه توله شپه دَ شپې بلوؤ

بل مشالونه رانه نورو نورو خلقو یوړهٔ
مونږه لا هغسې ایرې پوکو ایرې بلوؤ

ستا انتظار دے چې دَ هرې لارې سر ته ګورو
دا چې په ځان دَ انتظار دَ اور لمبې بلوؤ

دَ خوشحال خان او ابدالی څلی وران شوی پکښې
په مقبرو کښې څله شمعې بې فائدې بلوؤ

اغیار دَ ستورو او سپوږمۍ رڼا ته ورسېدهٔ
مونږ پښتانهٔ شوتې په ګُټ کښې دَ حُجرې بلوؤ

حیرانہ تول انسانیت چې تر منزل ورسی
دَ ترمو اوښکو چراغان ورته په دې بلوؤ

www.pukhto.net

۲۲ جولائی ۲۰۱۰ء

ستا دَ اننګو نه راتېر شوے دے
ژوند مې دَ لمبو نه راتېر شوے دے

هسې ګل ورينه سيلۍ رانغله
ښکلے دَ سپرلو نه راتېر شوے دے

ستا دَ اوربل سېورې ته به ساه اخلې
خيال مې دَ غرمو نه راتېر شوے دے

کومه شکريه دَ يار ادا کړمه
ډېر دَ ښو ناښو نه راتېر شوے دے

څۀ له مړوندونه په رومال تړې
شړنګ دې دَ بنګړو نه راتېر شوے دے

سُور دې دَ ښو غشے په وينو دے
ښکارى دَ سينو نه راتېر شوے دے

www.pukhto.net

ځی په لاړ يوي غاړي او بلي له
يار دَ مېخانو نه راتېر شوے دے

څۀ له په حېرانؔ پسي نعري کوي
اوس دي دَ کوڅو نه راتېر شوے دے

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

یکم مارچ ۲۰۱۱ء

ماخو دَ خان دَ پاره جنګ نۀ کوؤ؟
ښکلو به ولې په ما تنګ نۀ کوؤ؟

تۀ دَ بلې سر ته راونۀ ختې
په پورې ور دې بنګړو شړنګ نۀ کوؤ؟

پښتونه تا په لاس کښې پورته نۀ کړه
دَ خوشحال خان تورې به زنګ نۀ کوؤ؟

دَ مرګ دَ شمعې نه ژوندے راستون شوې
زړګیه خوئې دې دَ پتنګ نۀ کوؤ؟

زۀ دَ دې دور په نظر پوهېږم
ناستے مې څکه ستا تر څنګ نۀ کوؤ؟

غېرو به ولې پکښې بنګ نۀ کړَل
دلته هېڅوک دَ لونګ نۀ کوؤ؟

Pukhto.Net

www.pukhto.net

خود به دَ زړهٔ دَ وينو رنګ ورکوم
چې ئې نکريزو په لاس رنګ نۀ کوۀ؟

يارانو زۀ دَ يار ديدن له راتلم
ولې به ما خوئې دَ ملنګ نۀ کوۀ؟

حېرانهٔ څۀ دَ پسرلو ګناه وه
چې ستا غزل پکښې غرځنګ نۀ کوۀ؟

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۲۷ جولائی ۲۰۰۷ء

داسې مې یاره ستا نظر واخلی
لکه اوبۀ چې خس په سر واخلی
خدایه غریب به چرته ژوند تېروی
دَ زمکې سر چې زورور واخلی
خوا به دې یخه شی دَ نن رقیبه
اور چې دَ ښځه پښتنور واخلي
زړۀ په اسانه دَ سړی نه یوسی
چې سُور منګے په مازیګر واخلی
نۀ دا وطن چا نه په خوښه پرېږدم
نۀ به ئې څوک رانه په شر واخلی
داسې دَ زړۀ دَ تله مۀ راګوره
اوس به مې اور زړۀ او ځیګر واخلی
حېرانهٔ ساه واخله غزل پرې لیکم
چې لږه ساه خو په ګودر واخلی

www.pukhto.net

۲۷ مارچ ۲۰۰۸ء

مونږ دَ زړهٔ په مینه په وفا سره پالو سړے
مینې له راوړو سړے نفرت نه لرې وړو سړے

ورکه بربادی غواړو مونږه ابادی غواړو
نهٔ بربادوؤ سړے تل ابادوؤ سړے

مونږ انسانیت غواړو مونږه محبت غواړو
تل راخپلوؤ سړے نهٔ پردے کوؤ سړے

مونږ دَ خپلواکۍ زېری مونږ دَ خوشحالۍ زېری
نهٔ دَ غم کوؤ سړے نهٔ غم ته پرېږدو سړے

خان به درنه خار کړمه یاره حیرانېږهٔ مه
مونږ چې رابلو سړے زړهٔ کښې ځایوؤ سړے

www.pukhto.net

یکم اکتوبر ۲۰۰۹ء

په بله واړوه اشنا دَ خُمارونو سترګې
تاته چې وګوری نو بریښی دَ ګلونو سترګې

دَ دېوالهٔ دَ شاه نه هم راته په شاه مهٔ ګوره
آخری وخت دے غړولی دېوالونو سترګې

دا چې په هر لاره کوز ګوری ستا پَل ګوری
چرته ړندې نهٔ شی زما دَ ارمانونو سترګې

زهٔ چې بې خوبه شمه هَله راله خوب راشی
ښې مې بې خوبه کړه دَ زړهٔ دَ پرهرونو سترګې

خدایه پُښتون اُولس په کوم ډګر رایوځائې کړمه
شهیدې شوې دَ حُجرو او جوماتونو سترګې

اے رقیبانو حاسدانو ستاسو کار څهٔ دے؟
چې خوږېدو ته چرته پرې نهٔ ږدئ دَ زړونو سترګې

www.pukhto.net

دا مغربیان راته دَ هر ځائې نه مغرب جوړوی
کۀ رڼا نۀ کړې دَ نرۍ نورو قامونو سترګې

چرته دَ سترګو لګولو ځائې ئې پاتې نۀ شی
په چا پسې چې وړپسې شی دَ وختونو سترګې

حیرانۀ چا چې په محفل کښې ورکتلی چاته
وړپسې شوی تول عمری دَ محفلونو سترګې

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۹ اکتوبر ۲۰۱۰ء

نۀ رادرومې چا چې مې زړه وړے دے
سترے انتظار مې سترے سترے دے

وخت پرې دَ اوروښو باران کړے دے
سوے لوغړن مې هر وګړے دے

پرېږده چې مې دل دَ غم په ژرنده کړی
ستا غم مې په زور خان له راوړے دے

مۀ مې تپوسه چې ژوند دې څنګه دے
بې لتانه په ګرانه تیمګړے دے

خدائې شته چې په پرې درله وترم
ستا دَ څپو مار هم راته پړے دے

شوق به دَ ملالې په غږ پورته شي
قام په ژوندانۀ مې لکه مړے دے

Pukhto.Net
www.pukhto.net

یا به سر شیندمه یا به غر شړندم
هاغه فرهادی عزم مې کړے دے

فکر دَ حیرانؔ غزل ته واغستم
څنې څنې خیال پکښې خانګړے دے

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

۹ مئی ۲۰۱۱ء

ما وئیل ساقی که پېمانو په غېږ کښې واغستم
واغستم ستا سترګو لېونو په غېږ کښې واغستم
بلې کړه جانانه دَ ښائست شمعې دې بلې کړه
ستا دَ تورو زلفو تورو شپو په غېږ کښې واغستم
نهٔ به واېم چا ته چې ئې ما په څنګل خوب کړے
غېږ راکړه جانانه شوګیرو په غېږ کښې واغستم
خیال به مې تول عمر ستا دَ کلی په کوڅو ګرځی
هر څومره که لرې فاصلو په غېږ کښې واغستم
لاړ که په ازغو که په چړو وی خو درځمه به
ستا دَ محبت خوانو جذبو په غېږ کښې واغستم
راشه که ایرې مې بادوې دَ سیلۍ مخې ته
سوزم دَ پتنګ غُندې لمبو په غېږ کښې واغستم
ستا دَ تودې غېږې دَ ارمان نه بغېر ونهٔ شوه
ګله چې دَ هجر یخو شپو په غېږ کښې واغستم
نن مې په پښتو باندې پښتون غزل لیکلے دے
یه حیرانهٔ څکه پښتنو په غېږ کښې واغستم

www.pukhto.net

۹ مئی ۲۰۱۱ء
په هر نظر چې د خندا نه مې یاران شنهٔ شُو
دَ زړهٔ په دشته کښې مې بوټي دَ ګمان شنهٔ شُو
خانه بدوشو کډې پورته کړې په پورته لاړهٔ
لکه چې غرونه دَ تمام افغانستان شنهٔ شُو
مېندې ئې مرې دي دَ تږې په دې بې سره جنګ کښې
پهٔ ژړا مړهٔ شو پهٔ ژړا کښې یتیمان شنهٔ شُو
دَ کشمالو څُوکو دې هسې خوشبوئې ونکړه
تهٔ ګورې نه زما دَ اوښکو په باران شنهٔ شُو
دا ئې پهٔ ما پسې تمامه شپه ښکا ژړلي
دا چې بې وخته سترغلي مې دَ جانان شنهٔ شُو
لکه چې بیا پرې ستا دَ تور اوربل هوا راغلې
دَ زړهٔ په بڼ کښې مې وچ شوی چیناران شنهٔ شُو
دَ بې وفا اشنا دَ ناستې ځائې ئې ونهٔ مونډهٔ
دَ ښپو تلې وریسې هسې دَ حیرانؔ شنهٔ شُو

www.pukhto.net

۹ جون ۲۰۱۱ء

دَ ژوندانهٔ نه څهٔ پهٔ بل قسم له خوند واخلی
دَ بې دردئ په ګټ چې مات شی زړهٔ پیوند واخلی

هاغه مئین به څهٔ اودهٔ په بخملی پالنګ شی
دَ خوب عادت چې دَ خوبانو دَ مروند واخلی

دَ احمد شاه پټکے به هاغه چاته ږدمه په سر
چې دَ ملالې په یوه ټپه مېوند واخلی

زهٔ دَ مغرب په خاوره خپله خاوره نهٔ ورکوم
داسې به څوك وی چې دَ سرو په بدل ګند واخلی

مرېرې نه کهٔ دَ دنیا خواږهٔ پرې تول وخوروې
سپینه کوڼۍ چې عادت یو وارې د شخوند واخلی

حیرانهٔ تول خلق دَ مینې په ځائې زهر وبشی
دَ زړګی درد له به دَ چا نه څوك ګُل قند واخلی

www.pukhto.net

یکم نومبر ۲۰۱۰ء

حېران ولاړ یم کله وائی چې دلې مۀ راځه
سترګې ئې ست کوی بانۀ وائی نژدې مۀ راځه

زما په بل وطن کښې ورکه مسافره لالیه
لوګے لوګے شوې په بارودو ګلدارې مۀ راځه

زما دَ خولې تشې خبرې په یار بدې لګی
نوره په شونډو مې دَ مینې ترانې مۀ راځه

دَ بهلتانۀ ټکے مې هم په زړګی ښه نۀ لګی
راپسې وخت جوړوی بې وخته قیصې مۀ راځه

ډنګی ډېوال مې درته پرېښې ده دَ زړۀ دروازه
اشنا کۀ تۀ چرته پۀ لاره یریدې مۀ راځه

دنیا دې وائی څۀ چې وائی اُلفت نۀ پټیږی
په رڼا ورځ راځه حېرانۀ نور دَ شپې مۀ راځه

www.pukhto.net

۹ اپریل ۲۰۱۱ء

زړونه شيندل غواړي اُلفت پکښې شيندل غواړي
دا دَ ژوندون لارې کوڅې ابادول غواړي
دا دَ جنون تورې تيرې هسې په بيرته نۀ ځي
په هر پړاؤ دَ زړۀ داغونه بلول غواړي
زۀ ئې دَ بل وطن په سرو او سپينو نۀ ورکوم
څوك کۀ زما دَ وطن خاورې په بدل غواړي
په غزېدلو ښو نۀ کيږي دَ ښکلو ديدن
لکه فرهاد فولادي غرونه ماتول غواړي
په خدائې مښن وائې چې نولس ده او نولس به وي
دنيا پرست وائې چې نۀ نۀ شل کول غواړي
دَ محبت په زمکه کَر دَ محبت پکار دے
دا دَ نفرت تکے په تکې ورکول غواړي
هاغه سرے چې دَ خپل قام په نام او ننګ مښن دے
حيرانه خاورې دَ ښو ئې ښکلول غواړي

www.pukhto.net

۲۷ اګست ۲۰۱۲ء

په ما خوږ منه یاره څۀ وشو کۀ پر نۀ شومه
په خپل یقین کښې خو دې مړ کړمه خو مړ نۀ شومه

هسې په خوله مې وئیل چې یو ارمان په زړۀ نۀ لرم
ارمان ارمان ستا دَ کوڅې په خاورو خړ نۀ شومه

ما خو دَ وراندې نۀ غوښته چې دَ رحمت باران شم
شُکر دے شکر چې وچ خوږ نۀ شوم چې وږ نۀ شومه

دا به ونۀ وېمه چې تا نه رسېدلے یمه
چې لونګین غُندې په غاړه دې لړ لړ نۀ شومه

کۀ نۀ زما په بېلتانۀ کښې وچې شونډې ګرځې
ولې نو زۀ لکه نارنج درپسې زېړ نۀ شومه

حیرانۀ ما خو دَ پښتو غزل له وینې ورکړې
ولې غزل دَ پُښتونخوا دَ باجوړ نۀ شومه

www.pukhto.net

ښکارېږي دَژوندون لاره ترې ورکه ده یارانو
هر چا چې دَ اُلفت نۀ کړې کرکه ده یارانو

هر څو کۀ په درنه تله ئې وتلې سپکېږي
دَ تول تله دَ کوم سړي چې سپکه ده یارانو

دَ خپل احساس په سوری دَ اشنا مینه پالمه
په نمر به ئې پرې نۀږدمه نازکه ده یارانو

زما پښانې ماته په غرمو ولاړه نۀ ده
زۀ هسې وہم چې ښه په وعده کلکه ده یارانو

لونګ وریکښې وکړې لونګ به رازرغون شي
هر څو کۀ للمه شاړه شاړه زمکه ده یارانو

دا یو پښتون لالے مې دَ کوتې په کُټ کښې ناست دے
تمامه دنیا تلې تر فلکه ده یارانو

Pukhto.Net
www.pukhto.net

دا خاوره مې دَ خپل زړګی په وینو خړوب کړې
سپرلی کۀ ئې رانۀ وړۀ بې نمکه ده یارانو

راونۀ شوه زما په ګرېوانۀ پورې مُسکی شوه
ما وئیل ګنې دَ ټول کلی ملکه ده یارانو

هغه ښکلې مې هم دَ زړۀ په غولی کښې راخائې کړه
دې زړۀ چې مې دَ چا نه کړې ټکه ده یارانو

حیرانؔ یمه چې چا دا دَ برېدۀ تیره اېښودې
یو خاوره دَ پامېر نه تر اټکه ده یارانو

دا چې زما سپورے زما پل په کانو ولی
تول ښکلی دَ خپلې لارې مَل په کانو ولی

زړهٔ به مې دَ سر نه مخکښې ولې نهٔ ماتیږی؟
پتې وارې کیږی چاپیرچل په کانو ولی

چا له یوې خولې خندا له ورشم چرته کښېنمه
اوس مې دَ پردو نه ورانده ي خپل په کانو ولی

دلته خو بچې بچی د غل جامې اغوستې دی
ځان په کانو ولی چې څوک غَل په کانو ولی

اوښکې اوښکې سترګې دی چې کوم پښتون ته ګورمه
دا دور ئې څهٔ بل قسم دَ چل په کانو ولی

دا خو دَ دې تیولو نرې والو دَ ژوند کور وهٔ
چې اوس ولې دا خاوره دَ کابل په کانو ولی

www.pukhto.net

سیال به چرته نهٔ شي په دنیا کښې دَ دنیا سره
هر څوک چې ملګرو خپل اتل په کاڼو ولی

یاره ستا دَ دره چې خالي لاسونه لاړ شمه
بیا به مې دا خپل احساس پاګل پهٔ کاڼو ولی

بیا ئې په غزل کښې بې وفا جانان ستائیلے دے
وګورئ حیرانؔ ته خپل غزل په کاڼو ولی

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

ښکلي په څانونو چې هر څۀ کوی
لوبې دی زمونږ په زړونو نۀ کوی

هاغه پورې خلقو چې به څۀ کول
هاغه څۀ اوس دلته پښتانۀ کوی

خوب مې په ولاړه راغے سترګو له
بل شان خوبولی راکاتۀ کوی

څۀ خو دی د څۀ نه خو خالی نۀ ده
پورته شوه تپه پۀ تنارۀ کوی

سترګې د اشنا په توره شپه بریښی
څۀ به غم ښادی په نمر خاتۀ کوی

اوس راته د زړۀ په سترګو نۀ ګوری
یه حیرانۀ هسې تلۀ راتلۀ کوی

www.pukhto.net

زما په زړۀ دې لمبې پورې نۀ کړې
نن خو دې دواړه سترګې تورې نۀ کړې
پښتون لالیه دَ پښتو په خاطر
پښتنې لارې نورې نورې نۀ کړې
زما یقین وۀ چې راځې به اشنا
دَ زړۀ تمبې چې مې راپورې نۀ کړې
پښتانۀ تل خپلې کوډې ورانوي
پردې ماښې ئې رانسکورې نۀ کړې
جادو دې نۀ منم دَ تورو سترګو
په ما ئې سترګې تورې تورې نۀ کړې
ځان مې سرتور کړو خو سرتور نۀ شومه
پښتنې پېغلې مې سرتورې نۀ کړې
حیرانۀ ما پرې خپل کېمور لوګے کړو
خو دَ پامیر شونډې مې سپورې نۀ کړې

www.pukhto.net

دَ هر چا خولهٔ کښي انګرېزی ژبه ده
خوښه مې نهٔ ده چې پردۍ ژبه ده
زه به پُښتو لیکم پُښتو به وایم
دا دَ دادا او دَ ابۍ ژبه ده
رېباره خنګه بې تپوسه ورشم
دېرې تېره دَ لېونۍ ژبه ده
چې دَ نړۍ ګُټ ګُټ ته ورسېده
پُښتو ژوندۍ به وی ژوندۍ ژبه ده
یاران په نیمه لار کښې نه پرېږدوؤ
زموږه ژبه دَ یارۍ ژبه ده
وخت دې زما نه پُښتو نهٔ هېروی
دا خو زما دَ زندګۍ ژبه ده
حیرانهٔ دواړه یو کوله غواړی
که کابلۍ کهٔ پېښوری ژبه ده

www.pukhto.net

چې مې پَل دَ ژوندانه دا ستا پۀ پَل شۀ
کۀ ډېر لرې وۀ خو يو قدم منزل شۀ

ځان لا څۀ چې ئې جهان پۀ خيال کښې نۀ وۀ
ډېر ښۀ وشو چې دَ خيال مارغۀ ئې شل شۀ

نۀ ئې توان کېږي دَ چغې نۀ دَ تېښتې
هر مظلوم مې دَ ظالم پۀ ښپو کښې دَل شۀ

بس دے غلے شه واعظه غوږ مې مۀ خوره
چې راوُئې کتل هر مشکل مې حل شۀ

کۀ دا ټول جهان پۀ بله واوړي ګرانه
دا به وانۀ وړې چې ستا حېرانؔ بدل شۀ

www.pukhto.net

تا پسې چې کله پاسېدلے دے
زړه مې په سینه کښې خوئېدلے دے
سترګې مې دې ووځی چې دَ ورۀ نه پسې نۀ ووځم
هر څو کۀ دشمن مې دَ کالۀ ورۀ له راغلے دے
نۀ ځائېږم ګرانه په جامو کښې نۀ ځائېږمه
خپل نوم چې مې کله ستا دَ خولې نه آورېدلے دے
هغه سرے تول عمر دَ نورو دَ خندا به شی
هر څوک چې په چا پورې یو وارې خندېدلے دے
ما ورته وې چرته دَ سبو په بانه بیا راشه
وې وئېل نادانه هغه وخت دَ مینځه تلے دے
زۀ وېمه چې چرته پرې تاودۀ بادونه رانۀ شی
ستا یاد مې دَ زړۀ دَ ګل په پاڼو کښې نغښتلے دے
ولې به حیرانؔ تورې نۀ ړدمه کړه په سَر
ځان کۀ مې بائیللے دے جانان خو مې ګټلے دے

www.pukhto.net

۴ دسمبر ۲۰۱۳

د ژوند بازار مې دې وېرانه اديره پاتې شي
چې مې اشنا ىو ځل دَ زړۀ په تاتره پاتې شي

زۀ به منصور شمه دَ وخت دار له به غاړه ورکړم
داسې به څوك وى چې زما په ننداره پاتې شي

په ژوندانۀ به دَ ژوندون مرام ته ونۀ رسى
څوك چې زما غوندى بې پتو په اسره پاتې شي

سر و مال دواړه مې دې لاړ شى هيڅ معنىٰ نه لرى
غواړمه دا چې ستا يادونه راسره پاتې شي

چې دَ ګلچين په ځائې مالى وريسى بدې راښكې
يو ګل به چرته دَ ښائست په ګل دره پاتې شي؟

راغلى غم ته به دې ووائې چې لاړ نه شى
د زړګى دشته به مې بې وخته سپېره پاتې شي

www.pukhto.net

د انتظار په اور مې وسېزه چې زړۀ دې يخ شی
ورکيدے نۀ شم ځائې په ځائې به مې ايره پاتې
شی

دومره ساده نۀ دے په خُله ئې ورته نۀ وايمه
اشنا زما به دَ بڼو پۀ اشاره پاتې شی

حیرانؔه! تول انسانيت ته لکه ځان ګوره
چې پۀ دنيا کښې دې ځانګړې ستاره پاتې شی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

پـه راتللو ئې کـۀ وران دے کـۀ ودان دے
دَ یار غم زما دَ زړۀ دَ کلی خان دے

کـۀ خپق خائې ئې دَ زمکې پـه سر نشته
وخته پرې ئې وده پښتون دے خو انسان دے

یو دیدن چې دې دَ سر پـه بیعه اخلم
دا بـه وایمه چې ګران نه دے ارزان دے

تور اوربل لـه دې غونچې دَ کومه راوړم
دَ بارودو پـه اور سوے ګلستان دے

پُښتنو راځئ پـه خپلو کښې یوځائې شئ
پـه نفاق کښې ګټه نشته دے تاوان دے

بې لتانه مې دَ اور پـه لمبو تېر کړو
هسې وایم چې مې ژوند پـه اطمینان دے

www.pukhto.net

دَ پښتو خاورې ته ځکه ښکلومه
بې وفا اشنا که درد دے هم درمان دے

نن ئې بيا رانه په بله وارولې
تخيل مې دَ يار سترګو ته حېرانؔ دے

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

چې خپله مينه دې دَ دار په سر پاللې نهٔ ده
لا خو په سهر کښې دې پونې قدرې رېشلې نهٔ ده

زړګيه مهٔ کوه دَ خپلې قربانۍ خبرې
لکه سُقراط دې لا دَ زهرو پيالۍ څښلې نهٔ ده

دا مې دَ خوبه نهٔ وباسې چې په خوب کښې راځې
په وېښو سترګو مې تردې وخته ليدلې نهٔ ده

پُښتنه پېغله دې سرتوره او بې کوره نهٔ شي
په خپل اختيار دَ خپله کوره راوتلې نهٔ ده

دَ اشنا ميني ته نهٔ سپکه نهٔ درنه وايمه
لامې دَ خپل احساس په تله کښې تللې نهٔ ده

دا چې ګُلونه ګُل درې ئې په بارودو سيزې
دا خپله خاوره دغه خلقو پېژندلې نهٔ ده

www.pukhto.net

ګورے چې څوك دَ بنګله والو نوم په خوله وانخلى
دَ هر غريب دَ ژوند جونګړه ئې سېزلې نۀ ده

حېرانۀ مينه به دې څۀ دَ زړۀ کوڅې له راشى
دَ خپلو اوښکو په جرګو دې رابللې نۀ ده

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

هغه دې نهٔ راځی هغه دې څهٔ بانه ونیسی
زما اُلفت ته دې دَ خپل زړهٔ آئینه ونیسی
مئین دَ یو دیدن له ځی نامه دَ بل یادوی
مئین یوې یارۍ له بله یارانه ونیسی
تهٔ ئې په سر مهٔ راځه زهٔ به ګیله نهٔ کوَمه
دَ ژوندون لاره مې دې نوره زما نه ونیسی
زهٔ وېم څه شکر دے په دې خاوره پُښتو ژوندۍ ده
دَ لوېټې پلو چې مخ ته پُښتنه ونیسی
پهٔ شمعه هم دَ بې وفاؤ ښکلو سورے شوے
دَ سرو لمبو په غېږ کښې څنګه پروانه ونیسی
ساقی اغیارو له په سر باندې منګی اړوی
چې ما له راشی ما ته تشه پېمانه ونیسي
دَ مېوې بوټی کهٔ دې دور په لمبو وسېزل
شکر دے غنې شته دے دا به شی‌دانه ونیسی
زما دَ خاورې واکداران خو پرې تالان کړوی
حیرانهٔ لاس به څوک دَ قام په خزانه ونیسی

www.pukhto.net

دَ نظر ساه مې لنډه لنډه شوله لاس راکړه
ما له دَ خپلې پښتنې مينې احساس راکړه

زۀ چې لاس پورته کړمه خبر دَ خپل ملت غواړمه
زۀ داسې نۀ وېم چې الله ماله څۀ خاص راکړه

دَ وخت غاصبه په قلاره به دې پرې نۀ ږدمه
ما نه نیولے دې زما دَ پلار میراث راکړه

بېګا مې ستا په څنګل ياره ګډوډ خوب ليدلے
په دې شېرينه خولۀ شيرين غُندې قياس راکړه

لاس دې آزاد وی دَ رقيب توره دې هم تېره وی
حېرانهّ تۀ راله يو وارې لاس په لاس راکړه

Pukhto.Net
www.pukhto.net

اے دَ لوئې شان مالکه دَ درست جهان مالکه
تر څو به داسې مظلومان په سترګو سرو ژاړی
تر څو به داسې وږی تږی په غرمو ژاړی

دَ جاګیردار بچی ته وګوره په سور پروت دے
زما بچے دلته دَ لوږې نه نسکور پروت دے
تبې نیولے دے په غېږه کښې دَ مور پروت دے
دومره تود شوے دے زۀ وېم ګنې په اور پروت دے
اے دَ لوئې شان مالکه دَ درست جهان مالکه
څۀ به اودۀ شی چې اودۀ شی په اودو ژاړی

دَ نوی دور خو بې شکه فلسفه روانه ده
خلق وران شوے هسې وائی زمانه ورانه ده
دَ ناستې ځائې ئې پاتې نۀ شو اندازه ورانه ده
دَ پښتنانۀ لالی نه هم خپله قیصه ورانه ده
اے دَ لوئې شان مالکه دَ درست جهان مالکه

www.pukhto.net

بې وسه خلق په دې پاتې ورځو شپو ژاړي

دَ کور په ور راته څهٔ بل قسم سړے ولاړ دے
زما خوښ نهٔ دے کهٔ څوک خپل او کهٔ پردے ولاړ دے
زما احساس ګوته په خوله دے لېونے ولاړ دے
دَ خوشحال خان تاریخ مې مخې ته ژوندے ولاړ دے
اے دَ لوئې شان مالکه دَ درست جهان مالکه
څوک دَ جومات په دالانهٔ څوک په حُجرو ژاړي

دا دې څوک نهٔ وائی چې اوس ورځې دَ مینې راغلې
دا دې څوک نهٔ وائی چې اوس ورځې رنګینې راغلې
اوښکې ئې وچې شوې په سترګو کښې ئې وینې راغلې
سر تور سرونهٔ ادېرې له ماه جبینې راغلې
اے دَ لوئې شان مالکه دَ درست جهان مالکه
سر تور سرونه په قبرونو دَ بچو ژاړي

راغلو خلقو دَ خپل ځانه سره سم راوړے
دَ پښتون کور له ئې دَ تولې نړۍ غم راوړے
توپک دې سر وخوری بچی له مې قلم راوړے
ما ورله فکر دَ دې خاورې دَ علم راوړے

www.pukhto.net

اے دَ لوئي شان مالکه دَ درست جهان مالکه
سرے حیرانؔ شی په راپورې دروازو ژاړی

کور مې وران شوے دے حُجره ورانه ده
اوس به دَ زړونو قبصې چرته کوؤ
دَ ناستې ځائې نشته ډېره ورانه ده
اوس به دَ زړونو قبصې چرته کوؤ

چیناران وچ شو چینې وچې شولې
دَ مازیګر نه پکښې ساه ووته
زندئ زندئ شو ماښامے دَ ژوندون
دَ روڼ سحر نه پکښې ساه ووته
جومات وران شوے مېخانه ورانه ده
اوس به دَ زړونو قبصې چرته کوؤ

چرته به ځمه خو چې چرته به ځم
دَ لارې مَل مې یو سرے نشته دے
خاونده ستا په دې خور وور جهان کښې
چرته زما دَ ناستې ځائې نشته دے
هره باره هره کوڅه ورانه ده

www.pukhto.net

اوس به دَ زړونو قبصې چرته کوؤ
راته په کور کښې کورکی جوړوی
دَ نن غاصب راته په وَر ولاړ دے
کۀ دَ خولې غږ وباسم سر مې وهی
دَ نن غاصب راته په سر ولاړ دے
قیصې ته غوږ نۀ ږدی قیصه ورانه ده
اوس به دَ زړونو قبصې چرته کوؤ

راځئ چې تول په رورولۍ راټول شو
چې یو بل خائې کړو په زړګو دننه
دَ نفاق غږ چې په کوم کور کښې ووشی
اوبۀ وچیږی په منګو دننه
دَ هر سړی دَ نیت کاسه ورانه ده
اوس به دَ زړونو قبصې چرته کوؤ

چې په دې خاوره سرې ګولۍ وریږی
په دې کښې اوس دَ کوم یو تن ګټه ده
چې ما په ورور او ورور په ما قتلوی
په دې کښې څه دَ دې وطن ګټه ده
دَ نوی دور فلسفه ورانه ده

www.pukhto.net

اوس به دَ زړونو قېصي چرته کوؤ
امن پکار دے خدايه امن غواړو
بدامنی مې تول ملت وژنی
دا چې مې وژنی او هم داد راکوی
هر څوک چې دے زما غېرت وژنی
حېرانؔ شوي فېصله ورانه ده
اوس به دَ زړونو قېصي چرته کوؤ

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

## نظم

(صنوبر حسین کاکاجي ته دَ عقیدت پېرزوني)

يو ليکوال وۀ کاکاجي يو لوئې رهبر وۀ
په رښتيا دَ هر پښتون دَ تنې سر وۀ

دَ دې خاورې وۀ دَ دې خاورې سپرلے وۀ
دَ خپل قام دَ درد وغمه لهونے وۀ
کاکاجي خو په سرو کښې يو سړے وۀ
دَ دې تولې پښتونخوا دَ قلعه وَر وۀ

په پښتو او په پښتون باندې مئين وۀ
بس دَ عدل په قانون باندې مئين وۀ
يو احساس وۀ په ژوندون باندې مئين وۀ
دَ دې تول انسانيت غم ئې په سر وۀ

هوښياران وائي دَ لوئې فکر څښتن وۀ
يو خواخوږے دَ خپل قام او دَ وطن وۀ
بس په نوم دَ آزادۍ باندې مئين وۀ

www.pukhto.net

په پښتون مئین په سمه او په غر وۀ
هر وګړے دَ خپل قام ئې پېژندلو
هر سړے دَ احترام ئې پېژندلو
مازیګر او سر دَ بام ئې پېژندلو
دَ ادب دَ دنیا هم یوه نغمه ګر وۀ

دا خو نۀ وه چې یو غم ئې راکاوۀ
محبت په هر قدم ئې راکاوۀ
دَ توپك په ځائې قلم ئې راکاوۀ
عام سړے نۀ وۀ حېرانهٔ صنوبر وۀ

یو لیکوال وۀ کاکاجی یو لوئې رهبر وۀ
په ربښتیا دَ هر پښتون دَ تنې سر وۀ

Pukhto.Net
www.pukhto.net

## نظم

(تور لالی بابا ته دَ عقیدت پېرزوني)

چا وې يواځې باجوړ دَ پښتونخوا وژړل
دَ تور لالی بابا په مرګ ټولې دنيا وژړل

دَ تور لالی بابا تاريخ ته افسانې ژاړي
په تور لالی بابا پسې جګې شملې ژاړي
دَ تور لالی بابا په مرګ به زمانې ژاړي
خپلو پردو وريسې يوشان په ژړا وژړل

يو تور لالی وۀ هر پښتون ئې لکه خان ګڼۀ
خان ئې سپاهی دَ پُښتنو دَ باچا خان ګڼۀ
هر يو پښتون ئې شهنشاه دَ دې جهان ګڼۀ
مونږه په زمکه مرغو بره په هوا وژړل

دَ تور لالی بابا عظمت ته دې سلام وی زما

www.pukhto.net

نوم به ئې تول عمر په خوله دَ احترام وی زما

دَ پتېکی ګل مې دے اتل چې دَ دې قام وی زما
پسې دَ عقل خاوندانو په رښتیا وژړل

زما دَ دې خاورې اتله په کوم لور لاړې
نوم به دې تول عمر ژوندے وی کهٔ تر ګور لاړې
لکه دَ مړو په شانې لا نهٔ ړې په شور لاړې
دا په ځان ژاړی کومو خلقو چې په تا وژړل

منزل نژدې دے خو پېښې غواړی مزل غواړی
په اندېښنو باندې کار نهٔ کیږی توکل غواړی
په خپله سپک شی چې درانهٔ څوك سپکول غواړی
حیرانهٔ ما دَ خپل مضمون په ابتدا وژړل
دَ تور لالی بابا پهٔ غم تولې دنیا وژړل

www.pukhto.net

## نظم
(پښت صلاح الدین خان ته دَ عقیدت پېرزوني)

څوك چي خفه شي نو دَ خولې نه ئې خبرې نهٔ څي
صلاح الدینه خلق څي خو دومره لرې نهٔ څي

تا وې غېرت به کوو قوم له عزت به ګټو
دې نوی نسل له پوره انسانیت به ګټو
دې پښتنو له ازادي ګټو عظمت به ګټو
هسې دَ سترګو نه مې اوښکې ملغلرې نهٔ څي

ستا په مرګي باندې خو دلته هر انسان وژړل
ستا په بې وسه مرګ ستا واړه خاندان وژړل
زما په خیال باندې خو زمکې او اسمان وژړل
ټول کائنات ژړېږي جالو له کوترې نهٔ څي

www.pukhto.net

دَ خپله ځانه وی خفه کهٔ دَ جهانه خفه
مخ دي هېڅچا ته راستون نهٔ کړو وي دَ چا نه خفه

داسي په څهٔ خبره وي دَ پښت خانه خفه
دَ زړهٔ دَ کوره مي اوس دا دَ غم جوړي نه ځي

دا په پښت کښي چي دَ مرګ تبه په تا راغله
دَ هر چا خولي له په خبرو کښي ژړا راغله
ستا جنازي له راروانه وه دنیا راغله
خلق ځي مړو له خو دغسي لښکري نهٔ ځي

زما پښتونه خانه تا پسي ارمان راځي
دا چي روڼونه مي دَ اوښکو په ګرېوان راځي
اوس چي راځي دلته نو چا له به حبرانؔ راځي
زما دَ خیال نه ستا خبري جادوګري نهٔ ځي
صلاح الدینه خلق ځي خو دومره لري نهٔ ځي

www.pukhto.net

## ټپېزه

یاره چې تلے ترې ستا غم دے
خالي مې پروت د زړګی چَم دے
زړهٔ مې په دې قلم قلم دے
دَ مینې یو تولګے عالم دے
دَ بېلتانهٔ سره دَ شام پورې فوخونه

www.pukhto.net

# دَ حېرانؔ په شاعرۍ يو څو خبرې

حېرانؔ صېب په اتمان خېل اسلام ډېرۍ کلي کښې زېږدلے دے. دَ پلار نوم ئې يار مولاخان دے ، دَ حېرانؔ صېب په ژوند کۀ زۀ تاسو ته خبرې شروع کړم دا کتاب دَ هغۀ دَ ژوند په خبرو ډك شي ، نو زۀ به تاسو ته دَ حېرانؔ صېب په شاعرۍ يو څو خبرې وړاندې کړم.

دا خبره دَ کانړي کرښه ده چې شاعر حساس وي او شاعري دَ الله د طرف نه يو ورکړه ده چا له چې ئې وغواړي ورئې کړي . شاعري نۀ په عقل ده او نۀ په تعليم . کۀ په تعليم وے نو حېرانؔ صېب به يو شعر هم نۀ وے جوړ کړے ځکه چې دَ حېرانؔ صېب تعليم نشته او نۀ ليکل کولے شي . خو شاعرۍ ته ئې چې وګورې نو ورته به حېران شې ، دَ حېران په شاعرۍ کښې دَ محبت ، ورورولۍ ، امن ، پښتو او ثقافت رنګونه تل لګه دَ اسمان دَ ستورو ښکاري. حېران صېب که په خپله تعليم نۀ دے کړے خو دَ قام بچو ته داسې وائي :

قلم راواخلئ په سينه پورې ئې کلك ونيسئ
دَ دۀ په وجه دَ ټوپك غُندې ناسور ورکيږي

www.pukhto.net

په دې شعر کښي حېرانؔ صېب په يوه مصرعه کښي قلم او په بله مصرعه کښي توپك ياد کړے دے ، قلم په سينه پورې کلك نيول دَ حېرانؔ صېب په دې شعر کښي ډېره ژوره معنىٰ پرته ده ، او په دغه معنىٰ کښي د امن رنګونه خلېږي ، او په بله مصرعه کښي ئې توپك ناسور ياد کړے دے . دَ توپك دَ ناسور نه مراد بد امنى ده او حېرانؔ صېب بد امنى نۀ خوښوى ، دَ دې شعر نه معلومېږي چې حېرانؔ صېب په ټوله نړۍ کښي امن غواړي.

او دَ امن په غوښتو غوښتو کښي حالاتو تر دې راورسؤ چې دَ خپل کتاب نوم ئې '' اوښکي اوښکي سترګي '' کېښودو . او دا ځکه چې دَ حالاتو دَ ناتاره خزان په وجه نۀ دَ چا سترګي اوښکو نه وچې شوې او نۀ يو ګُل چمن کښي پاتې شو ځکه حېرانؔ صېب په يو شعر کښي داسې وائى :

ستا تورو ځنو له دَ کوم خايه ګُلونه راورم
خزان ئې نه پرېږدى چې ګل ته پسرلے ورسى
دا څۀ چې کېږى دا دې يو پښتون ته چل جوړ دے
په دې قيصه دې کابلے او پېښورے ورسى

حېرانؔ صېب ټول پُښتانۀ کۀ هغه په کابل دى او کۀ په پېښور دى دَ شعر په ژبه پوهوى او خپله مينه ورته څۀ داسې ښرګندوى :

ما ته دواړه دَ يوۀ لاس ګوتې ښکارى
پُښتانۀ کۀ کابلى کۀ پېښورى دى

www.pukhto.net

په دې خپل وطن دَ خان په شان خوږېږي
که زما دَوطن پېغلې کۀ خلمی دی

او په بل ځائې کښې وائی :

حوصلې کلکې وساتئ زما دَ فن یارانو
پۀ خپل ستم به هم پخپله ستم ګر خوږېږي
حېرانؔ ولاړ یمه دَ کوم یو په سر لاس ونیسم
هلته کابل خوږېږي دلته پېښور خوږېږي

دَ حېرانؔ صېب ډېر شعرونه داسې دی چې دَ کابل او پېښور ذکر پکښې شوے دے . دَ دې نه معلومېږي چې حېران صېب په پښتو او پښتنو مئین سړے دے او دَ مینې اظهار ئې په هر طرف کړے دے کۀ هغه دَ وطن مینه ده او کۀ دَ انسان مینه ده ، شعر کښې ئې رنګینتی او فنی ښائست ځلا کوی.

لکه چې وائی :

یا خو مې دَ خان کړه یا په خان مې کړه
هر څنګه چې وی خو یو داستان مې کړه
تۀ راباندې ګرځه زمکه ښه یمه
نورو ته اوچت لکه اسمان مې کړه
ساه هم بغېر ستا دَ یاده نۀ اخلم
خان له خو دې نۀ کړم خو دَ خان مې کړه

www.pukhto.net

څنګه چې حېرانؔ صېب دَ خپلې خاورې او خپل اولس مينه په خپلو شعرونو کښې رانغښتې ده داسې ئې خپل ثقافت هم دَ خپلو شعرونو په رنګينو کښې رانغښتے دے ، لکه چې وائی:

مازيګر کۀ دَ بې مينو په لاس وَر شی
نۀ به پاتې شی منګے نۀ په ګُودر شی
په وطن چې مې دا سرې لمبې بليږی
څۀ به پاتې شی چينار څۀ به نښتر شی

يا

سترې شو قربان خبرې نۀ کوؤ
نورې دَ دوران خبرې نۀ کوؤ
هسې نه چې بل څوک ئې په پوزه کړی
څنګ به دَ پېزوان خبرې نۀ کوؤ

زۀ بۀ دَ حېرانؔ صېب څۀ صفتونه کوم ، نوَر په ګوته نۀ پتېږی ، او دَ نۀ تعليم په وجه زۀ دَ حېرانؔ صېب شاعرئ ته سلام کوم او نورې خپلې خبرې دَ حېرانؔ صېب په دې شعرونو راغونډوم:

دا چې زما سورے زما پل په کانو وولی
ټول ښکلی دَ خپلې لارې مَل په کانو وولی
اوښکې اوښکې سترګې دی چې کوم پښتون ته ګورم
دور ئې څۀ بل قسم دَ چل په کانو وولی

www.pukhto.net

الله دې کړی چې دَ دهٔ دا شاعری هم دغسې جاری پاتې شی او دَ خپل قام او دَ وطن مستقبل دَ شعرونو په رڼاګانو روښانه کړی۔آمین

په دېره مینه
سلطان یوسف سلطان
سرپرست اعلیٰ ادبي تولنه
۱۰ اکتوبر ۲۰۱۲ء

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net